مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

Journal Homepage: https://www.resaearch.salam.edu.af

سال هشتم، دور دوم، شماره ۴، خزان سال ۱۴۰۲هـ ش

# ماليات او حکم يې د شريعت په رڼا کې

# Taxation and Its Ruling in Islamic Sharia: A Comprehensive Analysis

DOI: 10.64104/SecondRound.Issue.4.n1.2023

پوهنوال ډاکتر مصباح الله عبدالباقی[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)

از صفحه ۶ تا ۱۰۹    تعداد صفحات: ۱۰۴    تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۱۰/۰۲

**لنډيز**

په دې څېړنه کې يوه ډېره مهمه موضوع څېړل شوې ده، او هغه د شريعت په رڼا کې د معاصر اقتصاد د نظر سره سم د مالياتو د اخيستلو حکم دی، د دې موضوع اهميت په دې کې دی چې په اړه يې متفاوت نظرونه شتون لري، له دې نظرونو څخه کوم نظر د شريعت سره اړخ لګوي او کوم نظر د شريعت سره اړخ نه لګوي؟

د دې لپاره چې د معاصر اقتصاد د نظر سره سم د مالياتو حکم د شريعت په رڼا کې وڅېړل شي نو بايد چې دا ډول ماليات په درست ډول وپېژنو، نو له دې امله په لومړي ځېرکي کې په لنډ ډول د معاصرو مالياتو د پېژندنې په اړه بحث شوی دی، تر څو پرې حکم کول ممکن شي، ځکه حکم په هغه څه کېدلی شي چې ماهيت يې مشخص وي. د معاصرو مالياتو د شرعي حکم د معلومولو په لړ کې دويمه قضيه چې څېړل يې اړين ؤ دا وه چې ايا اسلام د اسلامي دولت د بوديجې د تمويل لپاره معلومې سرچينې لري؟ ايا دا سرچينې توفيقي دي که توقيفي، په دې معنی چې په دې کې د اجتهاد مجال شته او که نه؟ او د هغو سرچينو څخه پرته نورې سرچينې په کې اضافه کېدلی شي چې په شرعي نصوصو کې يې يادونه شوې او که نه؟ د دې څېړنې په پايله کې جوته شوه چې شريعت يو لړ سرچينې د اسلامي حکومت د تمويل لپاره مشخصې کړې دي، خو له دې امله چې دا قضيه د معاملاتو سره تړاو لري، نو دا د اجتهاد مجال دی او دا سرچينې په همدې منصوصې سرچينو کې منحصرې نه دي، له همدې امله ګورو چې د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په خلافت کې نورې سرچينې هم په دې کې ور زياتې شوې دي، له دې امله دې پايلې ته ورسېدو چې که ماليه شرعي مانع ونه لري او د بوديجې د تمويل د سرچينې په توګه ترې کار واخيستل شي دا په دې ډګر کې د شريعت د طبيعت سره مخالفت نه لري. درېمه قضيه چې اړينه وه او

---

[1]. د شرعياتو پوهنځي استاد او د سلام پوهنتون رئيس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

باید چې څېړل شوی وی هغه دا وه چې د شریعت له نظره د دولت له لورې د اجباري مالیاتو د اخیستلو په مخ کې یواځینی شرعي مانع دا دې چې شریعت د چا په ملکیت کې د هغه له خوښې پرته تصرف کول ناروا ګڼي، او اجباري اخیستل همداسې یو تصرف دی.

څلورمه قضیه دا څېړل شوی چې د مالیې په مخ کې موجود شرعي خنډ (چې د خلکو له خوښې پرته د هغوی د مال اخیستل) څرنګه او په کومو حالاتو کې له منځه تللی شي؟ ځکه په کومو حالاتو کې چې دا خنډ له منځه ولاړ شي په هماغه حالاتو کې به د مالیې اخیستل جواز ولري، او په کومو حالاتو کې چې دا خنډ وجود ولري نو مالیه اخیستل به ناروا او نا درست وي.

د څېړنې په پای کې دې پایلې ته ورسېدو چې په لاندې دوه حالتونو کې دا خنډ له منځه تللی شي:

لومړی: د اضطرار حالت چې په دې حالت کې د شرعي ولایت لرونکی حکومت د خلکو د مال سره د مباح مال په توګه تعامل کولی شي.

دویم: په عادي حالاتو (غیر اضطراري حالاتو) کې د مالیې اخیستل یوازې هغه وخت جواز لري چې خلک په خپله خوښه د خپلو وکیلانو له لارې د مالیې د ورکولو وعده وکړي او دا وعده به ملزمه وعده وي، دویم دا چې د همدې وکیلانو له لارې د مالیې د ورکولو عقد وکړي، یعنې د حکومت او ولس ترمنځ د مالیې د ورکړې یو اجمالي عقد باید شتون ولري او بیا د هر کال لپاره هغه مقدار په تفصیلي توګه د یو تفصیلي عقد له لارې مشخص کړی شي چې د هر وګړي څخه به په کومو شرطونو څومره مالیه اخیستل کېږي.

نو مالیه د هېوادونو اړتیا ده، له دې څخه پرته حکومتونه او هېوادونه پرمخ نه شي تللی، خو مسلمان حکومتونه باید دا په هغه توګه واخلي چې د شریعت سره برابر وي، او په دې څېړنه کې همدا په ګوته شوی دی.

**کلیدي کلیمې: مالیات، شریعت، اقتصادی پالیسی، عقد**

## سریزه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين و على آله و أصحابه أجمعين، و بعد.

د مالیاتو د اخیستلو قضیه له هغو قضیو څخه ده چې په اړه یې بېلابېل نظریات شتون لري، یو شمېر پوهان تصور لري چې مالیه هماغه «مَکس» دی چې په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: "لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ مَكْسٍ الْجَنَّةَ"[2]. د مالیې د راټولولو مسؤول به جنت ته لاړ نه شي.

یو شمېر نور پوهان د بېلابېلو فقهي اسنادو پر بنسټ دا په مطلقه توګه صحیح او روا ګڼي، نور پوهان دا په ځینو حالاتو کې روا ګڼي، په ځانګړې توګه کله چې هغه موانع او خنډونه نه وي چې په شرعي نصوصو کې راغلي دي او د هغه اصولو او مقاصدو سره په ټکر کې نه وي چې شریعت د مال لپاره ټاکلي دي، خو په نورو حالتونو کې یې بیا روا نه ګڼي.

له دې بېلابېلو نظریاتو څخه کوم سم دي؟ د مالیې حکم څه دی؟ په کوم وخت او شرایطو کې د حکومت او نظام لپاره د مالیې (ټېکس) اخیستل روا او په کوم وخت کې ناروا دي؟ د شریعت په رڼا کې د دې حکم څېړل له دې امله هم اړین دي

[2] - السنن الكبرى (7/ 26) تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، خپروونکې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات، درېم چاپ، كال 1424 هـ - 2003 م.

چې په اوسنيو شرايطو کې په هېواد کې چې له يوې خوا خلک د فقر او غربت سره مخامخ دي، د خپلو اولادونو لپاره د يوې مړۍ ډوډۍ د پيدا کولو توان نه لري نو له بلې خوا د افغانستان اسلامي امارت خپلو مجبوريتونو ته متوجه دی او له دوی څخه ماليه غواړي او بېلابېل ټېکسونه (ماليات) ترې راټولوي. دا که له يوې لورې د خلکو لپاره ستونزې جوړوي له بل پلوه په اقتصادي فعاليتونو منفي اغېز کوي. د دې تر څنګ په دې اړه د شريعت له نظره د دې ډول کړنو حکم معلومول هم اړين دي چې دا کار خو د شريعت سره په ټکر کې نه دی؟ په ورته وخت کې د ماليې مطلق ناروا بلل هم هېوادونه د ستونزو سره مخامخ کوي، نو دې حقيقتونو ته په کتلو د دې اړتيا ده چې د ماليې حکم د شريعت د اصولو او شرعي نصوصو په رڼا کې وڅېړل شي تر څو په دې ميدان کې يو اسلامي حکومت په بصيرت سره د شريعت د احکامو په رڼا کې حرکت وکړي.

**د بحث حدود او اړوند موضوعات**

د ماليې د حکم د معلومولو لپاره اړينه ده چې په پيل کې د ماليې (ټېکس) په حقيقت باندې ځان پوه کړو چې آيا د ماليې (ټېکس) طبېعت د اسلام د طبېعت سره اړخ لګوي که نه؟ او دا ځکه چې اهل علم وايي: "الحکم على الشيء فرع عن تصوره" په يو شي باندې حکم د هغه د تصوري حقيقت په ذهن کې د را استحضار کولو فرعه ده او تر څو چې اصل شتون ونه لري، د فرعې شتون ممکن نه دی.

له دې امله چې موږ د مطلقې ماليې په اړه څېړنه نه کوو، بلکې موږ د هغه ماليې په اړه د شريعت د حکم د معلومولو هڅه کوو چې په معاصر اقتصادي فکر کې ورته ماليه ويل کېږي او ټول هېوادونه ترې د خپلې بوديجې د تمويل لپاره استفاده کوي، له دې امله دا اړينه ده چې موږ په معاصر اقتصادي فکر کې د ماليې په حقيقت ځان پوه کړو.

په معاصر اقتصادي فکر کې ماليه په حقيقت کې د مالياتي سياست برخه ده. دغه مالياتي سياست څه شی دی او ولې د يو نظام څخه بل نظام ته توپير لري؟ په اسلامي اقتصادي فکر کې مالياتي سياست څه ته ويل کېږي؟ او د شرعي نصوصو په رڼا کې د دې مالياتي سياست عناصر څه دي؟ عملاً دا مالياتي سياست څه پاتې شوی دی؟ آيا د معاصر اقتصادي نظام ماليه د اسلام د مالي نظام او بيا د اسلامي مالياتي سياست سره اړخ لګوي او که نه؟

دا او داسې نورو پوښتنو ته د ځواب د پيدا کولو په پايله کې موږ د اسلامي حکومت له لورې د ماليې (ټېکس) د لګولو د جواز او عدم جواز حکم ته رسېدلی شو، نو په دې لنډه ليکنه کې به همدې او دې ته ورته پوښتنو د ځواب لټولو کوښښ کوو.

**د بحث او څېړنې تګلاره**

دې پوښتنو ته د ځواب لټولو لپاره به موږ د بېلابېلو تګلارو څخه ګټه اخلو. څه به وصفي تګلاره ايجابوي، څه به تحليلي او استنباطي تګلاره ايجابوي او په څه قضيو کې به د مقايسوي تګلارې څخه استفاده کوو.

موږ په پيل کې د دې هڅه کړې چې دا معلوم کړو چې د حکومت له پلوه د ماليې اخيستل د شريعت له نظره په خپل ذات کې ستونزه لري او که د کوم علت له امله يې اخيستل ناروا دي[3]، د دې خبرې د څرګندولو لپاره د دې اړتيا وه چې موږ په شريعت کې د مال اړوند عمومي احکام وڅېړو چې دا وګورو چې ماليه د دې احکامو په کوم ځای کې قرار لري، نو د څېړنې په پايله کې معلومه شوه چې د ماليې د ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړنه دا ده چې د دولت له لورې په جبري ډول اخيستل

[3] - د اصول فقهې په اصطلاح کې دې ته "النهي عن الشيء لذاته أو النهي عنه لغيره" ويل کېږي.

کېږي، چې همدا ځانګړتیا یې د شریعت سره په ټکر کې ده، ځکه چې اسلام د چا مال د هغه له خوښې پرته اخیستل ناروا ګڼي.

دویمه قضیه چې څېړل یې اړین ؤ دا وه چې ایا اسلام د اسلامي دولت د بودیجې د تمویل لپاره معلومې سرچینې لري؟ ایا دا سرچینې توفیقي دي که توقیفي[4]، په دې معنی چې په دې کې د اجتهاد مجال شته او که نه؟ او د هغو سرچینو څخه پرته نورې سرچینې په کې اضافه کېدلی شي چې په شرعي نصوصو کې یې یادونه شوې او که نه؟ د دې څېړنې په پایله کې جوته شوه چې شریعت یو لړ سرچینې د اسلامي حکومت د تمویل لپاره مشخصې کړي دي، خو له دې امله چې دا قضیه د معاملاتو سره تړاو لري، نو دا د اجتهاد مجال دی او دا سرچینې په همدې منصوصي سرچینو کې منحصرې نه دي، له همدې امله ګورو چې د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په خلافت کې نورې سرچینې هم په دې کې ور زیاتې شوې دي، له دې امله دې پایلې ته ورسېدو چې که مالیه شرعي مانع ونه لري او د بودیجې د تمویل د سرچینې په توګه ترې کار واخیستل شي دا په دې ډګر کې د شریعت د طبیعت سره مخالفت نه لري.

درېیمه قضیه چې اړینه وه او باید چې څېړل شوی وی هغه دا وه چې د مالیې په مخ کې موجود شرعي خنډ (چې د خلکو له خوښې پرته د هغوی د مال اخیستل) څرنګه او په کومو حالاتو کې له منځه تللی شي؟ ځکه په کومو حالاتو کې چې دا خنډ له منځه ولاړ شي په هماغه حالاتو کې به د مالیې اخیستل جواز ولري. د څیړنې په پای کې دې پایلې ته ورسېدو چې هغه دوه حالتونه کېدلی شي:

لومړی: د اضطرار حالت[5] چې په دې حالت کې د شرعي ولایت لرونکی حکومت د خلکو د مال سره د مباح مال په توګه تعامل کولی شي.

دویم: په عادي حالاتو (غیر اضطراري حالاتو) کې یوازې هغه وخت دا کار ممکن دی چې خلک په خپله خوښه د خپلو وکیلانو له لارې د مالیې د ورکولو وعده وکړي او دا وعده به ملزمه وعده وي، دویم دا چې د همدې وکیلانو له لارې عقد وکړي، یعنې د حکومت او ولس ترمنځ د مالیې د ورکړې یو اجمالي عقد باید شتون ولري او بیا د هر کال لپاره هغه مقدار په تفصیلي توګه د یو تفصیلي عقد له لارې مشخص کړی شي چې د هر وګړي څخه به په کومو شرطونو څومره مالیه اخیستل کېږي.

## په دې اړه مخکېنی څېړنې

په دې اړه مخکې ډېرې لیکنې شوي دي، چې د نومونو یادونه یې د بحث د اوږدېدو لامل ګرځي، زه دلته یوازې دا وایم چې په کوم ډول چې په دې بحث کې د مالیاتو (ټېکسونو) قضیه څېړل شوې ده، په بله هیڅ څېړنه کې مې نه ده تر سترګو شوې، ځکه کومې څېړنې چې زما له نظره تېرې شوي دي، په لاندې توګه یې لنډېز وړاندې کوم:

**لومړی:** هغه څېړنې چې د صدقې او خېرات، خېر او ښېګڼې په اړه راغلي، نصوص یې د مالیې لپاره بنسټ ګرځولی، تصور یې دا وړاندې کړی چې د زکات څخه پرته په مال کې نور واجب حقوق هم شته، چې دا په حقیقت کې یو څو تابعینو ته منسوب مذهب دی او معنی یې هم هغه نه ده چې د مالیې د فرضیت او لزوم لپاره دې ترې استدلال وشي، ځکه د معاصرې

[4] - دلته د توفیقي معنی دا ده چې د الله په توفیق او د انسانانو په اجتهاد یې حکم معلومول ممکن وي، او توقیفي دې ته ویل کېږي چې شریعت مشخص کړی وي او د انسان اجتهاد ته په کې ځای نه وي.

[5] - په دې اړه تفصیلي بحث وروسته راځي.

مالیې (ټېکس) ځانګړتیاوې په دې کې نه شي راتلای، همدا راز دا ټولنیز او یا هم کفایي وجوب او حق دی، چې کله په یوه ټولنه کې د لوږې له امله ځوک تلف کېږي او په سختو ستونزو کې وي پر هغه ټولنه باندې کفایي فرض دي چې دې ته باید ورسېږي، چې دا د ټېکس (مالیې) څخه جلا یو بل مسؤولیت دی، نو ځکه دا د ټېکس (مالیې) بنسټ نه شي ګرځېدلی، دا قضیه په دې څېړنه کې په ضمني توګه، خو په تفصیل سره څېړل شوې ده.

**دویم:** هغه ډول څېړنې دي چې د مالیې تر سرلیک لاندې یې هغه سرچینې څېړلي دي چې د معاصرې مالیې سره هیڅ تړاو نلري، لکه زکات، خراج، جزیه او نور... د بېلګې په توګه د «النجاح الوطنیة» فلسطین په پوهنتون کې د ماسترۍ بحث چې د «النظم الضریبیة بین الفکر المالي المعاصر والفکر الإسلامي دراسة تحلیلیة مقارنة» تر سرلیک لاندې سمر عبد الرحمن محمد الدحلة د دکتور هشام جبر تر لارښوونې لاندې لیکلی، دا ډول بحثونه د لنډو مقالو په شکل کې هم ډېر لیکل شوي او د کتابونو په شکل کې هم لیکل شوي دي، خو ټول یوازې پر دې را څرخېږي چې په اسلام کې مالیه شته او بیا دا مخکې سرچینې څېړي او ځینې وخت د دې سرچینو او په ځانګړې توګه د زکات او په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې ترمنځ مقایسه هم کوي، خو دا ډول بحثونه زموږ د بحث سره تړاو ځکه نه لري چې موږ د دې معاصرې مالیې (ټېکس) په اړه د شریعت د حکم په لټه کې یو.

**دریم:** بل ډول څېړنې چې د مالیې په اړه شوي دي یوازې یو ډول مالیه او ټېکس یې بحث کړی چې زموږ پخوانیو فقهاوو یې یادونه کړې ده، چې موږ په دې بحث کې د اضطراري مالیې عنوان ورکړی او هغه بل ډول مالیه چې موږ ورته عادي مالیه او یا په عادي او غیر اضطراري حالاتو کې مالیه ویلې، هیڅ بحث نه دی کړی. په حقیقت کې همدا هغه مالیه ده چې د معاصر اقتصادي فکر له لورې مالیه او ټېکس بلل کېږي، چې تراوسه پورې یې په اړه څېړنه نه ده شوې، نو دا څېړنه همدغه تشه ډکوي.

**څلورم:** یو ډول بحثونه هغه دي چې تصور یې دا دی چې زکات د مالیې (ټېکس) ځای ناستی کېدلی شي، د مالیې (ټېکس) د اخیستلو پر ځای باید د زکات نظام تطبیق کړی شي چې همدا کفایت کوي. په یو شمېر څېړنو کې همدا تصور وړاندې شوی دی. زه په دې څېړنه کې په دې خبره نه کوم چې په فني توګه زکات د مالیې ځای نیولی شي او که نه؟ بلکې زما د څېړنې محور دا دی چې که یو اسلامي حکومت وغواړي چې د زکات ترڅنګ د مالیې (ټېکس) نظام هم فعال کړي، نو طریقه به یې څه وي؟ ایا دا کار به ورته جواز ولري؟ او که جواز ولري، نو په کومو حالاتو کې به جواز ولري؟.

په دې څېړنه کې د دې هڅه شوې چې په دقت سره د څېړنې اړوند قضیې وڅېړل شي او د شریعت د نصوصو سره سم یې په اړه قضاوت صورت وموني، خو بیا هم هیڅ انساني کار د خطا او غلطۍ څخه پاک نه وي، نو که په دې کې د حق خبره وي هغه به د الله تعالی په توفیق ممکنه شوې وي او که غلطۍ او خطاګانې په کې وي، نو هغه به د انساني تقصیر پایله وي او د الله تعالی شریعت له هغوی څخه پاک دی، خو هیله مې د محترمو لوستونکو دا ده چې د تعاون علی البر والتقوی پر بنسټ خپل رغنده نظریات د لیکوال سره شریک کړي.

## لومړۍ څپرکی: په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې پېژندنه

مالیه په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیاتي سیاست یا مالیاتي پالیسۍ (Fiscal Policy) برخه ده او مالیاتي سیاست یا مالیاتي پالیسي بیا د اقتصادي سیاست یا اقتصادي پالیسۍ برخه ده. دلته په لنډه توګه د دغه اصطلاحاتو معنی او مفهوم روښانه کوو.

**لومړی: اقتصادي پالیسي**

اقتصادي پالیسي یا اقتصادي سیاست په حقیقت کې په اقتصادي ژوند کې د دولت د مداخلې یوه لاره ده، چې ځینې وختونه په ځانګړو برخو کې د دولت مداخلې ته ویل کېږي، چې دا یې خاص مفهوم دی. له دې اړخه یې اقتصاد پوهان داسې تعریفوي: دا د دولت له لورې هغه مستقیمې مداخلې ته ویل کېږي چې په اقتصادي نظام کې د بنسټیزو اقتصادي متغیراتو لکه تولید، کارموندنې او پانګونې د کنټرول له لارې سرته رسېږي[6].

د دې معنی دا ده چې د تولید، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او پانګونې په اړه چې کومې ځانګړې پرېکړې او پالیسۍ په دې موخه د دولت له لورې رامنځته کېږي چې د هېواد اقتصاد هغه ځانګړي لور ته سوق او رهبري کړي چې دولت یې غواړي، دې ته اقتصادي سیاست یا اقتصادي پالیسي ویل کېږي.

یو شمېر اقتصاد پوهان بیا د اقتصادي پالیسۍ مفهوم ته پراختیا ورکوي او په پورته یادو شوو درې قضیو کې د دولت او حکومت په مداخلې او په دې اړه جوړو شویو پالیسیو کې یې نه منحصروي، بلکې د اقتصاد په اړه د حکومت د ټولو پالیسیو ټولګه او مجموعه یې بولي، نو دوی یې تعریف داسې کوي: اقتصادي پالیسي هغو ټولو پرېکړو او سیاستونو ته ویل کېږي چې دولت یې د اقتصادي او ټولنیزو ټاکلو موخو د لاسته راوړلو لپاره په لاره اچوي تر څو د دې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د هغه وسایلو څخه چې ټولنه یې په واک کې لري بهتر او مناسب وسایل انتخاب کړي او د دې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو غوره تګلارې ولټوي، دې ډول ټولو پرېکړو او پالیسیو ته اقتصادي سیاست وایي[7].

دا تعریف را په ګوته کوي چې اقتصادي پالیسي یا اقتصادي سیاست لاندې عناصر لري:

- ټولنیزې او اقتصادي موخې ټاکل؛
- د دې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره په لاس کې د شته وسایلو څخه تر ټولو غوره وسایل انتخابول؛
- د دې تر څنګ د هغه تګلارو انتخاب چې په ښه توګه د ټاکلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو غوره او اغیزمنې وي؛

په دې توګه اقتصاد پوهانو د عام اقتصادي سیاست او پالیسۍ لپاره لاندې ډګرونه ټاکلي دي، په دې ډګرونو کې د یو مشخص وخت لپاره ځانګړې پالیسۍ او سیاستونه د عام اقتصادي سیاست عناصر بلل کېږي:

- مالیاتي سیاست (Fiscal Policy)
- نقدي سیاست (Monetary policy)
- د نړیوالې سوداګرۍ اړوند پالیسۍ او د تأدیاتو توازن او انډول ساتل.
- د پانګونې اړوند سیاستونه او پالیسۍ (Investment policies)
- د جوړښتونو د سمون سیاستونه او پالیسۍ[8].

---

[6] - د دې تعریف لپاره وګورئ: النظریة الاقتصادیة، ص ۷ تالیف: دکتور احمد جامع، خپرووونکې اداره: دار النهضة، څلورم چاپ، کال ۱۹۸۴م.

[7] - معجم المصطلحات الاقتصادیة، ص ۸۳، احمد زکي بدوي، دار الکتاب المصري، کال ۱۹۸۵م.

[8] - السیاسات الاقتصادیة، ص ۳۱، عبد المطلب عبد المجید، مجموعة النیل العربیة، مصر، لومړی چاپ کال ۲۰۰۳م، د جوړښتونو د سمون د پالیسۍ معنی دا ده چې د هېواد اقتصادي جوړښتونه په داسې توګه عیار شي چې د نړیوال اقتصادي چاپېریال سره اړخ ولګوي او دا سمون ټولو اقتصادي ډګرونه تر اغېز لاندې راولي او دا کار باید په دوره یي شکل سرته ورسېږي.

د اقتصادي سياست اهداف بدلېږي را بدلېږي چې نهايي هدف يې په ملي کچه د رفاهيت او اقتصادي خوشحالۍ رامنځته کول دي او د اقتصاد پوهانو ترمنځ تقريباً په دې اتفاق دی چې دا نهايي هدف د دې څلورو فرعي اهدافو د تحقق له لارې ترلاسه کېدلی شي چې د انګليستاني اقتصاد پوه نيکولاس کالدور په جادويي مربع مشهور دي او هغه دا لاندې څلور معيارونه دي:

- د انفلاسيون کنټرول؛
- په هېواد کې داقتصادي ودې لوړه کچه ترلاسه کول (Achieving high growth rate)؛
- په هېواد کې کاري فرصتونه پيدا کول او بې کاري له منځه وړل؛
- د تأدياتو توازن او انډول ساتل (Balance of Payments).

**دويم: مالياتي پاليسي يا مالياتي سياست**

**د مالي پاليسۍ پخوانی مفهوم**

لکه څرنګه مو چې د اقتصادي پاليسۍ په عناصرو کې ولوستل چې په معاصر اقتصادي فکر کې مالياتي پاليسي د اقتصادي پاليسۍ يو بنسټيز عنصر او يوه مهمه برخه تشکيلوي. اوس په دې بحث کوو چې مالياتي پاليسي يا مالياتي سياست څه ته وايي؟ څکه له دې څخه موږ د ټېکس په حقيقت ځان پوهولی شو او دا درک کولی شو چې ماليه په معاصر اقتصادي فکر کې څه رول لري، د څه لپاره وضع کېږي او د څه لپاره راټولېږي؟ او ايا دا د اسلامي شريعت د مالي پاليسۍ سره اړخ لګوي او که نه؟

مالي پاليسي چې په انګليسي کې ورته (Fiscal Policy) ويل کېږي، په اصل کې د فرانسوي ژبې د «Fisc» د کلمې څخه اخيستل شوې ده، چې لغوي معنی يې د پيسو بټوه، بيت المال او خزانه ده. اصطلاحي تعريف يې هم له همدې څخه اخيستل شوی دی.

په پخوانيو وختونو کې د مالي پاليسۍ مفهوم ډېر محدود و او دا څکه چې د دولت او حکومت مسؤوليتونه محدود وو. مالياتي پاليسي په دې کې را خلاصه کېدله چې يو هېواد د خپلو عايداتو څخه څرنګه خپل ضروري عام مصارف پوره کړي او عامو مصارفو د هغو مسؤوليتونو سره تړاو درلود چې دولت او حکومت په هغه وخت کې پر غاړه درلودل، دا مسؤوليتونه د داخلي امنيت، د خپل هېواد څخه د تجاوز په مقابل کې دفاع او د يو څو نورو عمومي کارونو څخه عبارت وو او د دې مسؤوليتونو د سرته رسولو لپاره ډېرو زياتو مصارفو ته اړتيا هم نه وه، له همدې امله دولتونه هم د ډېرو مواردو په لټه کې نه وو. عموماً مالياتي پاليسي په دې کې را خلاصه کېدله چې ارقام سره مساوي کړی شي، مصارف د مواردو او عوايدو څخه زيات نه وي، د مالي پاليسۍ کوم بل هدف نه وه، نه يې د هېواد د اقتصاد سره کوم تړاو درلود او نه يې د ټولنيزو او سياسي اهدافو سره کوم سر او کار درلود، دا حالت د لومړي او دويم نړيوال جنګ پورې همداسې پاتې شو او ادامه يې پيدا کړه.

**د مالي پاليسۍ په مفهوم کې د بدلون لاملونه**

کله چې د لومړي او دويم نړيوال جنګ نه وروسته داسې لاملونه رامنځته شول چې د مالياتي سياست په مفهوم کې يې د بدلون غوښتنه کوله، نو په پايله کې يې د مالياتي سياست يا مالي پاليسۍ نوی مفهوم رامنځته شو، دا لاملونه او بدلونونه د دولت او حکومت په دندو کې هم د بدلون لامل وګرځېدل، چې په پايله کې يې د مالياتي سياست په مفهوم کې هم بدلون رامنځته شو. دا لاملونه او بدلونونه په لاندې ډول وو:

### ۱: سیاسي لاملونه

په معاصر وخت کې د دولت او حکومت رول، د دولتي مؤسساتو او د دولت د دستوري جوړښتونو پرمختګ او هغه بدلونونه چې د نویو سیاسي نظریاتو په پایله کې د دولت په جوړښت او مسؤولیتونو کې رامنځته شول، دا ټول د دې لامل شول چې د مالیاتي سیاست په مفهوم کې بدلون رامنځته شي، ځکه چې د دې سیاسي نظریاتو په پایله کې دا د دولت مسؤولیت وګڼل شو چې باید له یو پلوه د هېواد د وګړو اقتصادي، ټولنیز او د ژوند د شرایطو په بهتر کولو کې باید مداخله وکړي او له بل پلوه د دیموکراسۍ په مفهوم کې پراختیا رامنځته شوه، په دې ګونو قواوو کې د زیاتو خلکو د مشارکت غوښتنه، د اساسي قوانینو د جوړېدو نه وروسته د دستوري او سیاسي جوړښتونو او مؤسساتو د رامنځته کېدو او د دې مؤسساتو فعالول او فعال ساتل، همدا راز د دولتي او اداري وظایفو د رامنځته کېدو په پایله کې د دولتونو او حکومتونو مصارف زیات شول او د دې مصارفو زیاتېدل په طبیعي توګه د عوایدو د زیاتوالي غوښتنه کوي تر څو دا مصارف پوره کړی شي، چې دې ټولو موضوعاتو د مالیاتي سیاست په مفهوم کې د بدلون غوښتنه کوله.

### ۲: نظامي لاملونه

د دویمې نړیوالې جګړې په پایله کې هېوادونه دې ته اړ شول چې په جدیت سره د نظامي ځواکونو پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه وکړي، په داسې وسلو یې سنبال کړي چې هیڅ هېواد پرې تیری ونه کړی شي، د دې لپاره هېوادونه اړ شول چې ستر نظامي ځواکونه جوړ کړي او روزنه ورکړي، همدا راز د دې نظامي ځواکونو د اړتیا وړ جنګي وسایل ورته د هېواد په دننه کې جوړ کړي او یا یې له بهر څخه په بیه واخلي چې دا ټول د دې لامل شول چې د هېوادونو مصارف زیات شي او د مصارفو د زیاتوالي په پایله کې د عوایدو او مواردو د زیاتوالي او پراختیا په لټه کې شول، چې دې کار د مالیاتي سیاست په بدلون کې لویه ونډه درلوده.

### ۳: اقتصادي لاملونه

په نړۍ کې د اقتصاد د پرمختګ او اقتصادي حالت د ښه کولو لپاره وسایلو پرمختګ ومونده، د بحث او تحقیق میدان د نورو مصارفو غوښتنه درلوده، ټکنالوژۍ پرمختګ وکړ او حکومتونه اړ شول چې د ژوند په ټولو برخو کې د ښه اقتصادي فعالیت په موخه له دې ټکنالوژۍ څخه استفاده وکړي، چې دې سره د دولتونو مصارف پورته لاړل.

له بله پلوه د اقتصادي ستونزو د رامنځته کېدو په پایله کې په ټولنه کې څه ستونزې او ټولنیزې نا انډولۍ رامنځته شوې، لکه د ثروت په توزیع کې نا انډولي، د افرادو په عوایدو کې فاحش تفاوتونه، د بې روزګارۍ زیاتوالی، د قیمتونو لوړېدل، انفلاسیون، د بازارونو سړېدل، او د پېر او پلور نه موجودیت او نورې داسې ستونزې چې کله رامنځته شوې، دولتونه اړ شول چې د دې ستونزو د له منځه وړلو او کنټرول لپاره داسې مناسب بدیلونه او حللارې وړاندې کړي چې د هغوی د اقتصادي او ټولنیزو حالاتو سره اړخ لګوي، له دې سره د مالیاتي سیاست په اهدافو کې یو بل هدف هم ور زیات شو او هغه د دې اقتصادي او ټولنیزو ستونزو لپاره د حل لارو لټول وو.

د دې لاملونو په پایله کې حکومتونه اړ شول چې په امورو کې مداخله وکړي او داسې اقتصادي او مالیاتي سیاستونه خپل کړي چې د دې ستونزو په حل کې مؤثر رول لوبولی شي، له دې یوه هم د بودیجې وسیله وه، دا د انفلاسیون، د بازارونو د سړېدلو ، د ثروت د نا انډوله توزیع او داسې نورو ستونزو د حل لپاره د یوې مؤثرې وسیلې په توګه په کار اچول پیل شول.

## ۴: ټولنیز لاملونه

د دویم نړیوال جنګ څخه وروسته په ټولنو کې ټولنیزې ستونزې زیاتې شوی، ټولنې د بد کورني حالت سره مخامخ شوې. د صحت، تعلیم، اقتصاد او نورو ټولنیزو چارو کې د ټولنې حالات خراب شول، د دې حالاتو سمول او په دې مېدانونو کې د ټولنې بد وضعیت ښه کول د دولت مسؤولیت وګڼل شو، او حکومتونه او دولتونه د دې حالاتو د سمولو لپاره او د هېواد د وګړو د ژوند د سویې د پورته کولو او لوړ ساتلو لپاره د مصارفو لوړولو ته اړ شول او د مصارفو د لوړېدو له امله د زیاتو عوایدو په لټه کې شول.

لنډه دا چې پخوا مالیاتي سیاست او مالي پالیسۍ ډېر پیچلی مفهوم نه درلود ځکه چې دا د دولت د عوایدو او مصارفو د توازن نوم و او د دولت مسؤلیتونه ډېر پراخه نه وو او دولت په ډېرو شیانو کې مداخله نه درلوده او نه یې ډېره مسؤولیتونه پر غاړه وو، هلته همدومره کوښښ کېده چې مصارف د عوایدو څخه زیات نه شي او د عوایدو او مصارفو ارقام سره مساوي وي او یا هم مصارف له عوایدو څخه کم وي، خو کله چې حالات بدل شول او د حکومت او دولت د مسؤولیتونو دایره پراخه شوه، نو د مالیاتي پالیسۍ په مفهوم کې بدلون رامنځته شو، ځکه په دې کې د نورو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل او ټولنیزو اهدافو د لاسته راوړلو اهداف هم شامل شول[9].

له همدې امله اقتصاد پوهان د دې پرمختګونو څخه وروسته د مالیاتي سیاست یا پالیسۍ تعریف داسې کوي: «د دولت له لورې د خپلو عایداتو او مصارفو څخه داسې استفاده کول چې د خپلو عقایدو په چوکاټ کې خپل اقتصادي، سیاسي او ټولنیز اهداف ترې په داسې توګه ترلاسه کړي چې خپل وسایل او امکانات هم په پام کې ولري او خپل اقتصادي وده او د پرمختګ حالت هم په نظر کې وساتي»[10].

څه خلک وایي چې مالیاتي سیاست او یا مالیاتي پالیسي هغه پروګرام ته ویل کېږي چې دولت یې پلان کوي او د خپلو عایداتو د مصادرو او د مصارفو د مواردو څخه په استفادې سره د اقتصادي، ټولنیز او سیاسي فعالیت په ټولو متغیراتو مطلوبې اغېزې ایجاد او د غیر مطلوبو اغېزو مخنیوی وکړي تر څو په پایله کې یې د ټولنې اهداف او موخې ترلاسه شي.

همدا راز څه خلک یې په تعریف کې وایي چې مالیاتي سیاست یا مالیاتي پالیسي هغه فعالیتونو، سیاستونو او تدبیرونو ته ویل کېږي چې دولت یې په بشپړ مؤثریت سره د خپل مالي فعالیت د اداري لپاره ترسیموي تر څو د وخت په یو ټاکلي موده کې ټاکلي اهداف او موخې ترلاسه کړي[11].

د دې ټولو تعریفونو څخه چې د مالیاتي سیاست په اړه کوم مفهوم لاسته راځي هغه دا دی چې کوم پروګرام چې حکومت او دولت یې د یوې ټاکلې مودې لپاره ټاکي چې د دولت د عوایدو او د عامو مصارفو د ځانګړي تنظیم له لارې د دولت ځانګړي اهداف ترې ترلاسه شي، دې ته مالیاتي سیاست ویل کېږي.

دا اهداف د دولت د معتقداتو د بدلون په پایله کې د یو هېواد څخه بل هېواد ته او د یو حکومت څخه بل حکومت ته بدلون مومي، د یو داسې حکومت چې په اشتراکي اقتصادي نظام باندې عقیده لري هلته د دولت مسؤولیت او هدف یو څه

---

[9] - د مخکینیو معلوماتو لپاره وګورئ: المالیة العامة والتشریع الضریبي ص ۱۲ او له دې وروسته، د دکتور أعاد حمود القیسي لیکنه، د دار الثقافة للنشر والتوزیع د خپرونو څخه، نهم چاپ کال ۲۰۱۵م.

[10] -السیاسات المالیة ص ١٦، حامد عبد الحمید دراز، الدار الجامعیة، الاسکندریة ـ مصر، ۲۰۰۲م.

[11] - السیاسات الاقتصادیة ص ۱۳، عبد المطلب عبد الحمید، مخکینی مرجع، دا پورته دواړه تعریفونه له همدې مرجع څخه اخیستل شوي دي.

وي، په لیبرال دیموکراسیو کې د حکومت مقاصد څه نور ټولنیز اهداف او موخې لري، خو په عامه توګه هېوادونه او دولتونه دا لاندې اهداف په مخ کې لري:

1. اقتصادي استقرار؛
2. پرمختګ او انکشاف؛
3. د ثروت عادلانه توزیع؛
4. د اقتصادي فعالیت مؤثره او مثبته توجیه؛
5. د انفلاسیون او بازارونو د سړېدو او د توکو د کم پیر او پلور علاج او را کمول؛
6. د محلي تولید حمایت او داسې نور...

**د مالي پالیسۍ عناصر**

د مالي پالیسۍ بنسټیز عناصر لاندې موارد تشکیلوي:

**لومړی عنصر: اهداف او موخې**

مالیاتي پالیسي په یوې ټاکلې مودې کې د ځانګړو اهدافو او موخو د لاسته راوړلو لپاره طرحه کېږي او لکه په تېره فقره کې مو چې ورته اشاره وکړه دا اهداف د وخت، هېواد او حکومت په بدلون سره بدلیږي، ځکه دا اهداف د اړتیاوو، د حالاتو د غوښتنو او سیاسي او ټولنیزو تصوراتو او نظریاتو د بدلون په پایله کې بدلیږي، یو لړ اهدافو ته مو په تېره فقره کې اشاره وکړه، دا اهداف د لاندې دوو عناصرو څخه ترلاسه کېږي.

**دویم عنصر: عمومي دولتي مصارف**

عام مصرف یا دولتي مصارف هغه ټولو نقدي مصارفو ته ویل کېږي چې یو عام (دولتي) جهت یې د عامو (ملي) اړتیاوو د پوره کولو لپاره په مصرف رسوي، دې ته عمومي مصارف ویل کېږي[12].

په دې کې درې عناصر مهم دي، لومړی، د مصرف شکل (دا وویل شول چې دا به نقدي مصرف وي) دویم، د مصرف جهت به عام جهت وي، یعنی دولتي جهت باید وي، که نقد مبالغ مصرفېږي، خو د یو عادي شخص له لورې هغه عمومي مصرف نه بلل کېږي، دریم، د دې مصرف هدف باید عمومي وي او د هېواد د عامو وګړو د اړتیاوو د پوره کولو او د ټولنې د عام المنفعة کارونو د سرته رسولو لپاره باید سرته ورسېږي.

د مصارفو په ځانګړي ډول تنظیم ډېرې اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي اغیزې لري، له همدې امله د دې اغېزو د رامنځته کولو لپاره هېوادونه او دولتونه خپل مصارف په ځانګړي ډول تنظیموي.

**دریم عنصر: د دولت عواید، مالي موارد او سرچینې**

دولتي موارد او عایدات هغه ټولو اموالو ته ویل کېږي چې حکومت یې په یوې ټاکلې موده کې د یو شمېر اقتصادي او ټولنیزو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د خپل واک پر بنسټ او یا هم د خپلو اقتصادي فعالیتونو او یا هم د خپلو املاکو څخه لاسته راوړي، همدا راز هغه مال چې له دې څخه پرته له نورو لارو یې دولت ترلاسه کوي لکه بهرني او داخلي قرضونه او داسې نور... دا هم د دولت مالي موارد او عواید بلل کېږي.

---

[12] - المالیة العامة ص 89، فلیح حسن خلف، د عالم الکتاب الحدیث او جدار للکتاب العلمي، اردن د خپرونو څخه، لومړی چاپ کال ۲۰۰۸م.

د دولت او حکومت د عوایدو موارد او مصادر چې له هغوی څخه خپل د اړتیا وړ عایدات ترلاسه کوي په دوه ډوله دي:

اول: عادي موارد، یا هغه موارد چې همیشه ترې دولت استفاده کوي او کوم استثنایي مورد نه وي؛

دویم: غیر عادي موارد چې په استثنایي توګه ځینې وخت ترې دولت استفاده کوي.

**اول: د عوایدو عادي سرچینې**

دا د عایداتو هغه مصادرو دي چې په عادي ډول د هر کال په بودیجه کې تکرارېږي، له همدې امله عادي موارد ګڼل کېږي. د عوایدو عادي مصادر هم په دوه ډوله ویشل کېږي:

لومړی: د دولتي واک او اجبار له لارې ترلاسه شوي عواید چې په دې کې دا لاندې ډولونه شامل دي:

- مالي جریمه او مالي جزاګانې؛
- د ځینو شیانو په بدل کې حق الاجرت (فیس) اخیستل؛
- دولت او حکومت ته ډالۍ شوي او په هدیه کې ورکړل شوي مالونه، همدا راز د مرکزي حکومت څخه ایالتي او سیمه ییزو حکومتونو ته ورکړل شوي ګرانټونه او مرستې؛
- او تر ټولو بنسټیز یې مالیه ده، چې زموږ د دې مقالې موضوع هم ده.

دویم: د عادي مواردو دویم ډول د دولت اقتصادي موارد دي، دا هغه موارد دي چې د فردي اقتصاد سره یې ډېر توپیر نشته، دې ته موږ د دولت د ممتلکاتو څخه ترلاسه شوي اموال او عواید هم ویلی شو، دا اقتصادي موارد بیا هم په دوه ډوله ویشلی شو.

الف- ثمن عام: دا هغه مالي بدل دی چې دولت او یا د دولت کوم لویه خپلواکه اداره یې د خپلو تولیداتو په مقابل کې او یا هم د خپل خدماتو په مقابل کې ترلاسه کوي، لکه د سیلو اداره یا سپین غر شرکت چې د خپلو تولیداتو په بدل کې کوم مال ترلاسه کوي هغه ته ثمن عام ویل کېږي، همدا راز د تلفون ملي شرکت (افغان ټیلیکام) او د برېښنا اداره چې کوم خدمات وړاندې کوي او د هغوي په بدل کې چې کومې پیسې ترلاسه کوي، دې ته ثمن عام ویل کېږي.

د دولت د ممتلکاتو څخه ترلاسه شوې پیسې هم د دولت د عوایدو یو مورد او مصدر دی، دا ډېر زیات کېدلی شي، د بېلګې په توګه:

- د دولتي ځمکو له درکه ترلاسه کېدونکي عواید؛
- د دولتي زراعتي پروژو له درکه عواید؛
- د معدنونو له درکه په لاس راغلي عواید؛
- د دولت د ادارې لاندې صنعتونو او فابریکو له درکه په لاس راغلي عواید او داسې نور....

**دویم: د عوایدو غیر عادي موارد او سرچینې**

لکه مخکې مو چې وویل دا هغه موارد دي چې په استثنایي توګه او د اړتیا په وخت کې ترې دولت استفاده کوي، ځینې وخت یو هېواد غواړي داسې لوې پروژې په لاره واچوي چې د دولت د عادي مواردو څخه یې مصارف نه شي پوره کېدلی، نو بیا د غیر عادي مواردو څخه استفاده کوي، دا هم په دوه ډول دي.

**لومړی: قرض**

قرض هم د دولت د عواید یو مدرک دی، دا که داخلي قرضونه وي (چې ترلاسه کول یې ډېرې لارې لري) او که د بهرنیو هېوادونو څخه ترلاسه شوي قرضونه وي او که د نړیوالو مؤسساتو لکه وجهي صندوق او نړیوال بانک او نورو څخه اخیستل شوي قرضونه وي، او که داخلي قرضونه وي، اوس په دې بحث نه کوو چې د دې ګټې څومره دي او تاوانونه یې څومره دي، ځکه دا زموږ د بحث موضوع نه ده.

**دویم: د نویو اسعارو چاپ**

ځینې وخت یو هیواد د خپلو پروژو او مصارفو د پوره کولو لپاره دې ته اړ کېږي چې نوي اسعار چاپ کړي، د خپل پولي واحد ګردش زیاتوي، تر څو د خپلو پروژو لپاره نغدې پیسې برابرې کړی شي، سره له دې چې دا د عرضې او تقاضې د اصولو سره سم د پولي واحد په قیمت باندې منفي اغېز پرېږدي، خو د اړتیا په وخت کې بیا هم ترې هېوادونه استفاده کوي.

**د عادي سرچینو له جملې څخه تر ټولو بنسټیزه سرچینه: مالیه (ټېکس)**

لکه څرنګه مو چې په تېرو کرښو کې ولوستل چې مالي پالیسۍ درې بنسټیز عناصر لري، چې لومړی یې د دولت موارد او عایدات دي او دویم یې عمومي مصارف دي او دریم یې هغه اهداف دي چې له دې دواړو څخه یې دولت او حکومت ترلاسه کول غواړي او په اوسني اقتصادي نظام کې د دولت او حکومت د عوایدو او مواردو د عادي مواردو څخه تر ټولو لوی مورد مالیه ده، مالیه څه ته وایي؟ په دې اړه د معاصر اقتصادي فکر نظر څه دی؟ غواړم دلته دا قضیې لږ په تفصیل سره د دې لپاره و څېړم چې کله یې موږ د اسلامي اقتصادي فکر سره پرتله کوو چې په دې پوه شو چې په دې اړه د دواړو ترمنځ د مالیې (ټېکس) په اړه کوم توپیرونه شتون لري.

**د مالیې تعریف او پېژندنه**

د مالیې (ټېکس) بېلابېل تعریفونه شوي دي او دا ځکه چې په بېلابېلو وختونو کې د مالیې مقاصد او اهداف په خپلو کې سره توپیر لري، خو هغه تعریف چې د اوسني عصر سره اړخ لګوي داسې شوی دی: «دا نغدې پیسې دي چې دولت او حکومت یې د کوم بدل پرته پر هېواد کې اوسېدونکو باندې د هغوی د توان سره سم په الزامي ډول وضع کوي او د خپلو مصارفو د پوره کولو او د خپلو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره یې جبرا په مباشره توګه له دوی څخه اخلي»[13].

**د مالیې ځانګړتیاوې**

د مخکیني تعریف څخه د مالیې او ټېکس لاندې بنسټیزې ځانګړتیاوې استنباط کولی شو:

**لومړۍ ځانګړتیا: مالیه باید نغدې پیسې وي**

په تېرو وختونو کې د اقتصاد طبیعت د اوسني وخت د اقتصاد سره توپیر لري، همدا راز د نظامونو طبیعت هم فرق لري، په هغه وختونو کې زراعتي محصولاتو خورا زیات اهمیت درلود، راکړه - ورکړه په همدې محصولاتو سرته رسېده، د نغدو پیسو اهمیت او رواج د اوسنۍ زمانې په کچه نه وه، نو په هغه وخت کې جنس هم د مالیې (ټېکس) په توګه اخیستل کېده او مالیه به هم د جبري کار په شکل ترلاسه کېده، خو اوس د اقتصادي نظام حالت بدل دی، عموماً ټول معاملات په نغدو سرته

13 - المالیة العامة والتشریع الضریبي، اعاد حمود القیسي، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی) ص ۱۲۴، همدا راز المالیة العامة (النظم الضریبیة) ص ۴۹، خپروونکی اداره: منشورات الحلبي، الجزائر، کال ۲۰۰۳م.

رسېږي، بلکې اوس د الیکترونیکي بانکدارۍ زمانه ده، يو وړوکی پیغام کفایت کوي چې ستا حساب ته دومره مبلغ ورسېده، بلکې له دې هم ور اخوا اوس د ډیجیټلي پیسو استعمال هم د رواج په حالت کې دی، په ورته وخت کې اوس د دولت ټول معاملات او مصارف هم په نغدو پیسو سرته رسېږي، له دې امله طبیعي خبره ده چې عایدات یې هم باید په نغدو پیسو باندې وي، له همدې امله اوس غالباً د دولت له لورې مالیه په نغدو پیسو ترلاسه کېږي او د تېرو زمانو په څېر د جنس په شکل او یا هم د وړیا خدمتونو او بېگار په توګه نه ترلاسه کېږي.

**دويمه ځانګړتيا: دا يو اجباري مسؤوليت دی**

د مالیې (ټېکس) ورکول اجباري کار دی، څوک چې په مالیې (ټېکس) ورکولو مکلف شو هغه یې باید حتماً تأدیه کړي، همدا راز نه ورته د تأخیر اختیار شته او نه د تأدیه کولو په کیفیت کې اختیار لري او څوک هم چې مالیه نه تأدیه کوي هغه د قانون له نظره مجرم ګڼل کېږي، نو دلته د مالیې (ټېکس) په ټاکلو کې هم جبر دی او د ترلاسه کولو په پروسه کې هم اکراه معتبره ګڼل کېږي، په دې معنی چې دولت چې پر هره کټګورۍ مالیه وټاکله هغه یې باید جبراً ومني او کله چې ټېکس (مالیه) وټاکل شوه بیا دولت او حکومت ته د دې اختیار دی چې په زور او اکراه سره هغه وصول کړي. يو د هغه نقطو څخه چې اسلام ورسره موافقه نه لري همدا نقطه ده، ځکه چې په جبر او اکراه د چا مال اخیستل په اسلام کې جواز نه لري، په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې (ټېکس) د قانوني تکییف (څرنګوالی) [14] په اړه به د قانون نقطه نظر وړاندې کړو او دا به وروسته وګورو چې موږ څرنګه کولی شو چې دا د اسلام د احکامو سره برابر کړو؟

**درېيمه ځانګړتيا: ورکوونکی يې د بېرته اخيستلو حق نه لري**

مالیه ورکوونکی د مالیې په مقابل کې نه د دولت څخه د کوم بدل مطالبه کولی شي او نه په کې خپله مالیه بېرته د دولت څخه راګرځولی شي، په دې معنی چې دولت په هیڅ صورت د مالیې د پیسو، ټېکس ورکوونکي ته د بېرته ورکولو او همدا راز په مباشره توګه هغه ته د کومې فایدې د رسولو هیڅ کوم مسؤولیت پر غاړه نه لري، همدا د دولت له لورې د اخیستل شوي اجباري قرض او ټېکس ترمنځ فرق دی، ځکه هلته دولت د اجباري قرض او د ورسره سود د بېرته ورکولو مسؤولیت پر غاړه لري چې قانون ټاکلی وي.

**څلورمه ځانګړتيا: ماليه د کومې شخصي ګټې په مقابل کې نه ورکول کېږي**

مالیه ورکوونکی مالیه د دې لپاره نه ورکوي چې د هغه په بدل کې کومه شخصي ګټه ترلاسه کړي، بلکې د ټولنیزې همکارۍ او پیوستون په جذبه یې ورکوي، یا په بل تعبیر دولت په دې مکلف نه دی چې ټېکس ورکوونکي ته په مباشره توګه ګټه ورسوي، خو دا کېدلی شي چې د هغه عمومي پروژو څخه ټېکس ورکوونکی هم استفاده وکړي چې د هغه په شمول د خلکو د مالیې (ټېکس) په پیسو تمویلیږي، لکه د صحت او تعلیم اړوند پروژې او داسې نور...، له همدې امله په يو هېواد کې د اوسېدونکو او فعالیت درلودونکو څخه مالیه د هغوی د استفادې په تناسب نه اخیستل کېږي بلکې د هغوی د توان په اندازه اخیستل کېږي.

**پنځمه ځانګړتيا: د ماليې (ټېکس) اخيستل د دولت حق دی**

د دې معنی دا ده چې مالیه یوازې دولت وضع کولای او اخیستلی شي، ځکه دا د ملي او عام المنفعة کارونو د تمویل

[14] - تکییف د کیفیت څخه اخیستل شوی دی، معنی یې قانوني څرنګوالی بیانول دي، چې دا بیان کړي شي چې دا د قانون د کومو اصولو سره برابر دی.

وسیله ده، بل څوک د مالیې او(ټېکس) د اخیستلو حق نه لري، د دولت څخه مو هدف ټول هغه اعتباري شخصیتونو مراد دي چې قانون ورته د ټېکس د لګولو او راټولولو حق ورکړی وي، دا که مرکزي حکومت وي او که څه مستقلې اداري وي او که محلي حکومتونه او مؤسسات وي، خو چې قانون ورته د ټېکس د لګولو او راټولولو حق ورکړی وي هغوی ټېکس اخیستلی او لګولی شي، بل څوک دا حق نه لري[15]. موږ چې په دې څېړنه کې د کومې مالیې د شرعي حکم د بیانولو هڅه کوو هغه همدا مالیه ده، چې ځانګړتیاوې یې همدا پورته شیان وي، ایا شریعت د همداسې مالیې د اخیستلو اجازه ورکوي او که نه؟ موږ د مطلقې مالیې حکم نه بیانوو چې خلک په کې زکات، خراج، جزیه او داسې نور شاملوي.

## په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې موخې

د معاصر اقتصادي فکر په پیل کې بلکې که لږ په مشخص ډول ووایو د شلمې پېړۍ د دریمې لسیزې څخه مخکې مالیې (ټېکس) یوازې یو هدف درلود او هغه یې مالي هدف و، چې هېوادونو او دولتونو له دې لارې خپل مصارف پوره کول، له همدې امله کوښښ دا و چې مالیه باید تر ټولو په کمه اندازه واخیستل شي او دې ته یې د یو داسې شر په سترګه کتل چې چاره ترې نه وي، په هغه وخت کې د مالیې او اقتصادي چارو د پوهانو شعار دا و چې مالیه باید بې پرې پاتې شي او د عمومي مصارفو د پوره کولو څخه پرته د بل هدف لپاره باید ترې استفاده ونشي، خو د مالیې بې پرې والی ورو ورو له منځه ولاړ او خپل ځای یې په سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي چارو کې مداخله کوونکې مالیې ته پرې ښوده، په دې معنی چې مالیه په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې د یو اغېزمن عنصر په حیث مطرح شوه، تر دې چې دا اهداف د مالي اهدافو په پرتله ډېر مهم وګرځېدل، دلته په لنډ ډول دا اهداف د دې لپاره بحث کوو چې وګورو په دې کې خو داسې اهداف شتون نه لري چې د اسلام د مالي نظام د مقاصدو سره په ټکر کې قرار ولري او یا داسې څه خو په کې شتون نه لري چې اسلام یې نه مني، دا موخې په لنډ ډول په لاندې کرښو کې د درنو لوستونکو مخ ته ږدو.

### ۱- د مالیې (ټېکس) مالي اهداف

د دې معنی دا ده چې مالیه د دې لپاره لګول کېږي چې دولتونه او حکومتونه پرې د خپلو عمومي او دولتي مصارفو لپاره مدارک پیدا کړي او له دې لارې خپل جاري مصارف او همدا راز خپل پراختیایي مصارف پوره کړي، دا هغه هدف و چې له امله یې مالیه رامنځته شوه او دا هدف هغه وخت ترلاسه کېدلی شي چې په ټولو مکلفو جهتونو هغه که حقیقي اشخاص وي او که حکمي، ټول د ټېکس په نیټ ورک کې شامل کړی شي او له ټولو څخه په اعتدال او د هر چا د امکاناتو او توان سره سمه مالیه واخیستل شي.

### ۲- د مالیې ټولنیز اهداف او موخې

له هغه وخت را وروسته چې په غربي فکر کې د ټولنیز عدالت تصور رامنځته شو او په نوې زمانه کې د ثروت او عوایدو د عادلانه توزیع او تقسیم تصورات را ښکاره شول او دا اوازونه پورته شول چې د سرمایه داره طبقې له لورې د ټولنې د فقیرو او بې وزلو طبقاتو د استحصال کچه را کمه کړی شي او دا استحصال باید کنټرول کړی شي، له هغه وخت وروسته د مالیې ټولنیزې موخې او اهداف ډېر په څرګند او واضح ډول را ښکار شول.

---

[15] - د دې ځانګړتیاو لپاره وګورئ: المالیة العامة (۱) الایردات والنفقات، ۱۴۲ او له دې وروسته، محمد خیر العکام، د الجامعة الافتراضیة السوریة د خپرونو څخه د الکترونیکي خپرېدو کال ۲۰۱۸م.

مالیه د ثروت د عادلانه توزیع او په عوایدو کې د تعادل د رامنځته کولو یوه وسیله وګرځېده، د ټېکسونو (مالیې) څخه د ټولنیزو اهدافو د وسیلې په حیث د کار اخیستل د «جان ژاک روسو»، فرانسوي فیلسوف «ولتیر» او اشتراکي فیلسوف «کارل مارکس» له لورې مطرح شول، کارل مارکس دا تصور مطرح کړ چې د مالیې څخه باید د ملي عاید په بیا توزیع او تقسیم کې کار واخیستل شي. په دې توګه په معاصر اقتصادي فکر کې مالیه د ډېرو ټولنیزو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کارول کېږي چې مهم یې په لاندې ډول دي:

1. ټېکس د عاید په تناسب ټاکل کېږي، د چا چې عاید زیات وي هغه په هماغه اندازه باید زیاته مالیه ورکړي، تر څو ثروت، سرمایه او دولت باید د یو څو ځانګړو اشخاصو او کورنیو په لاسونو کې متمرکز پاتې نه شي، دا یو ټولنیز مرض دی او د دې د علاج یوه مهمه لار د مالیې (ټېکس) څخه استفاده ده، خو داسې ښکاري چې په غربي ټولنو کې دا هدف ترې نه دی تر سره شوی، ځکه نور ټول سیستم په استحصال ولاړ دی.
2. د توکو د کم او زیات استهلاک په اړه د هېواد د وګړو توجیه هم د مالیې د موخو څخه یوه موخه ده، کله چې په ځینو توکو مالیه لوړه کړی شي د هغوی قیمتونه لوړېږي او استهلاک یې راکمېږي، همدا راز په ټولنه کې د ځینو تاوان رسوونکو توکو د استعمال د راکمولو یوه وسیله هم مالیه ده، همدا راز په ټولنیزه توګه د ځینو ګټورو توکو د ترویج وسیله هم ده.
3. د کورنیو د ټولنیزو ستونزو د مرکزي قضیې د کور او مسکن د قضیې د حل وسیله هم ګرځېدلی شي.
4. د یو لړ بدو ټولنیزو پدیدو د علاج او له منځه وړلو وسیله هم ده، لکه هغه کارونه او فعالیتونه چې بدني روغتیا ته تاوان رسوي او یا نورې ټولنیزې ستونزې زېږوي.

### ۳- د مالیې اقتصادي موخې

په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې اقتصادي موخې او اغېزې ډېرې مهمې ګڼل کېږي، ځکه د هر ډول مالیې ټاکل د اقتصاد په مجموعي حالت په قطعي توګه خپلې اغېزې پرېږدي، له دې څخه د توکو استهلاک او مصرف، د توکو تولید او همدا راز په ټولنه کې د پیسو سپما ټول تر اغېز لاندې راولي، له همدې امله ټول هېوادونه هر کال مالیه د بشپړ اقتصادي تحلیل څخه وروسته ټاکي او له دې لارې د هېواد د ډېرو ستونزو لپاره د حل لارې لټوي، د مالیې اقتصادي موخې زیاتې دي خو شاید دا لاندې یې د ټولو هېوادونو ترمنځ ګډې او عامې وي:

1. په اقتصادي لحاظ د یو لړ هغه تولیدي فعالیتونو هڅونه چې د اقتصاد لپاره ګټور وي او همدا راز د یو لړ نورو اقتصادي فعالیتونو مخنیوی او ضعیفول چې ګټور نه بلل کېږي، کوم چې ګټور بلل کېږي هلته مالیه راکمول او کوم چې ګټور نه وي هلته لوړه مالیه ټاکل.
2. د معاصر اقتصادي نظام یوه ځانګړنه دا ده چې کله د تضخم (پړسوب) په حالت کې وي او کله د رکود سره مخامخ وي او په اقتصاد کې دا بدلون په دوره یي شکل صورت نیسي او دا د یو هېواد پر اقتصاد بدې اغېزې پرېږدي، له همدې امله د اقتصاد پوهانو له پلوه د مالیې (ټېکس) له لارې کله د اقتصادي انفلاسیون مخه نیول کېږي او کله هم د اقتصادي رکود او د بازارونو د سړېدلو د مخنیوي لپاره ترې کار اخیستل کېږي، د دې ټولو په پایله کې په ټولنه کې اقتصادي استقرار رامنځته کېږي. او دا کار په هېواد کې د مالیاتو (ټېکسونو) د لوړولو او یا

هم د کمولو له لارې سرته رسېږي، نو کله چې اقتصاد د رکود په حالت کې وي د مالیې فیصدي راکمېږي او کله چې د انفلاسیون او تضخم (پاړسوب) په حالت کې وي نو مالیات او ټېکسونه لوړېږي تر څو د خلکو د خریدارۍ توان جذب کړي.

3. کله چې سوداګریز شرکتونه په یو اقتصادي اړخ تمرکز کوي او دولت غواړي چې اقتصادي فعالیتونه په متناسب ډول په ټولو اړخونو توزیع کړي، نو د دې تمرکز علاج هم د مالیاتو او ټېکسونو له لارې کوي.
4. مالیه په هېواد کې د پانګونې د هڅونې لپاره هم کارول کېږي، په کومو اړخونو کې چې دولت وغواړي پانګونه جذب کړي هلته مالیه (ټېکس) راکموي او یا یې په بشپړ ډول معافوي.
5. مالیه په ټولنه کې د توکو د استهلاک د توجیه لپاره هم کارول کېږي، کوم توکي چې نه غواړي زیات مصرف شي په هغوی د مالیې کچه لوړوي او کوم چې د خلکو د اړتیا وړ شیان وي او دولت غواړي چې مصرف یې کنټرول نه کړي هلته د ټېکس کچه ټیټوي[16].

## د مالیې قانوني بنسټ

مخکې مو چې ولوستل دا په معاصر اقتصادي فکر کې د مالیې (ټېکس) لنډ تصور دی، په دې تصور کې هم یوه قضیه د ټولو له نظره د مناقشې وړ ده، لکه څرنګه چې په اسلام کې د څېړنې او بحث وړ ده او هغه په فردي ملکیت کې د دولت تصرف دی، ځکه مالیه په الزامي ډول او د کوم مقابل څخه پرته د حکومت له لورې اخیستل کېږي، دا یوه داسې قضیه ده چې باید په جدي ډول مناقشه شي، ځکه دا کار اسلام هم ناروا او حرام ګڼي او همدا راز یې نور بشري عادل نظامونه هم نادرست او غلطه ګڼي، له همدې امله په فردي ملکیت کې د تصرف د جواز لپاره معاصر اقتصادي فکر بېلابېل قانوني بنسټونه پشنهادوي، چې دلته یې یادونه له ګټې خالي نه ده.

### لومړی: د عقد نظریه

لومړی بنسټ دا وړاندې کوي چې دولت ته د یو ضمني عقد پر بنسټ دا حق ترلاسه دی چې د هېواد د وګړو څخه مالیه واخلي، د دې نظریې بنسټ ټولنیز تړون (Social Contract) نظریې ته ورګرځي چې اوولسمې او اتلسمې پېړیو فیلسوفانو لکه جان لوک (J. Locke) (۱۷۰۴م)، توماس هوبز (۱۵۸۸- ۱۶۷۹م)، جان ژاک روسو (Jean-Jacques Rousseau) (۱۷۱۲ –۱۷۷۸م) میرابو (Comte De Mirabeau) (۱۷۴۹-۱۷۹۱م) او مونتسکیو (Montesquieu) (۱۶۸۹ – ۱۷۱۳م) وړاندې کړ او پر همدې بنسټ یې د مالیې (ټېکس) لپاره توجیهات وړاندې کړل چې له امله یې حکومت او دولت حق ترلاسه کوي چې د ملت د وګړو په فردي ملکیت کې تصرف وکړي او مالیه پرې وضع کړي او ترې وصول یې کړي، دوی بیا د دې تړون د حقیقت په اړه په خپلو کې سره په لاندې ډول اختلاف لري:

1. دا د خدماتو د ایجار تړون دی: آدم سمیت وایي دا د ایجار عقد دی چې پر بنسټ یې دولت د هېواد وګړو ته خدمات وړاندې کوي او وګړي د مالیې په شکل د دې خدماتو مقابل او قیمت پرې کوي.

---

[16] - د دې لپاره وګورئ: النظام الضريبي بين الفكر المالي المعاصر والفكر المالي الاسلامي ص ۱۲-۱۳، قسنطینة پوهنتون، الجزایر کې د ماسترۍ رساله، لیکواله: رحمة نابتي، تعلیمي کال: ۲۰۱۳-۲۰۱۴م. همدا راز وګورئ: مالية عامة ص ۱۴۷-۱۴۹، محمد خیر العکام لیکنه، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

2. یو شمېر غربي ليکوالان او معاصر اقتصاد پوهان وايي چې دا عقد د یو توليدونکي شرکت عقد دی، په دې معنی چې د ټولنې وګړي یو داسې شرکت تشکیلوي چې د ټولنې وګړي يې په رأس المال کې شريک وي او دولت په دې شرکت کې د «اداري» حیثیت لري چې له دې پرته شرکت پر مخ نه شي تللی او همدا «اداره» د دې شرکت له لارې خدمات ټولنې ته وړاندې کوي او د ټولنې وګړي د دې شرکت په رأس المال کې د ماليې (ټېکس) په شکل شریک دي.
3. یو شمېر غربي ليکوالان لکه «جیراردان» وايي چې دا د بیمې او تأمین تړون دی، په دې کې «دولت» د تأمین او بیمې د شرکت حیثیت لري، چې د ټولنې وګړي یو مقدار پیسې د بیمې د قسط په توګه ورکوي چې د هغه د پاتې مال څخه ورته دولت ساتنه او حفاظت وکړي.
4. یو شمېر مفکرين لکه «مونتسکیو» وايي چې دا عقد د بیعې تړون دی، چې د ټولنې وګړي د دولت څخه یو لړ خدمات د ماليې (ټېکس) په بدل کې اخلي، یو شمېر نور وايي چې دا د «مقايضې»[17] عقد دی، چې په ماليې (ټېکس) باندې د مکلفو وګړو د مال د یوې برخې په مقابل کې دوی د دولت خدمات پیري.
5. د یو شمېر پوهانو له نظره دا د ټولنې د وګړو او دولت ترمنځ یو مالي عقد دی، چې دواړه اړخونه يې په پایله کې باید التزامات ولري، وګړي باید مالیه ورکړي او دولت باید د همدې عقد د غوښتنو په توګه امنیت، عدالت او بنسټیز خدمات په هېواد کې اوسېدونکو ته وړاندې کړي[18].

### دا عقد د ماليې لپاره مبنی کېدای شي؟

په اجمالي ډول دا ویلی شو چې عقد د ماليې (ټېکس) لپاره قانوني مبنی او بنسټ نه شي کېدلی چې لاملونه يې په لنډ ډول په لاندې توګه دي:

**لومړی:** په عقد کې دا شرط دی چې معقود علیه به په دواړو اړخونو کې یو اندازه وي، خو د ماليې (ټېکس) په حالت کې دا کار ډېر ګران دی او هیڅ نه متحقق کېږي او دا ځکه چې د هغه عامو خدماتو اندازه کول ډېر سخت دی چې د هېواد اتباع يې له دولت څخه لاسته راوړي، ځکه په دې کې دا معلومول ستونزمن دي چې ایا دولتي خدمات د هغه مال سره متوازن دي چې د ماليې (ټېکس) په توګه يې دولت له فرد څخه ترلاسه کوي؟ همدا راز د دې عمومي خدماتو تجزیه کول هم سخت دی چې دا معلوم شي چې هر فرد په څومره اندازه له دې خدماتو څخه مستفید دی؟

**دویم:** د عقد نظریه د دولت ټول مسؤولیتونه په هغه څه کې محصور ګڼي چې دا عقد ورته شامل دی، څوک يې په امنیت کې محصور ګڼي او څوک يې د پاتې مال په تأمین کې او څوک يې په نور څه کې او د دې معنی دا ده چې دولت باید د ماليې (ټېکس) څخه په بل کوم ځای کې استفاده ونه کړي؛ ځکه چې عقد خو دواړو خواو ته ملزم وي، نو دولت باید هم پر دې ملتزم پاتې شي چې په هماغه ځای کې له دې مال څخه استفاده وکړي چې د عقد غوښتنه ده، خو فعلي حالت د دې سره په بشپړ ډول په ټکر کې واقع دی ځکه د دولت وظایف ډېر متعدد او متنوع دي او په دې ټولو اړخونو او وظایفو کې د ماليې (ټېکس) څخه استفاده کوي.

---

[17] - مقایضه هغه عقد ته ویل کېږي چې جنس د جنس په مقابل کې وپلورل شي لکه غنم د جوارو په مقابل کې یا بوره د وریجو په مقابل کې.

[18] - د دې د تفصیلاتو لپاره وګورئ: مالیة عامة ص ۱۵۵، الدکتور محمد خیر العکام، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

**درېم:** د عقد د نظريې غوښتنه دا ده چې له دې څخه يوازې د همدې خلکو لپاره خدمات برابر کړی شي څوک چې ماليه ورکوي او د هغه عامو پورونو په ادا کولو کې مصرف نه شي چې تېرو نسلونو د خپلې هوساینې لپاره په خپل وخت کې اخيستي وو، سره له دې چې داسې نه کېږي، بلکې دولت د ټېکس يوه برخه د هغه پورونو په ادا کولو کې مصرفوي او که دا پورونه سودي وي، نو د هغوی د سود په ادا کولو کې هم ترې استفاده کېږي.

**څلورم:** د عقد نظريه له دې امله هم د ماليې (ټېکس) لپاره مبنی نه شي کېدلی چې د دولت له خدماتو څخه هغه څوک زياته استفاده کوي چې يا اصلاً ماليه نه ورکوي او يا يوه ډېره کمه برخه ماليه دولت ته ورکوي، ځکه د ماليې (ټېکس) د انصاف پاليسي او سياست د دې غوښتنه کوي چې ټېکس بايد په داسې توګه توزيع شي چې څوک ډېر عوايد لري هغه بايد زياته ماليه ورکړي او څوک چې کم عوايد لري هغه بايد په بشپړ ډول له ماليې څخه معاف شي او يا ډېره کمه ماليه ترې واخيستل شي او د استفادې په وخت کې هغه خلک چې هيڅ ماليه نه ورکوي او يا ډېر کم ټېکس ورکوي د دې عامو خدماتو څخه استفاده کوي.

**پنځم:** دا د بيمې (تأمين) عقد هم نه شي کېدلی ځکه چې دولت خو د وګړو د مال بيمه نه کوي او که د چا مالونه له منځه ولاړ شي او يا تاوان ورته ورسېږي دولت يې د ماليې (ټېکس) په مقابل کې تاوان نه پرې کوي، خو که چا دا قصدا کړی وي هغه ته سزا ورکوي او تاوان ترې هم اخلي. دا نظريه له دې امله هم سمه نه ده، ځکه د دولت خدمات چې د ماليې له پيسو څخه يې ټولنې ته وړاندې کوي هغه په امنيت کې نه راخلاصه کېږي، بلکې دا خدمات ډېر متنوع دي او په دې نظريه کې دا يوازې د تأمين يو شرکت ګڼل شوی دی.

**شپږم:** همدا راز که دولت د شرکت اداره وګڼو، نو دا خو هغه خلکو ته هم خدمات وړاندې کوي چې ماليه نه ورکوي، ځکه چې قانون يې د فقر له امله د ماليې په ورکولو ملزم نه ګڼي چې د دې عقد د غوښتنې سره سم دوی د دې خدماتو مستحق نه ګرځي.

**اووم:** د ايجار عقد هم د ماليې (ټېکس) لپاره مبنی نه شي کېدلی ځکه د ايجار د عقد غوښتنه دا ده چې د هېواد ټول وګړي په هغه اندازه ماليه ورکړي چې څومره د دولت له خدماتو څخه استفاده کوي، همدا راز د دې عقد معنی به دا وي چې هر څوک د دې خدماتو قيمت ورکړي هغه بايد له خدماتو څخه برخمن شي او په هماغه کچه برخمن شي چې د څومره خدماتو قيمت يې پرې کړی وي، خو دا ټول د ماليې (ټېکس) د طبيعت سره سمون نه لري، همدا راز دا نظريه د ماليې (ټېکس) د بنسټيزو ځانګړتياوو سره په ټکر کې ده، ځکه د ټېکس يوه ځانګړتيا دا ده چې دا د کوم خدمت په مقابل کې نه اخيستل کېږي.

لنډه دا چې د عقد پر بنسټ د ماليې قانوني تکييف (قانوني څرنګوالی مشخص کول) درست نه دی، ځکه دا تکييف (څرنګوالی) د ماليې (ټېکس) د طبيعت سره په ټکر کې دی[19].

**دويم: د ملي پيوستون او د دولت د سيادت نظريه**

يو شمېر غربي ليکوالان د ماليې (ټېکس) د قانوني بنسټ په اړه په دې نظر دي چې دا د ملي پيوستون (National Solidarity) پر بنسټ تأديه کېږي، په دې معنی چې په يو هېواد کې ټول مېشت وګړي د هغه ټولنې غړي دي او د دې ټولو

---

[19]- وګورئ: مبادئ المالية العامة ص ۱۱۱-۱۱۲، په ليبيا کې د «الجامعة المفتوحة» درسي کتاب، طرابلس، الجماهيرية العظمي.

مسؤولیت دا دی چې د دې ټولنې عام مصارف پر غاړه واخلي، پرته له دې چې دا په نظر کې ولري چې له دې څخه به ورته ګټه رسېږي او که نه؟ او که ګټه ورته رسېږي، نو څومره به وي؟ همدا د ملي پیوستون غوښتنه ده.

د دوی له نظره یو هېواد او یو دولت ته د منسوبېدو په پایله کې د هر هغه وګړي چې د عامو مصارفو د یوې برخې د پورته کولو توان ولري، دا ملي مسؤولیت ګرځي چې د مالیې (ټېکس) په ورکولو دا بار پورته کړي.

په پیل کې خلکو دا مسؤولیت په اختیاري توګه پر غاړه اخیسته، خو کله چې اداري سیستمونه پرمخ تللي شول او دولت اړتیا پیدا کړه چې موارد یې مشخص وي تر څو په درست ډول پلان جوړ کړی شي او خپل امور په سم ډول اداره کړی شي، د مالیې ټاکل او راټولول یې جبري او الزامي کړل او له دې امله چې دولت سیادت او تسلط لري، نو د ټېکس د ټاکلو او راټولولو صلاحیت دولت ته ورکړی شو، نو د ټېکس او مالیې الزامي کول د دولت د سیادت او تسلط څخه سرچینه اخلي دا د کوم عقد او تړون پایله نه ده[20].

د قانون پوهانو له نظره د مالیې (ټېکس) لپاره دا یاد شوی قانوني څرنګوالی (تکییف) درست دی، دوی په کې کومه ستونزه نه ویني او تصور یې دا دی چې دا د مالیې (ټېکس) د فعلي واقعیت سره هم اړخ لګوي، خو پوښتنه دا پیدا کېږي چې ایا د شریعت له نظره دا تکییف (فقهي څرنګوالی) درست دی؟

همدا هغه بنسټیزه پوښتنه ده چې د دې لپاره د جواب د لټولو په پایله کې موږ د شریعت له نظره د مالیې (ټېکس) د الزامي کولو د جواز او عدم جواز حکم معلومولی شو، چې دا باید په راتلونکو کرښو کې ولولو.

په لنډ ډول باید د دې پوښتنې په ځواب کې ووایو چې دا د شریعت له نظره د مالیې لپاره درسته مبنی نه شي کېدلی، ځکه د مالیې په دې توګه اخیستل د چا په ملکیت کې تصرف دی او د شریعت له نظره دا ډول تصرف هیڅ چا ته هم جواز نه لري، یوازې یو حالت کې د ملکیت د مالک له خوښې پرته جواز لري چې هغه ته په اسلامي فقه کې د اضطرار حالت ویل کېږي، په دې معنی چې د چا په فردي او شخصي ملکیت کې تصرف کول حرام دی او د دې حرام ارتکاب یوازې په هغه صورت کې جواز لري چې حکومت او دولت د اضطرار حالت ته ورسېږي، د دې په اړه به تفصیلي خبره وروسته وکړو.

که دا پوښتنه په یو بل عبارت مطرح کړو، نو ویلای شو چې هغه مالیه چې په معاصر اقتصادي فکر کې د هر هېواد د مالي مواردو څخه یو بنسټیز مورد ګڼل کېږي، شریعت دا ډول مالیه سمه ګڼي؟ دا ډول مالیه د شریعت د اصولو سره سمون خوري که په ټکر کې ورسره واقع ده؟ که په یو لړ حالاتو کې ورته جواز ورکوي او په نورو حالاتو کې یې نا سمه او ناروا ګڼي؟ دا هغه پوښتنه ده چې د دې ځواب باید ولټوو او د دې لپاره دې ته اړتیا لرو چې د اسلام مالي نظام باندې ځغلنده نظر واچوو او بیا دا وګورو چې اسلام د حکومت د مالیاتي سیاست لپاره څه اصول او ضوابط ټاکلي دي؟ او د معاصرې مالیې (ټېکس) لپاره په کې څه امکان لیدل کېږي او که نه؟

### دویم څپرکی: د مال په اړه د اسلام بنسټیز اصول

د مال اړوند د اسلام بنسټیز اصول څېړل ځکه اړین دي چې د دولت له لورې د مالیې لګول مالي تصرف بلل کېږي، نو تر څو چې موږ د مال اړوند عام اصول ونه پېژنو د مالیې په اړه درست او شرعي نظر قایمول سخت دي، نو دلته په اسلام کې د مال اړوند اصول په لنډ ډول بیانوو.

[20] - مبادئ المالیة العامة ص ۱۱۲- ۱۱۳، الجامعة المفتوحة الجماهیریة العظمی درسي کتاب.

**د مال اړوند د اسلام بنسټيز اصول**

**لومړی:** دوه ډوله ملکيت (فردي ملکيت او ټولنيز ملکيت) او د دواړو احترام او حرمت ساتل.

**دويم:** په ټاکلي حدودو کې اقتصادي ازادي؛ دا حدود ځينې د شريعت اخلاقي او ارزښتي اصول دي او ځينې يې تشريعي او قانوني احکام دي چې د ځينې شيانو له لارې يې د مال ګټل ناروا او ناسم بللي دي او له دې ناروا ګټل شوو لارو چارو پرته د نورو لارو څخه د مال لاسته راوړل سم بللي دي او مسلمانان يې د روا لارو څخه د مال لاسته راوړلو لپاره هڅولي دي.

**دریم:** د خيريه کارونو، صدقاتو، نفلي خيراتونو او داسې نورو له لارې ټولنيز تکافل او د ټولنې د فقيرو طبقو لاسنيوی او په ټولنه کې د بېلابېلو طبقو ترمنځ توازن رامنځته کول[21].

دا اصول لکه څرنګه چې د فرد لپاره الزامي دي همدا راز د دولت او حکومت لپاره هم لازم او اړين دي، دا درې واړه اصول زموږ د موضوع سره بنسټيز تړاو لري:

- د فردي او ټولنيز ملکيت احترام او د فرد او دولت دواړو له لورې بايد د هيڅ چا په ملکيت باندې تېری ونه شي، د دولت او فرد له لورې د چا په شخصي ملکيت باندې تېری او تعرض ناروا دی، همدا راز د افرادو له لورې په ټولنيز ملکيت باندې تيری ناروا دی، نو د ملي پيوستون تر عنوان لاندې اجباري ماليه اخيستل د دې اصل سره په ټکر کې دي.
- هيڅ مال بايد د حرامو له لارې څوک کسب نه کړي، نه د ټولنيز نظام لپاره دا کار روا دی او نه هم د افرادو لپاره روا دي چې د ناروا او حرامو له لارې مال تر خپل ملکيت لاندې راولي، نو د دولت له لورې د هېواد د وګړو سره د يو عقد او يا د هېواد د وګړو له لورې د يوې الزامي وعدې له موجوديت پرته، دولت ته په بل هيڅ عنوان د خلکو په مال کې تصرف حرام دی، او د دې اصل سره په ټکر کې دی.
- په اسلام کې د مال اړوند څه مسؤوليتونه د هر مسلمان پر غاړه دي، همدا راز د هغه حربي کافرانو پر غاړه هم دي چې د مستأمن په توګه دار الاسلام ته راځي او د هغه ذمي کافرانو پر غاړه هم دي چې په دارالاسلام کې هستوګنه لري، خو د مسلمانانو پر غاړه څه مسؤوليتونه او الزامات فرض دي او الزامي حيثيت لري (لکه زکاة او داسې نور) او څه مسؤوليتونه په جمعي توګه الزامي او په فردي توګه استحبابي حيثيت لري، لکه صدقات او د ټولنيز تکافل نورې لارې چارې.

د مال اړوند د اسلام دا بنسټيز اصول له دې امله زموږ د موضوع سره تړاو لري چې د لومړي اصل د څېړنې په پايله کې به دا څرګنده شي چې دولت او حکومت تر کومې کچې په فردي ملکيت کې د تصرف حق لري او شريعت حکومت ته په فردي ملکيتونو کې څه وخت د تصرف او مداخلې اجازه ورکوي؟ او ماليه د افرادو په فردي ملکيت کې تصرف دی، نو دا څه وخت جواز لري؟

همدا راز د دويم اصل پر بنسټ د ناروا لارو د مال ترلاسه کول حرام دي او په دې کې حکومت او فرد دواړه يو ډول مسؤوليت لري، دا کار نه د حکومت او دولت لپاره جواز لري او نه د فرد لپاره، د همدې اصل پر بنسټ هغه موارد مشخص

[21] - دا اصول شيعه عالم باقر الصدر په خپل مشهور کتاب «اقتصادنا» کې په تفصيل سره بيان کړي دي، د يو لړ تفصيلاتو سره يې موافقه نه لرو ځکه هغه د هغوی د فقهي نظر سره موافق دي، وګورئ: اقتصادنا ص ۲۹۵ څخه تر ۳۰۴ پورې، دوه جلده په يو ټوک کې د سيد محمد باقر الصدر ليکنه، دار التعارف للمطبوعات، بيروت لبنان، څوارلسم چاپ، کال ۱۹۸۱م ۱۴۰۱هـ ق.

کېدلی شي چې د شرعیت له نظره د بیت المال لپاره د تمویل موارد او سرچینې دي او هغه چې په شرعي توګه روا او صحیح موارد نه شي کېدلی.

او درېیم اصل له دې امله زموږ د څېړنې د موضوع سره تړاو لري چې زیاتو خلکو همدا د مالیې (ټېکس) لپاره اصل ګرځولی دی، دا باید وڅېړل شي چې دا د مالیې (ټېکس) لپاره بنسټ ګرځېدلی شي او که نه؟

**لومړی اصل: ملکیت**

د ملکیت داسې تعریف چې ټولو ډولونو ته شامل وي داسې شوی دی، شیخ مصطفی الزرقا وايي: "اختصاص حاجز شرعا یسوّغ صاحبه التصرف إلا لمانع"[22]. ملکیت په شرعي لحاظ د چا پورې د یو شي په داسې توګه د ځانګړي کېدو د داسې حالت ترلاسه کېدلو ته ویل کېږي چې د کوم مانع د نه شتون په وخت کې په شرعي توګه هغه ته د تصرف حق ورکوي.

زرقا صاحب پخپله د دې تعریف تشریح داسې کوي:

د حاجز څخه هغه شرعي وصف مراد دی چې «محجوز یا مملوک» مالک پورې ځانګړی کوي او له هغه څخه پرته بل هر څوک په هغه (محجوز ملکیت) کې د تصرف او استفادې څخه منع کوي.

او په تعریف کې د مانع د لفظ څخه مراد هغه څه دي چې په خپل ملکیت کې مالک له تصرف څخه منع کوي او هغه دوه حالتونه دي:

لومړی: چې اهلیت یې ناقص وي لکه صغیر چې تصرف یې ولي کوي.

دویم: چې د بل چا حق د مالک د تصرف څخه مانع ګرځي؛ لکه په مشترک مال کې چې تصرف د شریک اجازې ته اړتیا لري او یا مرهون مال چې د راهن تصرف په کې مقید دی سره له دې چې ملکیت یې کامل دی، نو دا عارضي مانع د ملکیت مانع نه ګرځي.

په دې توګه دا تعریف د ملکیت ټولو ډولونو ته شامل دی، په دې کې د اعیانو ملکیت، د منافعو ملکیت او همدا راز د دین او قرض ملکیت هم داخل دی.

لنډه دا چې ملکیت دې ته ویل کېږي چې یو څه شی په داسې توګه د یو چا سره اختصاص پیدا کړي چې نور خلک د شریعت له نظره په هغه کې د تصرف څخه ممنوع وي او دا پخپله په کې تصرف وکړی شي په دې شرط چې کوم شرعي مانع شتون ونه لري.

**د ملکیت ډولونه**

په اسلام کې د نورو ټولو ډګرونو په څېر د ملکیت په اړه هم منځلاري رعایت شوې ده، نه یوازې فردي ملکیت اصل ګرځول شوی چې ټولنیز ملکیت یو استثنایي حالت وي؛ لکه په سرمایه دارانه نظام کې او نه یوازې ټولنیز ملکیت اصل ګرځول شوی چې فردي ملکیت ممنوع وي، بلکې ملکیت په دوه ډوله ویشل شوی:

لومړی: فردي او شخصي ملکیت

دویم: ټولنیز یا جمعي ملکیت

---

[22] - المدخل الفقهي العام ج۱ ص ۳۳۳، د شیخ مصطفی أحمد الزرقا لیکنه، د دار القلم دمشق چاپ، د چاپ کال: ۱۹۹۸م ۱۴۱۸هـ ق.

**لومړی: فردي یا شخصي ملکیت**

فردي یا شخصي ملکیت دا دی چې د ټولنې او دولت پر ځای یې یو تن په ځانته ځان او یا د نورو کسان سره په شریکه د مال مالک وي، دې ته شخصي ملکیت وایي او د دې ترڅنګ باید هغه ټول قیود او شروط چې د ملکیت په تعریف کې مو یاد کړل هم په نظر کې ونیول شي.

د فردي او شخصي ملکیت په اړه د اعتراف په لړ کې اسلام لاندې بنسټیز عناصر په نظر کې نیسي، که دا عناصر رعایت نه شي، نو دا فردي ملکیت د اسلام له نظره د مشکل سره مخامخ کېږي:

لومړی: په دې کایناتو کې د هر څه حقیقي مالک الله تعالی دی او انسانان یې په دې مال کې متصرفین او خلیفه ګان ګرځولي دي، چې باید په دې کې د الله تعالی د لارښوونو سره سم تصرف وکړي، نو له دې امله هغه ټول حقوق باید تر سره کړي چې شریعت پرې د دې مال په اړه واجب کړي دي او یا یې هم مستحب ګرځولي دي، او د هر هغه څه نه باید ځان وساتي چې د مال په اړه شریعت ناروا بللی دي.

دویم: د فردي ملکیت اړوند دویم عنصر دا دی چې دا مال به د ده په قبضه کې وي او په ځانګړي ډول به همده پورې اړه لري، د بل چا حق به ورپورې تړاو نلري، همدا راز د نورو خلکو د تېري څخه به خوندي وي (شریعت څرنګه د خلکو شخصي ملکیتونه د تېري څخه محفوظ کړي دي، دا بحثونه هم د فقهې په کتابونو کې د جنایاتو بابونو کې یاد شوي دي).

دریم: د مال مالک به د شریعت د لارښوونو سره سم دا لاسته راوړي، که د شرعي لارو څخه یې لاسته نه وي راوړی هغه د شریعت له نظره د مال حقیقي مالک نه دی، سره له دې چې مال د هغه په واک کې هم قرار ولري (د مال د لاسته راوړلو شرعي لارې کومې دي، دا یو لوی بحث دی چې په فقه کې په تفصیل سره شوی دی).

څلورم: یوازې د مال مالک په دې کې په روا او شرعي لارو د تصرف حق لري.

**په شخصي ملکیت کې د بل چا تصرف شرعاً په مال تېری ګڼل کېږي**

په یادو ټولو ځانګړتیاوو کې تر ټولو بنسټیزه ځانګړتیا چې زموږ د څېړنې سره تړاو لري او چې باید په تفصیل سره یې یادونه وکړو هغه دا ده چې په شخصي مال کې د تصرف حق یوازې په خپله د مال مالک لري او د هغه له خوښې پرته د هغه په مال کې تصرف کول او هغه خپل واک کې راوستل په مال باندې تېری او شرعاً جنایت ګڼل کېږي او د غلا، غصب، حرابې او قطاع الطریقې (د لارې شکولو) شرعي جزاګانې په پایله کې لري او د دې اصل یادونه په ډېرو فقهي قواعدو کې شوې ده[23]، د همدې اهمیت له امله چې شریعت یې د چا په مال باندې تېري ته ورکوي د اسلامي امت له نظره د مال ساتنه په اسلامي شریعت کې د ضروریاتو له جملې څخه شمېرل کېږي.

د افرادو د ملکیت د حرمت په اړه صریح نصوص شتون لري چې ډېر معروف دي، خو بیا هم دلته یې یادونه له دې امله کوو چې وروسته پرې حکم مرتب کړی شو، د مال ساتنه چې په شریعت کې یو پراخه مفهوم دی او یو اړخ یې شخصي ملکیت له تېري څخه خوندي ساتل دي، په شریعت کې له ضروریاتو څخه شمېرل کېږي او دا ضروریات په دومره دلایلو ثابت دي چې په شمېر کې راوستل یې سخت دی، خو بیا هم دلته د یو څو دلایلو یادونه کوم چې دا مفهوم په ذهنونو کې تازه شي:

---

[23] - د یو شمېر قواعدو لپاره وګورئ: معلمة زاید للقواعد الفقهية والأصولية ج ۹ ص ۱٦، د مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية او مجمع الفقه الدولی (منظمة المؤتمر الاسلامی) د خپرونو څخه، لومړی چاپ، کال ۲۰۱۳م ۱۴۳۴هـ د « الأصل في الأموال العصمة» تر عنوان لاندې، همدا راز د همدې کتاب ج ۱۴ ص ۹۵ د ۸۲۸ قاعدې لاندې چې عبارت یې دی «لَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي مِلْكِ الغَيْرِ بِلَا إِذْنِهِ» دلته هم یوه مجموعه د قواعدو ذکر شوی ده.

1. په شريعت کې په پټه توګه د چا شخصي ملکيت اخيستل چې د غلا (سرقت) د حد شرطونه په کې پوره وي د غلا کوونکي د لاس د پرې کېدلو لامل ګرځي لکه الله تعالی چې په قرآن کريم کې فرمايي: {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ} [المائدة: 38]. د غل (نارينه) او غلې (ښځينه) دواړو لاسونه پرې کړئ، د هغه عمل د جزا په توګه چې دوی يې مرتکب شوي دي، چې (د نورو لپاره د) عبرت لامل وګرځي او الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی. دا د شخصي ملکيت د ساتنې تر ټولو قوي دليل دی.
2. که څوک په اسلامي ټولنه کې د چا په شخصي ملکيت وسله وال تېرې کوي او په لار کې خلک ځيروي، دا هم په اسلامي شريعت کې دومره لوی جرم دی چې جزا يې په قرآن کريم کې ياده شوې ده او ياده جزا لکه څرنګه چې د انساني نفس او روح په ساتنه کې مؤثره او مهمه ده همدا راز په مسلمانه ټولنه کې د خلکو د شخصي ملکيتونو په ساتلو کې هم مؤثر رول لري، د دې جزا په اړه الله تعالی فرمايي: {إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ } [المائدة: 33]. د هغو خلکو جزا چې د الله او د هغه د پيغمبر پر ضد په جنګ کې اخته دي يعنې په ځمکه کې فساد کوي (خلک په لارو کې ځيروي؛ وژني يې، مالونه يې اخلي او خلک ويروي او يا د دې ټولو جرمونو ارتکاب کوي) همدا ده چې ووژل شي او يا په دار را وځړول شي او يا يې لاسونه او پښې په متقابل شکل (ښی لاس او چپه پښه) پرې کړی شي او يا د خپلې سيمې څخه وشړل شي، دا د دوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او په آخرت کې ورته ډېر لوی عذاب دی. دا که مستقل حد وګڼل شي او که نه او په دې ايت کې که «أو» د تخيير لپاره وي او که د توزيع لپاره، خو دا په دې قطعا دلالت کوي چې په مسلمانه ټولنه کې شخصي ملکيت محترم دی او هيڅ چا ته پرې د تېري اجازه نشته او څوک چې پرې تېری کوي شريعت يې په سترې جزا محکوموي.
3. الله تعالی په قرآن کريم کې په داسې معجزو کلماتو د خلکو په مالونو د تېري څخه مسلمانان منع کړي دي چې هر هغه تصرف ته شامليږي چې شرعا روا نه دي، الله تعالی فرمايي: { وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ } [البقرة: 188]. يو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ (يو د بل په مالونو تېری مه کوئ) او د مالونو فيصلې حاکمانو ته په دې نيت مه وړئ چې په ګناه (په دروغجنو قسمونو او يا هم نا سمو ګواهيو او شهادتونو) سره د خلکو د مالونو يوه برخه وخورئ (خپله تصرف کې راولئ) او تاسې په دې ښه پوهېږئ (دا دعوه مو نا سمه او دروغجنه ده). امام نسفي د دې ايت په تفسير کې وايي: يو د بل مالونه په داسې توګه مه خورئ چې الله تعالی روا کړي نه وي او مشروع يې نه وي ګرځولي او «تدلوا» ځکه مجزوم دی چې په «تأكلوا» باندې عطف دی او د نهې په حکم کې شامل دی، معنی يې دا ده چې د مالونو فيصلې په دې خاطر حکامو ته مه وړئ چې د خلکو د مالونو څخه يوه برخه په ګناه سره ترلاسه کړئ، يعنې په دروغجنو ګواهيو او په دروغجنو قسمونو او يا په داسې مصالحه يې په خپل تصرف کې راولئ چې «مقضي له» ښه په دې پوهېږي چې هغه ظالم دی[24]. دا ايت د چا په شخصي ملکيت او مال کې هر ډول نا سم تصرف ناروا او حرام

[24] - مدارك التنزيل وحقائق التأويل (1/ 163) د أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (المتوفى: 710هـ) ليکنه، تحقيق او تخريج: يوسف علي بديوي، چاپوونکي اداره: دار الكلم الطيب، بيروت، لومړی چاپ، کال 1419 هـ - 1998 م.

ګڼي.

4. قرآن کریم د بل چا مال په ناروا توګه ترلاسه کول په مطلق ډول حرام ګرځولي دي، په دې اړه الله تعالی فرمايي: { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا} [النساء: 29]. ای هغه خلکو چې ایمان مو راوړی! یو د بل مالونه په باطله توګه مه خورئ (مه يې لاسته راوړئ) مګر که داسې سوداګري وي چې په خپلو کې يې په خپله خوښه سرته رسوئ (نو د هغه خوړل او له هغه لارې مال لاسته راوړل درست کار دی) او یو بل مه وژنئ، بې له شکه الله تعالی پر تاسې زيات رحم کونکی دی. شيخ ابو السعود[25] د دې ايت په تفسير کې وايي: د دې ايت په پيل کې د نداء او تنبيه اسلوب څکه کارول شوی چې په دې ايت کې د ذکر شوي مضمون او مسألې په اړه د کمال اهتمام څرګندونه وکړي او د باطل څخه مراد هر هغه څه دي چې د شريعت سره په ټکر کې وي، لکه غصب، غلا، خيانت، قمار، سودي او ربوي تړونونه او نو هر هغه څه چې شريعت يې اجازه نه وي کړي، معنی يې دا شوه چې د شرعي لارو پرته يو د بل مال مه خورئ، «الا أن تكون تجارة» کې استثناء منقطع ده... او يوازې د سوداګرۍ يادونه سره له دې چې د تملک نورې لارې چارې هم شته د دې لپاره شوی چې دا تر ټولو غالبه او مهمه وسيله ده، نور مفسرين وايي چې په دې کې مسلمانان او غير محارب کافران ټول هم شامل دي. دا خو عام حکم دی چې د هيڅ چا مال په ناروا توګه تصرف کول جايز نه دي د دې ترڅنګ د مستضعفو طبقو په مالونو کې تصرف په ځانګړې ډول قران کريم حرام ګرځولی دی، الله تعالی فرمايي: {وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا} [النساء: 2] د يتيمانو مالونه د خپلو مالونو سره يو ځای مه خورئ (مه تصرف کوئ) دا کار لويه ګناه ده.

5. له ناروا لارو د بل چا مال تصرف کول او په خپله ولکه کې راوستل ډېره لويه ګناه ده، د الله جل جلاله د قهر او غضب لامل ګرځي، "عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ يَمِينَ صَبْرٍ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ» فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَصْدِيقَ ذَلِكَ: {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} [آل عمران: 77]"[26]. چا چې د درواغو قسم وخوړه چې د يو مسلمان مال را خپل کړي نو د الله تعالی سره به (د قيامت په ورځ) په داسې حالت کې مخ شي چې هغه به پرې قهر او غضب وي، نو الله پاک د دې تصديق د دې ايت په شکل نازل کړ، هغه خلک چې د الله د عهد او د خپلو قسمونو د پلورلو له لارې لږ قيمت ترلاسه کوي، د دوی لپاره په آخرت کې (د خير او کاميابۍ) هيڅ برخه نشته او نه به ورسره الله تعالی خبرې وکړي او نه به ورته د قيامت په ورځ د رحمت په نظر وګوري او نه به يې له ګناهونو پاک کړي او دوی لپاره دردناک عذاب دی. نو څوک چې په هر ناروا شکل د چا شخصي مال تصرف کوي هغه ځان په آخرت کې د الله تعالی د قهر او د هغه ټولو جزا ګانو مستحق ګرځوي چې په ايت کې يې يادونه شوی ده.

---

[25] - تفسير أبي السعود المسمى بإرشاد العقل السليم إلى مزايا القرآن الكريم(2/ 170)، تأليف: محمد بن محمد العمادي أبو السعود، چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

[26] - دا حديث متفق عليه دی، صحيح البخاري (6/ 34) کتاب التفسير او صحيح مسلم ، د شيخ فؤاد عبد الباقي ترقيم او چاپ (1/ 122) په «باب وعيد من اقتطع حق المسلم بيمين فاجرة بالنار».

6. د چا ډېر لږ مال هم په ناروا توګه په خپله ولکه کې راوستل د انسان لپاره د جنت څخه د محرومیت او د جهنم د لازمي کېدو لامل ګرځي، په دې اړه دا حدیث په څرګندو ټکو دا خبره بیانوي "عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ، فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ» فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «وَإِنْ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ»"[27]. أبو امامه رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د کوم مسلمان حق (مال) د قسم په ذریعه را د ځان کړي، نو الله تعالی ورته د جهنم اور لازم کړ او جنت يې پر هغه حرام کړ، نو یو سړي پوښتنه وکړه چې ای رسول الله صلی الله علیه وسلم که ډېر لږ شی هم وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که د کیکر د ونې یوه لخته هم وي.

7. د یو مسلمان د شخصي ملکیت او مال حرمت دومره زیات دی چې رسول صلی الله علیه وسلم یې حرمت د داسې شیانو سره تشبیه کړی دی چې د عربو قبایلو له نظره له پیړیو راهیسې له احترام څخه برخمن وو، چې هیڅ چا هم پرې د تېرې تصور نه کاوه، په حدیث کې راځي: "عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، ذَكَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَعَدَ عَلَى بَعِيرِهِ، وَأَمْسَكَ إِنْسَانٌ بِخِطَامِهِ - أَوْ بِزِمَامِهِ - قَالَ: «أَيُّ يَوْمٍ هَذَا»، فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ، قَالَ: «أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ» قُلْنَا: بَلَى، قَالَ: «فَأَيُّ شَهْرٍ هَذَا» فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ، فَقَالَ: «أَلَيْسَ بِذِي الحِجَّةِ» قُلْنَا: بَلَى، قَالَ: «فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ، وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ، بَيْنَكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الغَائِبَ، فَإِنَّ الشَّاهِدَ عَسَى أَنْ يُبَلِّغَ مَنْ هُوَ أَوْعَى لَهُ مِنْهُ»"[28] عبد الرحمن بن ابی بکرة د خپل پلار څخه روایت کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یادونه یې وکړه چې په خپل اوښ باندې کښېناسته او یو چا يې د اوښ مهار ونیوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا کومه ورځ ده؟ موږ چپ پاتې شو، تر دې چې فکر مو وکړ چې کېدلی شي په بل نوم يې ونوموي، وه يې فرمایل: دا یوم النحر نه ده؟ موږ وویل: بلې ده، بیا يې وفرمایل: دا کومه میاشت ده؟ موږ چپ پاتې شو، تر دې چې تصور مو وکړ چې کېدلی شي په بل نوم يې ونوموي، نو وه يې ویل: دا ذي الحجة نه ده؟ موږ وویل: بلې ده، نو وه يې ویل: ستاسې وینې (ارواح) او ستاسې مالونه، ستاسې ناموسونه ستاسې ترمنځ همداسې حرام دي لکه د دې ورځې حرمت په دې میاشت کې او ستاسې په دې ښار کې، دا خبره دې حاضر خلک غایبانو ته ورسوي، کېدلی شي حاضر خلک يې داسې خلکو ته ورسوي چې له هغه څخه يې په دې اړه درک زیات وي. هغه محرمات چې په جاهلیت کې ورته خلکو ډېر زیات احترام درلوده، لکه په اشهر الحرم کې د ذي الحجې میاشت او په ذي الحجة کې بیا د هغه لسمه ورځ او د مکې معظمې ښار، دا دومره محسوس محترم شیان وو چې هیڅ چا يې هم د احترام په اړه یوه ذره شک او تردید نه درلود، رسول الله د مسلمانانو په وینو او مالونو باندې تېرى د دې محرماتو سره تشبیه کړ، چې په ډېر قوي شکل د دې شیانو حرمت په ذهن کې کښېني.

---

[27] - صحیح مسلم - عبد الباقي (1/ 122) د فؤاد عبد الباقي چاپ، د حدیث شمېره (۱۳۷).

[28] - دا متفق علیه حدیث دی، امام بخاري هم په خپل صحیح کې په ډېرو ځایونو کې روایت کړی دی، د بېلګې په توګه وګورئ: صحیح البخاري (1/ 24) د طوق النجاة چاپ.

8. د مسلمان د مال حرمت د هغه د وينې په څېر دی، په يو حديث کې راځي: "عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " سِبَابُ الْمُسْلِمِ أَخَاهُ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ، وَحُرْمَةُ مَالِهِ كَحُرْمَةِ دَمِهِ "[29]. عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د مسلمان خپل ورور ته ښکنځل کول فسق (کبيره ګناه) دی او د هغه پر ضد جنګ کول د کفر عمل دی او د مسلمان د مال حرمت همداسې دی لکه د هغه د وينې او نفس حرمت. د يو انسان د وينې په حرمت کې خو څوک هيڅ شک نه شي کولی نو همدا راز بايد د مال په حرمت کې هم څوک بايد شک ونکړي.

9. په نا حقه توګه د مسلمان مال اخيستل جواز نه لري، دا په هغه صحيح حديث کې چې ابو حميد ساعدي رضي الله عنه روايت کړی دی راغلي دي:"عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ أَنْ يَأْخُذَ مَالَ أَخِيهِ بِغَيْرِ حَقِّهِ " وَذَلِكَ لِمَا حَرَّمَ اللهُ مَالَ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ" او په يو بل روايت کې راځي چې ابو حميد ساعدي رضي الله عنه وويل: "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَأْخُذَ عَصَا أَخِيهِ بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسِهِ " وَذَلِكَ لِشِدَّةِ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَالِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ"[30]. ابو حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د مسلمان انسان لپاره جواز نه لري چې د خپل ورور مال نا حقه تصرف کړي او دا له دې امله چې الله تعالى د مسلمان مال پر مسلمان حرام کړی دی. په بل روايت کې راځي: د يو چا لپاره د خپل ورور امسا د هغه له اجازې پرته اخيستل روا نه دي او دا له دې امله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمان مال پر مسلمان باندې په ډېر شدت سره حرام ګڼلی دی.

10. د مسلمان د مال او شخصي ملکيت په اړه په ډېر څرګند ډول رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې سپارښتنه کوي چې د هغه د خوښۍ پرته هيڅ چا ته په کې تصرف جواز نه لري، حديث کې راځي: "أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "لا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ"[31]. پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي: د هيڅ مسلمان انسان مال د هغه له خوښې پرته حلال نه دی. تر دې چې که ټول مال يې څوک نه اخلي خو يوازې د يو څه وخت لپاره ترې استفاده کوي دا هم جواز نه لري، په بخاري او مسلم کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "لَا يَحْلُبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ امْرِئٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ، أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تُؤْتَى مَشْرُبَتُهُ، فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ، فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ؟ فَإِنَّمَا تَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَاتِهِمْ، فَلَا يحلبن أحد ماشية أحد إلا

---

[29] - دا حديث په بېلابېلو طريقو روايت شوی دی، ټولې طريقې او سندونه يې شيخ شعيب الأرنؤوط راجمع کړي دي او حديث ټولو سندونو ته په کتلو صحيح ګڼلې دی، وګورئ: مسند أحمد (7/ 296) تأليف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط او عادل مرشد او نور ملګري يې، د دکتور عبد الله بن عبد المحسن التركي د څار لاندې، چاپوونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال: 1421 هـ - 2001 م.

[30] - مسند أحمد ط الرسالة (39/ 19) او علماو پرې د صحت حکم کړی دی.

[31] - دا حديث په ګڼو سندونو د ابو حرة الرقاشي د تره (چې ابو زرعة الرازي وايي چې نه د ابو حرة الرقاشي نوم مشخص دی او نه يې د تره او غير له دې حديث څخه بل کوم حديث هم ترې روايت شوی نه دی«علل ابن أبي حاتم ج ٢ ص ٣٢٤-٣٢٥ شمېره: ٢٤٩٣) ابن عباس، انس بن مالک او ابو حميد الساعدي څخه نقل شوی دی، چې بېلابېلو سندونو ته کتلو د استدلال وړ ګرځي، دې لپاره وګوئ: مسند أبي يعلى الموصلي ج3 ص 70، تأليف: الإمام الحافظ أحمد بن على بن المثنى التميمي (٢١٠ - ٣٠٧ هـ) او ورسره «رحمات الملأ الأعلى بتخريج مسند أبي يعلى» هم دی، تخريج اوتعليق: سعيد بن محمد السناري، خپروونکې اداره: دار الحديث – القاهرة، لومړی چاپ، کال: ١٤٣٤ هـ - ٢٠١٣ م.

بإذنه"[32]. څوک دې د چا څاروی د هغه له خوښې پرته نه را لوشي، تاسې دا خوښوئ چې ستاسې گودام ته څوک راشي او مات يې کړي او په هغه کې موجود خوراک بې ځايه کړی شي؟ د دوی د څارويو غولانځې هغوی ته د هغوی خوراک ذخيره کوي، نو څوک دې د چا څاروی د هغه له خوښې او اجازې پرته نه را لوشي. د مسلمان ورور هيڅ شی اخيستل هم روا نه دي، تر دې چې که د چا امسا هم څوک واخلي نو بايد چې بېرته يې ورکړي، په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: " لَا يَأْخُذْ أَحَدُكُمْ مَتَاعَ أَخِيهِ لَاعِبًا أَوْ جَادًّا، وَإِذَا أَخَذَ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ "[33]. څوک دې د خپل مسلمان ورور لږ مال هم نه په ټوکو کې او نه په جدي حالت کې اخلي، که چا د خپل ورور امسا هم واخيسته نو بيرته دې يې ورکړي. په بل حديث کې يې د دې علت بيان کړی دی چې دا کار هم حرام دی ځکه دا د چا په مال کې تصرف دی. "لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ أَنْ يَأْخُذَ عَصَا أَخِيهِ بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسِهِ وَذَلِكَ لِشِدَّةِ مَا حَرَّمَ اللَّهُ مَالَ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ".[34] چا ته روا نه دي چې د خپل ورور امسا هم د هغه له خوښې پرته واخلي او دا له دې امله چې پر مسلمان باندې د مسلمان د مال الله جل جلاله په ډېر شدت سره حرام گرځولی دی. بلکې د مسلمان ورور داسې مال چې په عامه توگه يې څوک له چا څخه نه منع کوي لکه اوبه هم د هغه له اجازې پرته اخيستل او ترې استفاده کول ناروا دي، په حديث کې راځي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لا يشربن أحدكم ماء أخيه إلا بطيبة من نفسه»[35]. څوک دې د خپل ورور اوبه د هغه له خوښې پرته نه څښي.

11. همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم په زوره د چا مال اخيستل حرام کړي دي، په دې اړه امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې د يو باب عنوان داسې ايښی دی، وايي: "بَاب: النُّهْبَى بِغَيْرِ إِذْنِ صَاحِبِهِ" بيا يې دا معلق حديث راوړی چې "وَقَالَ عُبَادَةُ: بَايَعْنَا النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَنْ لا ننتهب" عبادة بن الصامت رضي الله عنه وايي چې موږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په دې بيعت کړی وه چې لوټ به نه کوو او بيا يې په کې دا مسند حديث راوړی چې "نَهَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عن النهبى والمثلة"[36]. رسول الله صلی الله عليه وسلم د خلکو د مال د لوټ کولو او د مړو د مثله کولو څخه منع کړی ده. دلته هم د نهبی څخه هغه مال دی چې خلک يې لوټ کوي او د مال د څښتن خوښه نه وي، په دې اړه ابن بطال وايي: "قال ابن المنذر: وفسر الحسن والنخعى هذا الحديث، فقالا: النهبة المحرمة أن ينتهب مال الرجل بغير إذنه وهو له كاره"[37]. ابن المنذر وايي: حسن بصري او ابراهيم نخعي د دې حديث تفسير داسې کوي، وايي: حرام لوټ کول هغه دي چې د چا مال د هغه له اجازې

---

[32] - متفق عليه صحيح البخاري ج2 ص 858، د حديث شمېره: ۲۳۰۳، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، دمشق، او صحيح مسلم ج3 ص 1352، د حديث شمېره، ۱۷۲۶، باب تحريم حلب الماشية بغير اذن مالكها، د فؤاد عبد الباقي تحقيق.

[33] - السنن الكبرى ج6 ص 154، تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، درېم چاپ، کال: 1424 هـ - 2003 م.

[34] - السنن الصغرى للبيهقي مع شرحه المنة الكبرى شرح وتخريج السنن الصغرى (5/ 382)، محمد ضياء الرحمن الأعظمي، الناشر: مكتبة الرشد، د نشر کال: 1422هـ - 2001م، رياض، السعودية.

[35] - سنن الدارقطني (3/ 422) (سنن الدارقطني (3/ 422) د حديث شمېره: (2882) تأليف: أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي الدارقطني (المتوفى: 385هـ)، تحقيق: شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، خپرونکې اداره: مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال 1424 هـ - 2004 م.

[36] - صحيح البخاري ج2 ص 875، تحقيق مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير/ دار يمامة ـ دمشق.

[37] - شرح صحيح البخاري ج 6 ص 603، تأليف: ابن بطال أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك (ت ٤٤٩ هـ) تحقيق: أبو تميم ياسر بن إبراهيم، چاپوونکي اداره: مكتبة الرشد - السعودية، الرياض، دويم چاپ، کال: ۱۴۲۳ هـ - ۲۰۰۳ م.

پرته لوټ کړی شي او د هغه خوښه نه وي. که مشترکه هدیه وي او خلک یې لوټ کړي دا کار بیا مکروه دی، لکه یو شمېر چې مشترک خیرات لوت کوي او یا هم د عمومي افطاري لپاره اماده کړی شوی خوراک لوټ کوي. بیا په دې کې د کافر او مسلمان تفاوت نشته، که څوک د کافر مال لوټ کوي او که د مسلمان چې د هغه خوښه نه وي دا ټول حرام او ناروا کار دی، ځکه دا انساني حقوق دي او په انساني حقوقو کې کافر او مسلمان یو حکم لري، دا حقوق هغه ته د انسان په توګه اسلام ورکړي دي.

12. د همدې مالیې (ټېکس) په اړه چې کوم صریح احادیث راغلي دي دلته د هغوی یادونه اړینه بولم چې دا څرګنده شي چې په عامه توګه د مسلمان مال د هغه له خوښې پرته اخیستل ډېره لویه ګناه ده خو که څوک یې د مالیې (ټېکس) په نوم هم اخلي او په شریعت کې یې حق نه وي هغه هم ډېره لویه ګناه ده، په دې اړه چې کوم حدیث او د حدیثو په ډېرو کتابونو کې نقل شوی، په هغه عقبة بن عامر الجهني وایي: چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې وه یې ویل:"لَا يَدْخُلُ صَاحِبُ مَكْسٍ الْجَنَّةَ " يَعْنِي الْعَشَّار[38]. د مالیې (ټېکس) راټولوونکی به جنت ته داخل نه شي، بیا راوي د «صاحب مکس» معنی بیانوي چې له دې څخه مراد ګمرک راټولوونکی دی. بل حدیث د رویفع بن ثابت نه روایت دی کله چې هغه د مسلمه بن مخلد له لورې (چې د مصر والي وه) ورته د ټېکس د راټولوونکي په حیث د ټاکنې وړاندیز وشو هغه وویل: "سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن صاحب المكس في النار"[39]. د ټېکس را ټولوونکی په اور کې دی. بل حدیث کې راځي مالک بن عتاهیة وایي: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إذا لقيتم عاشرا فاقتلوه»[40]. ټېکس را ټولوونکې مو چې ولیده وه یې وژنئ. د عشر د راټولوونکي ګناه دومره لویه ښودل شوې چې د یو زاني انسان څخه هم زیاته، په یو اوږد حدیث کې راځي کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په غامدی ښځې باندې د رجم حکم وکړ، نو د رجم کولو په وخت کې حضرت خالد بن ولید یوه ډېره را واخیستله او په سر یې پرې وویشته چې له هغې د وینې څاڅکي د خالد بن ولید مخ ته را والوتل، نو خالد بن ولید هغې ته ښکنځل وکړل، نو پیغمبر علیه السلام د خالد بن ولید دا بد رد واورېدل، نو وه یې فرمایل: «مَهْلًا يَا خَالِدُ بْنَ الْوَلِيدِ لَا تَسُبَّهَا فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ»[41]. خالد بن ولیده لږ په قرار شه! دې ته ښکنځل مه کوه، په هغه ذات مې قسم چې زما روح یې په لاس کې

---

[38] - مسند أحمد ج 28 ص 586 د امام أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ) تأليف، تحقيق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، او نور، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپروونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال: 1421 هـ - 2001 م. د کتاب تحقیق کونکي وایي: دا حدیث حسن لغیره دی (هدف یې دا دی چې ټول سندونه یې را ټول کړی شي نو د متابعاتو او شواهدو په نتیجه کې د حسن لغیره درجې ته لوړېږي) او په خپله دا سند چې مسند احمد کې راغلی دا ضعیف دی، په مسند احمد له دې مخکې هم دا حدیث په (۱۷۲۹۴) شمېره ذکر شوی دی، او دا ځکه ضعیف دی چې محمد بن اسحاق مدلس دی او روایت په «عن» سره کوي، دا حدیث د ابن الجارود په المنتقی (۳۳۹) کې د ابو یعلی په مسند (۱۷۵٦) طبراني په معجم کبیر کې ۸۷۸/۱۷، حاکم په مستدرک کې ۴۰۴/۱، بیهقي په السنن کې ١٦/٧ ، روایت کړی دی، حاکم په مستدرک کې وایي چې دا حدیث د امام مسلم په شرط صحیح دی، خو دا خبره یې «وهم» دی، ځکه ابن اسحاق د صحیح مسلم د راویانو څخه نه دی، بلکې له هغه څخه یې په متابعاتو کې روایت کړی دی، بیا په دې حدیث کې هغه په عن سره روایت کوي او پخپله مدلس دی، نو بناء دا حدیث لذاته نه صحیح دی او نه حسن خو د متابعاتو او شواهدو په نظر کې نیولو سره دا حدیث حسن لغیره دی. د تفصیلي تخریج لپاره وګورئ: ما رواه الأساطين في عدم المجيء الى السلاطين (ذم القضاء وتقلد الأحكام، ذم المكس) ص ۹۹ د حدیث شمېره (۱۵۵) د امام جلال الدین السیوطي کتاب، تحقیق: مجدي فتحي السبت، خپرونکې اداره: دار الصحابة للنشر والتوزيع، طنطا- مصر، لومړی چاپ، کال: ۱۴۱۱هـ ق ۱۹۹۱م.

[39] - ما رواه الأساطين فی عدم المجيء الى السلاطين ص ۱۰۰، د حدیث شمېره (۱۵٦) د امام سیوطي کتاب (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی)، دې حدیث ته هم په مجموع کې حسن ویل شوی دی، د همدې کتاب محقق او معلق هم پرې د حسن حکم کړی دی.

[40]- ما رواه الأساطين في عدم المجيء الى السلاطين ص ۱۰۱ د حدیث شمېره (۱۵۷) دا حدیث ضعیف دی.

[41] - دا حدیث په صحیح مسلم کې رویات شوی دی، صحیح مسلم ج 3 ص 1323 د حدیث شمېره (1695) د شیخ فؤاد عبد الباقي نسخه.

دی، دې داسې توبه ویستلی ده که د ټېکس راټولوونکی یې هم وباسي، نو بخښنه به ورته وشي. د حدیثو تقریباً ټول شارحین همدا وایي چې له دې څخه د زکات او د هغه پیسو راټولوونکي مراد نه دي چې په ذمیانو باندې د جزیې او یا هم د خراج په توګه ایښودل شوې وي، بلکې هغه ګمرک او مالیه مراد ده چې د سوداګرو څخه د زکات پرته اخیستل کېږي، په دې اړه د مشکاة شارح امام طیبي وایي: «وهو العشار أراد بصاحب المكس الذي يأخذ من التجار إذا مروا مكسا باسم العشر، وأما الساعي الذي يأخذ الصدقة، ومن يأخذ من أهل الذمة العشر الذي صولحوا عليه فهو محتسب ما لم يتعد فيأثم بالتعدي والظلم»[42]. د صاحب مکس څخه د سوداګرو څخه عشر راټولوونکی مراد دی، صاحب مکس هغه څوک دی چې کله یې سوداګر له مخې تېرېږي، نو هغه ترې د عشر په نوم ټېکس او ګمرک (مکس) اخلي او هغه څوک ترې مراد نه دی چې زکات را ټولوي او یا د ذمیانو څخه هغه عشر راټولوي چې هغوی سره پرې سوله شوې وي، ځکه هغه خو د ثواب مستحق دی تر څو چې په خلکو تېری ونه کړي، نو که تېری او ظلم یې وکړي نو په هغه به ګناهکاږي.

د مال د حرمت په اړه خو نور هم ډېر زیات نصوص شته چې دلته به یې راوړل د بحث د اوږدوالي لامل وګرځي، د دې نصوصو او دلایلو یادونې ته هم اړتیا نه لیدل کېده ځکه چې «حفظ المال» د دین له ضروریاتو څخه شمېرل کېږي او په ضروریاتو باندې یو څو دلایل وړاندې کول غلط فهمي را پیدا کولی شي چې دا به په همدې یادو شوو نصوصو او دلایلو باندې ثابت وي، سره له دې چې د دین ضروریات هغه شیان دي چې د ډېرو زیاتو دلایلو څخه ثابت وي، خو موږ د دې لپاره دلته د دې څو دلایلو یادونه وکړه چې همدا (په شریعت کې د فردي ملکیت حرمت او احترام) زموږ د بحث محور تشکیلوي.

د دې ترڅنګ د فقهي کتابونو د مالي معاملاتو اړوند بحثونه زیات د همدې موضوع سره تړاو لري، ټول د همدې موضوع شا او خوا را څرخېږي چې کومې لارې چارې د شریعت له نظره د تملک د سمې لارې دي او کوم ډول معاملات د نورو په ملکیتونو تېری ګڼل کېږي چې له هغو لارو د بل چا په مال کې تصرف ناروا دی، همدا راز د غصب، لقطې او نور ډېر مباحث د همدې قضیې اړوند دي.

لنډه دا چې په اسلام کې شخصي ملکیت د هر چا له تصرف او تېري څخه باید محفوظ وي، هیڅ څوک باید د هغه د څښتن له خوښې او اجازې پرته د چا په مال کې لاس وهنه ونه کړي، څوک باید د چا مال په خپل ملکیت کې را نه وړي، هغه که فرد وي او که حکومت او که کومه اداره، دا د شریعت قاطع حکم دی او دا کار حرام دی. دا خو د فردي ملکیت اړوند یو څه احکام وو، اوس د ملکیت د دویم ډول چې ټولنیز ملکیت دی اړوند لنډ بحث کوو.

**دویم: ټولنیز ملکیت**

اسلام نه د کمونیزم په څېر دی چې فردي او شخصي ملکیت نفي کوي او هر څه ټولنیز ملکیت ګڼي چې اداره یې باید د ټولنې او حکومت په لاس کې وي او حکومت به په طبیعي توګه د کمونیست ګوند په لاس کې وي، چې په پایله کې به هر څه د کمونیست ګوند د مشرانو په ولکه کې وي، چې په پایله کې د برژوازي طبقې حیثیت غوره کوي او نه هم د سرمایه دارۍ په څېر دی چې هر څه په شخصي ملکیت کې منحصر ګڼي او ټولنیز ملکیت یو استثنایي حالت ګڼي، بلکې اسلام هم شخصي ملکیت ته اجازه ورکوي او هم ټولنیز ملکیت ته، خو بیا د فقهاوو ترمنځ په دې اړه د نظرونو تفاوتونه شته دي چې

[42] - شرح الطيبي على مشكاة المصابيح المسمى بـ (الكاشف عن حقائق السنن) ج 8 ص2580، تأليف: شرف الدين الحسين بن عبد الله الطيبي (743هـ)، تحقيق: د. عبد الحميد هنداوي، خپرونکې اداره: مكتبة نزار مصطفى الباز (مكة المكرمة - الرياض)، لومړی چاپ، کال: 1417 هـ - 1997م

یو شمېر شیان شخصي ملکیت وګڼل شي او که ټولنیز ملکیت، د بېلګې په توګه کانونه چې امام مالک رحمه الله یې (د یو قول پر بنسټ) ټولنیز ملکیت ګڼي او احناف او نور فقهي مذهبونه یې فردي ملکیت ګڼي[43]، همدا راز شاړې ځمکې ټولنیز ملکیت دی چې ابادول یې د حکومت او دولت اجازې ته اړتیا لري او که نه دې ډول اجازې ته هم اړتیا نه لري، بلکې چا چې اباده کړه د هغه ده[44].

**دویم اصل: د مال په لاسته راوړلو کې د اسلام د اخلاقي او شرعي ارزښتونو رعایت**

اسلام د مال د کسب لپاره څه اصول ټاکلي د مال په کسب کې دا اصول په دقت سره باید په پام کې وساتل شي، له همدې امله په اسلام کې د هرې هغه لارې څخه مال ګټل او لاسته راوړل ناروا او نا درست دي چې د دې اصولو سره په ټکر کې وي او اسلامي شریعت ترې منع کړې وي او دا په اجمالي توګه په دې لاندې اصولو کې خلاصه کېږي:

- هر هغه حالت چې په ظلم او تیري مشتمل وي او د چال مال د ظلم، غصب او د زور په پایله کې څوک د خپل واک لاندې راوړي، او د چا له خوښې پرته د هغه په مال کې څوک تصرف وکړي.
- په پټه او غلا د چا مال لاسته راوړل.
- له داسې لارو چارو نه مال لاسته راوړل چې د مال او پانګې د ملکیت بدلون په کې د ټولنې د پراختیا او پرمختګ لامل نه ګرځي، په عامه توګه د مال او پانګې د ملکیت بدلون د دې لپاره کېږي چې پراختیا په کې رامنځته شي، خو په کومو معاملاتو کې چې دا مقصد ترلاسه نه شي هغه شریعت حرام کړي دي، لکه سود (ربا) او جواري (قمار او میسر) په سود او جواري کې سره له دې چې د مال ملکیت بدلېږي، خو دا د ټولنې د پراختیا او پرمختګ لامل نه ګرځي.
- هغه لارې چارې چې د ټولنې د اړتیا وړ شیان په کې د یو څو محدودو کسانو په واک کې قرار ولري او په ټولنه کې یې د تداول (لاس په لاس کېدو) څخه مخنیوی وشي، لکه احتکار، همدا راز داسې انحصاري شرکتونه چې ټول بازار د هغوی په انحصار کې قرار ولري او هر وخت چې وغواړي د توکو بیه لوړه کړي او کله چې وغواړي دا بیه را کمه کړي، اسلام چا ته د خلکو د حالاتو څخه د ناوړه استفادې اجازه نه ورکوي.
- هغه ټول تړونونه او عقدونه چې ډېر زیات غرر، فریب او زیان په کې وي، ځکه دا د یو چا د نا پوهۍ او د بازار سره د نابلدتیا څخه ناوړه ګټه پورته کول دي او مسلمان استحصال کوونکی، فریب کار او دوکه باز نه وي.
- هغه ټول تړونونه او عقدونه چې نزاع او جنګ ترې رامنځته کېږي او دا هغه وخت کېږي چې د عقد د طرفینو (معقود علیه او ثمن) څخه یو او یا هم دواړه مجهول وي او په بشپړ ډول واضح او څرګند نه وي.
- معقود علیه او ثمن دواړه او یا له دواړو څخه یو د ملکیت قابلیت ونه لري او یا ثمن د داسې څه په مقابل کې تأدیه شي چې شریعت حرام کړي وي، لکه سحر، د ګډا او د نڅا د محافلو مصرف او قیمت او داسې نور.

---

[43] - د کانونو د ملکیت په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی تفصیل به یې وروسته راشي.

[44] - د دې موضوع د بشپړې روڼتیا لپاره د شیعه عراقي مرجع باقر الصدر کتاب اقتصادنا ته مراجعه وکړئ، هغه دا موضوع په ډېر تفصیل سره بحث کړی، او د اسلامي اقتصاد پرتله یې د غربی سرمایه دارانه اقتصاد او کمونستي اقتصاد سره کړې ده، چې دا یې د اسلامي اقتصاد بنسټیزه ځانګړتیا بللې ده.

- همدا راز هغه ټول حالتونه په دې کې شامل دي چې د تړون او عقد د اړخونو (عاقدينو) څخه يو او يا هم دواړه په عقد او تړون او د هغه په شرطونو باندې التزام ونکړي او عملي يې نه کړي[45].

دا هغه بنسټيز اصول او مقاصد دي چې په اسلامي شريعت کې د مالي معاملاتو لپاره شريعت ټاکلي دي، همدا هغه ناروا او نادرست صورتونه دي او له دې امله چې په معاملاتو کې اصل اباحت دی، نو که له دې صورتونو پرته کوم بل صورت وه هغه به جواز لري سره له دې چې په شرعي نصوصو کې يې يادونه هم نه وي شوي، چې دې ته فقهاء عقود غير مسماة وايي.

**دريم اصل: ټولنيز تکافل**

د اسلامي مالي نظام يو اصل دا دی چې هر شتمن انسان بايد د مالي واجباتو (چې شريعت پرې فرض کړي دي) تر څنګ يو اندازه هغه مال چې د هغه له ضرورت څخه زيات دی، د فقيرانو او غريبانو د ضرورتونو د پوره کولو لپاره مصرف کړي، په دې اړه ډېر نصوص راغلي چې په صدقه او خيرات باندې ټينګار کوي او د ډېرو ثوابونو وسيله يې ګڼي چې دلته يې يادونه د بحث د اوږدېدو لامل ګرځي.

د فقيرانو او مسکينانو د ضرورتونو د پوره کولو مسؤوليت په هره ټولنه کې په مجموعي توګه د هغه ټولنې د ټولو وګړو پر غاړه دی، چې دې ته موږ کفايي فرض وايو، خو دا په عيني شکل د هر چا په فرايضو کې شامل نه دی، له همدې امله د دې ايت په تفسير کې چې الله متعال فرمايي: {وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ (24) لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ } [المعارج: 24، 25] او هغه حديث چې فاطمه بنت قيس يې روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: "إِنَّ فِي هَذا المالِ حَقًّا سِوَى الزَّكاةِ"[46] سره له دې چې د دې حديث په صحيح لفظ کې د محدثينو ترمنځ اختلاف دی چې درست لفظ يې همدا دی که سم لفظ يې "ليس في المال حق سوى الزكاة" خو که همدا د اثبات لفظ هم راجح وګڼو، نو له دې سره هم دا د ټولنيز تکافل په وجوب باندې دلالت نه کوي، همدا د جمهورو فقهاوو نظر دی.

په دې اړه امام نووي رحمه الله وايي: "وَقَدِ اخْتَلَفَ السَّلَفُ فِي مَعْنَى قول الله تعالى وفي أموالهم حق معلوم للسائل والمحروم فَقَالَ الْجُمْهُورُ الْمُرَادُ بِهِ الزَّكَاةُ وَأَنَّهُ لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ وَأَمَّا مَا جَاءَ غَيْرَ ذَلِكَ فَعَلَى وَجْهِ النَّدْبِ وَمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَلِأَنَّ الْآيَةَ إِخْبَارٌ عَنْ وَصْفِ قَوْمٍ أَثْنَى عَلَيْهِمْ بِخِصَالٍ كَرِيمَةٍ فَلَا يَقْتَضِي الْوُجُوبَ كَمَا لَا يَقْتَضِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى كَانُوا قَلِيلًا من الليل ما يهجعون وَقَالَ بَعْضُهُمْ هِيَ مَنْسُوخَةٌ بِالزَّكَاةِ وَإِنْ كَانَ لَفْظُهُ لَفْظَ خَبَرٍ"[47].

د دې ايت د تفسير په اړه د سلفو ترمنځ اختلاف دی چې الله تعالی فرمايي: «د دوی په مالونو کې د سوال کوونکي او محروم (چې شتمن نه دی) يو ټاکلی حق دی» جمهور وايي چې له دې څخه زکات مراد دی او د زکات څخه پرته په مال کې بل کوم واجب حق نه شته او له دې پرته چې څه راغلي هغه په استحباب حمل دي او د ښو اخلاقو د غوښتنو څخه دي او دا ځکه هم په فرضيت او وجوب حمل نه دی چې دا خبر دی (د امر صيغه نه ده) په دې ايت کې الله تعالی د يو داسې

---

[45] - دې سره ورته مقاصدو او کلياتو لپاره وګورئ: فقه المعاملات المالية (المال، الملکية، العقد) ص ۱۹ – ۲۱، ليکوال: أ. د. محمد عثمان شبير (کلية الشريعة – جامعة قطر) چاپوونکی اداره: دار النفائس للنشر والتوزيع، اردن، دريم چاپ، کال ۲۰۱۰م ۱۴۳۰هـ.

[46] - السنن الکبير ج 8 ص 18، تأليف: أبو بکر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي (۳۸٤ - ٤۵۸ هـ) تحقيق: الدکتور عبد الله بن عبد المحسن الترکي، خپرونکې اداره: مرکز هجر للبحوث والدراسات العربية والإسلامية – القاهرة، لومړی چاپ، کال: ١٤٣٢ هـ - ٢٠١١ م. دا حديث نه په اثبات سره (في المال حق سوى الزكاة) ثابت دی، چې په اړه يې امام ترمذي وايي: چې دا امام شعبي د قول په حيث روايت شوی دی، نه د پيغمبر عليه السلام د حديث په توګه، همدا راز په نفي سره (ليس في المال حق سوى الزكاة) هم صحيح نه دی لکه امام بيهقي چې وايي: د دې حديث هيڅ سند (

[47] - المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ج7ص71، تأليف: أبو زکريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت ٦٧٦هـ) چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ، کال: ١٣٩٢هـ ق.

ټولګي د ښه صفتونو خبر ورکوي چې الله تعالی یې ستاینه کړې او په ښه صفتونو یې د دوی یادونه کړې ده، نو دا د وجوب غوښتنه نه کوي، لکه له دې وروسته چې هغه بل وصف چې {كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ} [الذاريات: 17] د وجوب غوښتنه نه کوي، یو شمېر نور بیا وایي چې دا خو د وجوب غوښتنه کوي ځکه اصل لفظ یې د خبر دی خو معنی یې د امر ده، خو دا منسوخ دی. او یو شمېر نور علماء لکه شعبي، حسن بصري، طاووس، عطاء او مسروق دا په وجوب حمل کوي او منسوخ یې هم نه ګڼي او دا د تکافل کارونه واجب ګڼي.

کله چې د تکافل کارونه د امت د جمهورو علماوو (چې څلور واړه فقهي مذاهب په کې شامل دي) له نظره مستحب دي او د ښه او کریمه اخلاقو غوښتنه ده نو دا د مالیې (ټېکس) لپاره مبنی نه شي کېدلی، ځکه مالیه الزامي شی دی او دا مستحب او د هر چا د خوښې کار دی.

د دې اصولو په رڼا کې اوس ګورو چې په اسلامي حکومت کې مالیاتي سیاست باید څرنګه وي، د بودیجې د تمویل لپاره له کومو مواردو څخه استفاده کېدلی شي او کوم موارد داسې دي چې له هغوی څخه د دې اصولو په رڼا کې استفاده ناروا ده او یا په بل عبارت څنګه کېدلی شي چې هغه موارد چې په معاصر اقتصادي نظام کې ترې د هېوادونو د بودیجې د تمویل د مواردو په توګه استفاده کېږي، د مالي معاملاتو اړوند د اسلامي شریعت د دې اصولو سره برابر کړو؟ دا مسایل په لاندې کرښو کې د څېړنې لاندې نیسو.

### درېیم څپرکی: د اسلام مالیاتي سیاست «Islamic Fiscal Policy»

له دې امله چې اسلام د ژوند یوه بشپړه تګلاره ده؛ له همدې امله د نورو ټولو میدانونو په څېر د حکومت او دولت په بېلابېلو برخو کې هم انسانانو ته لارښوونه کوي، چې له دې جملې څخه یو هم د یو اسلامي حکومت لپاره مالیاتي سیاست دی، لکه مخکې مو چې ولوستل مالیاتي سیاست په عامه توګه هغه فعالیتونو ته ویل کېږي چې دولت یې په ټولنه کې د اقتصادي او ټولنیزو ټاکل شوو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره تر لاس لاندې نیسي او له دې لارې په اقتصادي او ټولنیز ژوند اغیز اچوي. دا سیاست هماغه برخې لري چې په معاصر اقتصادي فکر کې انسان ورته رسېدلی دی، چې په دې کې دا درې عناصر شامل دي:

- د حکومت د عایداتو موارد او سرچینې؛
- د هېواد عمومي او دولتي مصارف؛
- هغه ټولنیز او اقتصادي اهداف او مقاصد، چې د عوایدو او مصارفو د تنظیم له لارې باید ترلاسه شي.

له دې درې عناصرو څخه یوازې لومړی عنصر زموږ د څېړنې سره اړیکه لري، ځکه مالیه (ټېکس) په معاصر اقتصادي فکر کې له دې سرچینو څخه یوه سرچینه ده، موږ به په اسلام کې د عایداتو د سرچینو په ضمن کې دا وڅېړو چې ایا په اسلام کې هم مالیه د بودیجې د تمویل د سرچینو څخه یوه سرچینه شمېرل کېږي که نه؟

### لومړی: په اسلام کې د بیت المال موارد او سرچینې

دلته باید یوې مهمې قضیې ته اشاره وکړم او هغه دا چې په اسلامي شریعت کې د بیت المال موارد یوازې هغه نه دي چې په شرعي نصوصو کې یې یادونه شوې، ځکه د خلفای راشدینو په زمانه کې او همدا راز په خیر القرون کې ډېر داسې موارد په هغه لیست کې اضافه کړی شوي دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې له هغوی څخه د بیت المال د مواردو په توګه استفاده نه کېدله، د بېلګې په توګه په ځمکو باندې خراج ټاکل او له دې څخه د بیت المال د تقویت لپاره

استفاده کول، همدا راز د حربي کافرانو (چې د مستأمنینو په توګه دارالاسلام ته د خپل سوداګرۍ سره راځي) څخه عشر اخیستل او داسې نور په دې لړ کې د یادولو وړ دي.

د دې معنی دا ده چې د اسلام د مالیاتي سیاست دا برخه (د عایداتو سرچینې او موارد) د اجتهاد تابع ده، په یو اسلامي حکومت او نظام کې هر هغه څه د بودیجې مورد او سرچینه ګرځېدلی شي چې د پورته یادو شوو اصولو سره برابر وي او څه چې د دې اصولو سره موافقت ونلري هغه د اسلامي مملکت د عایداتو له مواردو څخه نه شي کېدلی.

## د فقهې په کتابونو کې د حکومت د عایداتو موارد

د فقهې په کتابونو کې د همدې اصل پر بنسټ چې دا موارد اجتهادي موارد دي یو څو مواردو ته اشاره شوې ده، د دې تفصیلاتو یادونه په بېلابېلو کتابونو کې شوې ده، خو موږ یې دلته یوازې د امام کاساني د بدایع الصنایع څخه نقل کوو، هغه وایي: « وَأَمَّا مَا يُوضَعُ فِي بَيْتِ الْمَالِ مِنْ الْأَمْوَالِ فَأَرْبَعَةُ أَنْوَاعٍ: أَحَدُهَا زَكَاةُ السَّوَائِمِ، وَالْعُشُورِ وَمَا أَخَذَهُ الْعَشَارُ مِنْ تُجَّارِ الْمُسْلِمِينَ إذَا مَرُّوا عَلَيْهِمْ، وَالثَّانِي خُمُسُ الْغَنَائِمِ، وَالْمَعَادِنِ، وَالرِّكَازِ، وَالثَّالِث خَرَاجُ الْأَرَاضِي وَجِزْيَةُ الرُّءُوسِ وَمَا صُولِحَ عَلَيْهِ بَنُو نَجْرَانَ مِنْ الْحُلَلِ وَبَنُو تَغْلِبَ مِنْ الصَّدَقَةِ الْمُضَاعَفَةِ وَمَا أَخَذَهُ الْعَشَارُ مِنْ تُجَّارِ أَهْلِ الذِّمَّةِ وَالْمُسْتَأْمَنِينَ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ، وَالرَّابِعُ مَا أُخِذَ مِنْ تَرِكَةِ الْمَيِّتِ الَّذِي مَاتَ وَلَمْ يَتْرُكْ وَارِثًا أَصْلًا، أَوْ تَرَكَ زَوْجًا، أَوْ زَوْجَةً»[48].

کوم مالونه چې په بیت المال کې ایښودل کېږي په څلور ډوله دي:

لومړی: د څارویو زکات، د مسلمانو سوداګرو څخه اخیستل شوی عشر، چې کله د عشر راټولوونکو تر مخ تېرېږي او هغوی ترې چې کوم زکات[49] راټولوي.

دویم: پنځمه برخه (خمس) چې د غنیمتونو او کانونو او رکاز څخه اخیستل کېږي.

درېم: په ځمکو باندې ټاکل شوی خراج، د افرادو پر سر ټاکل شوې جزیه، د نجران اوسېدونکو سره چې په څومره لباسونو سوله شوې وه او د بنو تغلب سره چې د زکات په دوه چنده صدقې کومه سوله شوې وه او د عشر راټولوونکي چې د ذمیانو سوداګرو او د حربي کافرانو د مستأمنینو[50][51] سوداګرو څخه چې کوم مال د عشر په توګه اخیستل کېږي.

څلورم: هغه مال چې له مړي پاتې وي او تر شا یې هیڅ وارث نه وي پاتې او یا یې یوازې مېړه او یا یې هم یوازې مېرمن پرې ایښې وي.

دا خو څرګنده خبره ده چې د بیت المال موارد او د اسلامي دولت د عوایدو سرچینې په همدې څلورو مواردو که نه خلاصه کېږي، بلکې له هغو ټولو سرچینو څخه عواید ترلاسه کولی شي چې د مال اړوند اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وي، دا سرچینې په لاندې مواردو کې خلاصه کولی شو.

[48] - بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج 2 ص 68، تالیف: علاء الدین، أبو بکر بن مسعود بن أحمد الکاساني الحنفي (المتوفی: 587هـ)، خپروونکې اداره: دار الکتب العلمیة، دویم چاپ، کال 1406هـ - 1986م.

[49] - دلته می دا څکه داسې ترجمه کړ چې احناف چې د مسلمانو سوداګرو څخه د کوم مال اخیستل روا ګڼي هغه د هغه مالونو زکات دی چې د بندرونو څخه یې تېروي او زکات یې نه وي تأدیه کړی، له همدې امله په کال کې یو ځل ترې اخیستل کېږي، او دا کار د هغه حدیث سره په مخالفت کې واقع نه دی چې په کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «إِنَّمَا العُشُورُ عَلَى اليَهُودِ، وَالنَّصَارَى، وَلَيْسَ عَلَى المُسْلِمِينَ عُشُورٌ» دا هغه عشور نه دي چې د ذمي کافرانو او یا هم حربي مستأمنینو څخه اخیستل کېږي.

[50] - ذمي هغه کافرانو ته ویل کېږي چې د دار الاسلام تابعیت ولري.

[51] - مستأمن هغه حربي کافر ته ویل کېږي چې په اجازه او ویزه دار الاسلام ته په مؤقت ډول داخلېږي.

## د اسلامي حکومت د عوايدو سرچينې

د اسلامي دولت د عوايدو سرچينې چې د پورته يادو اصولو سره سمون خوري په لاندې ډول دي:

### اول: زکات

زکات يو فرض عبادت دی چې په قرآن کريم کې په ډېرو آيتونو کې يې د فرضيت حکم راغلی دی، د مال په لحاظ او له دې لحاظه چې زکات يې دولت را ټول کړي او که د مال مالک يې پخپله مستحقينو ته ورسويتصرف وکړي، په دوه ډوله دی، لومړی: څرګند او ظاهر مال زکات، دويم: د باطن او نا څرګند مال زکات.

څرګند مالونه لکه څاروي، فصلونه (غله دانه) او هغه مالونه (نغدې پيسې وي او که د سوداګرۍ مالونه) چې د عاشر (عشر ټولوونکي) له مخه تېرېږي، که د دې مال زکات يې نه وي ورکړی، نو د هغه تفصيلاتو سره سم چې په فقهي کتابونو کې يې يادونه شوې ده عشر ټولوونکی (د دولت نماينده) ترې زکات[52] اخيستلی شي.

د دې څرګندو مالونو د زکات د ټولولو حق د احنافو، مالکيانو او شافعيانو د مذهب د يو قول پر بنسټ حکومت ته ترلاسه دی، څکه الله تعالى فرمايي: {خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً } [التوبة: 103] د دوی د مالونو زکات واخلئ. د زياتو مفسرينو نظر همدا دی چې په دې ايت کې د صدقې څخه مراد زکات دی او الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: {إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا...} [التوبة: 60] زکات د فقيرانو، مسکينانو او د هغه چا حق دی چې د دې په اداره کولو توظيف دي. په دې ايت کې د صدقاتو څخه مراد زکات دی او که د زکات مستحقينو ته رسول پخپله د مال د مالک حق شي، نو د والعاملين عليها د ذکر کولو به څه معنی وي؟ په دې اړه زيات تفصيلات شتون لري، چې دلته يې يادونه د بحث د اوږدېدو لامل ګرځي[53].

د باطني او ناڅرګندو مالونو (لکه په کور کې د چا سره نغدې پيسې وي يا سره او سپين زر وي) د زکات په اړه چې دا د امام حق دی او که صاحب مال يې پخپله مستحقينو ته ورکولی شي، د احنافو مذهب دا دی چې دولت ته يې ورکول لازم نه دي، خو دولت يې غوښتلی شي او کله يې چې وغواړي بيا يې دولت ته ورکول واجب ګرځي، خو که وه يې نه غواړي بيا يې هغه ته ورکول واجب نه دي.

د مالکي او شافعي مذهبونو له نظره د باطني او نا څرګندو مالونو زکات د هغه مالونو مالکانو ته سپارل شوی دی، چې پخپله يې د زکات مستحقو خلکو ته ورسوي.

د حنبلي مذهب له نظره او همدا د امام شافعي جديد او باوري مذهب هم دی چې هيڅ ډول مال (څرګند او ظاهري مال وي او که نا څرګند او باطني مال وي) زکات دولت او امام ته ورکول اړين او واجب نه دي، بلکې د مال مالکان اختيار لري چې په هر ډول يې مستحقينو ته رسول وغواړي وه يې رسوي، څکه چې په دې توګه د مال د مالکانو له لورې مستحقو خلکو ته د هغوی حق رسول کېږي، نو په دې کې بايد کوم مانع شتون ونه لري او که دولت يې اخلي، نو هغه يې د مستحقو خلکو

---

[52] - له دې څخه هغه ګمرک مراد نه دی چې د عشر په نوم د ذمي کافرانو او يا مستأمنو حربي کافرانو څخه اخيستل کېږي، څکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى، وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ» دا حديث په بېلابېلو سننو او مسانيدو کې روايت شوی دی لکه سنن أبي داود (4/ 653)، تاليف: أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)، تحقيق: شعَيب الأرنؤوط او محَمَّد كامِل قره بللي، خپروونکې اداره: دار الرسالة العالمية، لومړی چاپ، کال 1430 هـ - 2009 م، او السنن الكبرى للبيهقي ت التركي (19/ 55) او سند يې ضعيف دی.

[53] - خو د نورو تفصيلاتو لپاره وګورئ: الموسوعة الفقهية الكويتية ج 4 ص 148- 150 د (استيفاء حقوق الله) تر عنوان لاندې بيا (استيفاء الزكوات) په مبحث کې، د کويت د وزارت اوقاف له نشراتو څخه، دويم چاپ، کال ۱۴۰۴هـ ۱۹۸۳م.

په نیابت اخلي، نو کله چې اصلي خلکو ته ورسېږي دا به د هغوی وکیل ته له ورکولو غوره وي، خو بیا د دوی ترمنځ هم اختلاف دی شافعي مذهبه علماء وايي چې که دولت ته يې ورکړي دا کار غوره دی؛ ځکه حکومت ته مستحق خلک ښه معلوم دي او حنبلي علماء وايي چې پخپله يې توزيع کړي دا غوره دی، خو د وجوب يې له دې مذهبونو څخه يو مذهب هم قايل نه دی[54].

په دې توګه زکات د هغه مذاهبو له نظره چې د هر ډول مال د زکات را ټولول او په شرعي مصارفو باندې يې مصرفول د دولت حق ګڼي او يا يې د غوښتنې په وخت کې د حکومت حق ګڼي، زکات د يو مسلمان هېواد د بوديجې يو مدرک او تر ټولو مهم مدرک هم کېدلای شي، خو په دې کې يوه ستونزه شتون لري، چې حکومت او دولت بيا د زکات له مال څخه په خلاص لاس مصرف نه شي کولی؛ ځکه د زکات مستحق خلک په قران کريم کې ټاکل شوي دي له هغوی پرته په بل چا له دې مال څخه مصرف نه شي کېدلی.

**دويم: کانونه او رکاز**

په اسلام کې د بيت المال او د بوديجې د مواردو څخه بل مورد کانونه او رکاز دي.

**د کانونو ملکيت**

د کانونو د ملکيت په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، د ظاهري کانونو (چې د ځمکې په سر وي او په راويستلو کې يې زحمت ته څوک نه اړ کېږي) لکه اوبه او داسې نور دا عامه ملکيت دی، دولت يې بايد تنظيم کړي.

باطني کانونه احناف او حنبلي علماء دا بيا په درې ډولو وېشي:

لومړی: هغه چې د فلزاتو له جملې څخه دي چې په اور باندې يې شکل بدلېږي لکه سره زر، سپين زر، اوسپنه او نور فلزات، همدا اصلي کانونه دي.

دويم: هغه کانونه چې مايع دي، لکه نفت او داسې نور...

درېيم: هغه چې په اور باندې نه ويلي کېږي لکه قيمتي ډبرې لکه ياقوت، زبرجد، ګوهرونه، ملغلرې، شوکانۍ او داسې نور...

**د حنفي مذهب له نظره د کانونو ملکيت**

نو د احنافو په مذهب کې دا وروستي دوه ډوله (مايع کانونو او هغه چې په اور نه ويلي کېږي) دا ټول د هغه چا ملکيت دی چې چا را پيدا کړل، په دې کې هيڅ ډول زکات او خمس نه لازمېږي، که خرڅ يې کړل او بيا پرې کال تير شو، نو بيا د لاسته راغلې پيسې د سرو زرو او نورو مالونو په څېر حکم لري او په هماغه شکل يې بايد زکات ورکړل شي[55].

او لومړی ډول کانونه چې فلزي کانونه دي که په خراجي، عشري او داسې صحرا چې نه عشري ده او نه خراجي ځمکو کې که چا پيدا کړل، نو د احنافو د مذهب سره سم به له هغه څخه دولت يوازې خمس اخلي او نور به د پيدا کوونکي او راويستونکي ملکيت وي، که د چا په کور کې کان و موندل شو، د امام ابو حنيفه له نظره په هغه کې هيڅ هم نه لازمېږي او ټول د موندونکي دي او صاحبين وايي چې خمس به يې دولت ته ورکوي او نور يې خپل دي او که په خپله ځمکه کې يې

---

54 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج 23 ص 304-306 د «القسم الرابع: جمع الامام ونوابه للزكاة» تر عنوان لاندې.

55 - د تفصيل لپاره وګورئ: الهداية مع شرح العلامة عبد الحي اللكنوي ج٣ ص ٢٠٣ د ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، كراچی چاپ.

کان ومونده، نو د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه دوه روایتونه دي، د «اصل» په روایت سره په ده کې خمس واجب نه دی او د «جامع الصغیر» په روایت په کې خمس واجب دی.

لنډه خبره دا ده چې د کانونو ملکیت د احنافو د مذهب سره سم د هغه چا دی چې کان یې موندلی دی، بیا دا پوښتنه چې په دې کې څه حق شته؟ نو که دا کان فلزي و (نه په مایع کان کې او نه هم په هغه کانونو کې چې فلزي نه دي لکه، د ډبرو سکاره، قیمتي ډبرې، ګچ او نورې هغه ډبرې چې لوړ قیمت لري خو فلزي نه دي په دې کې خو هیڅ هم نه لازمېږي) نو په یو لړ حالاتو کې په دې کې خمس لازم دی او په څه نور حالاتو کې خمس هم نه لازمېږي او ټول د موندونکي ملکیت دی، چې عامه قاعده (د امام صاحب په نزد، نه د صاحبینو په نزد) په کې دا ده چې دا د ځمکې تابع دی، که ځمکه یې خپل ملکیت وه، نو خمس په کې نشته او که ځمکه یې خپل ملکیت نه وه نو خمس په کې لازم دی.

ظاهري کانونو لکه مالګه، رانجه، قیر او نفت د عامې استفادې لپاره دي، یعنې د ټولو مسلمانانو ترمنځ مشاع حیثیت لري، دولت او حکومت ته د دې حق نشته چې چا ته یې د جاګیر په توګه ورکړي، که حکومت یې یو شخص ته ور وبخښي د دې بخښلو هم کوم شرعي حیثیت نه شته او لغوه بلل کېږي[56].

د احنافو د مذهب لنډیز دا دی چې کانونه د دولت ملکیت نه دی او هیڅ ډول تصرف په کې نه شي کولی، دا یا د موندونکي ملکیت ګرځي او یا د ځمکې د مالک ملکیت ګرځي.

### په مالکې مذهب کې د کانونو ملکیت

د مالکیه علماوو یو نظر دا دی چې کانونه د دولت ملکیت دي، چې باید د مصلحت سره سم تصرف په کې وکړي، یعنې د ځمکې تابع نه دي، که هغه ځمکه چې کانونه په کې را ښکاره شوي دي د چا په ملکیت کې وي او که نه وي، ټول د دولت ملکیت دی، حکومت او امام کولی شي چې د یوې مودې لپاره یې چاته د استفادې لپاره او یا هم د اجارې په توګه ورکړي، خو پرته له دې چې هغه د اصل کان مالک کړي، دا ورته روا نه ده چې څوک د کان مالک کړي، د یو وخت پورې یې ورته د اجارې په توګه ورکولی شي، خو په دې حالت کې چې چا ته یې د استفادې لپاره ورکړ له هغه څخه به په هر حال زکات اخلي.

د مالکیانو په مذهب کې بل قول دا دی چې کانونه د ځمکې تابع دي، نو که دا په ازاده ځمکه کې وي یا په هغه ځمکه کې چې په زوره مسلمانانو فتحه کړې وي او یا په صحرا کې وي چې د چا په ملکیت کې نه دي، نو هغه د دولت په واک کې دي او دولت یې چا ته د کار او استخراج لپاره ورکولی شي او چې په هر روا شکل وغواړي په هماغه شکل ورسره تعامل کولی شي، خو که امام چا ته ورکړ چې استفاده ترې وکړي، نو له هغه څخه به زکات اخلي (که کان د سرو او سپینو زرو وه) او که د چا په مملوکه ځمکه کې وي، نو بیا دا کانونه د ځمکې د مالک ملکیت دی، دې ته حق ترلاسه دی چې په خپل ملکیت کې هر ډول تصرف وکړي کولی یې شي.

او زکات هم چې په کومو کانونو کې لازمېږي هغه یوازې سره او سپین زر دي، په نورو کې د امام مالک د مذهب سره سم د کال له تېرېدو مخکې هیڅ ډول حق نه لازمېږي[57] خو که د سرو او سپینو زرو پرته له نورو کانونو څخه یې د تجارت له لارې پیسې لاسته راوړې نو بیا پرې په دې پیسو کې د کال له تېرېدو وروسته زکات لازمېږي.

---

[56] - رد المحتار علی الدر المختار ج 6ص434، تألیف: ابن عابدین، محمد أمین بن عمر بن عبد العزیز عابدین الدمشقي الحنفي (المتوفی: 1252هـ)، خپروونکې اداره: دار الفکر-بیروت، دویم چاپ: 1412هـ - 1992م.

د امام مالک رحمه الله په مذهب کې په يو قول کې حکومت او دولت يوازې د هغه کانونو مالک ګرځي چې ځمکه يې د چا په ملکيت کې نه وي او په بل قول کې دولت د هر ډول کان مالک ګرځي که په هر ډول ځمکه کې راووځي، هغه که د کوم شخص ملکيت وي او که صحرا او بې مالکه ځمکه وي.

**د کانونو د ملکيت په اړه د امام شافعي مذهب**

د امام شافعي په مذهب کې کانونه په دوه ډوله دي:

ظاهري کانونه: هغه دي چې راويستل يې کار او زحمت ته اړتيا نه لري بلکې پخپله راوځي او يا د ځمکې په سر وي لکه ګوګرد او نفت (په پخوا وخت کې).

باطني کانونه: دا هغه دي چې د زحمت او کار څخه پرته په لاس نه راځي لکه سره او سپين زر، اوسپنه، مس او داسې نور...

د ظاهري کانونو په اړه د امام شافعي رحمه الله مذهب دا دی چې په دې کې ټول خلک شريک دي، د چا په ابادولو او له هغه څخه دېوال کولو او موانعو په اېښودلو هغه د چا ملکيت نه ګرځي او نه د حکومت له لورې چا ته په ورکولو د چا ملکيت ګرځي، ځکه به دې کې ټول خلک شريک دي، خو څرنګه بايد ترې استفاده وشي؟ دا کار بايد تنظيم شي او په دې اړه په شافعي مذهب کې تفصيلي احکام شتون لري.

د امام شافعي رحمه الله د مذهب سره سم که په داسې شاړه ځمکه کې چې يو سړي اباده کړه، که په دې ځمکه کې ظاهري کان و او دا پرې خبر هم و، نو دا سړی د دې کان مالک نه ګرځي بلکې دا د عامو خلکو ترمنځ مشترک دی او که خبر پرې نه و، نو په مذهب کې راجح قول دا دی چې مالک يې ګرځي.

د باطني کانونو په اړه لنډه خبره دا ده چې دا يا د عامو خلکو ملکيت دی او هر څوک ترې ګټه اخيستلی شي، او يا د پيدا کوونکي ملکيت ګرځي، خو د دولت ملکيت نه دي، د امام شافعي رحمه الله په مذهب کې د کانونو د ملکيت د تفصيلي احکامو په اړه دوه قوله دي؛ لومړی دا چې که څوک ځمکه د دې لپاره کېندي چې کان ته ورسېږي او هغه راخپل کړي او د هغه مالک شي، نو په شافعي مذهب کې راجح قول دا دی چې په دې سره د باطني کان مالک نه ګرځي او په دې مذهب کې دويم قول دا دی چې مالک يې ګرځي او څوک چې شاړه ځمکه ابادوي او هلته يې کان وموند نو مالک يې ګرځي، ځکه د شاړې په ابادولو سره د هغې د ټولو برخو مالک ګرځي چې دا کان هم په کې شامل دی.

که په دې پوهېده چې په يوه مشخصه ځمکه کې کان شتون لري او د دې لپاره چې هغه کان د نورو خلکو له استفادې وژغوري په هغه ځمکه يې کور جوړ کړ، نو د داسې چا په اړه په شافعي مذهب کې دوه نظره شتون لري، لومړی دا چې د دې کان مالک نه ګرځي، ځکه نيت يې خراب و او دويم نظر دا دی چې مالک يې ګرځي او بل احتمال په کې نشته.

د شافعي مذهب لنډيز هم همدا دی چې کانونه يا د ټولو خلکو مشترک مال دی او حکومت په کې تصرف نه شي کولی او يا هم د هغه چا ملکيت دی څوک يې چې بيامومي، نو د حکومت او دولت په کې کوم کار نشته يوازې به ترې زکات اخلي او بس.

[57] - وګورئ: الذخيرة د امام قرافي ليکنه ج۳ ص ۵۹، تاليف: شهاب الدين أحمد بن إدريس القرافي، تحقيق: محمد حجي، خپرونکې اداره: دار الغرب، بيروت، لبنان، د خپرېدو کال ۱۹۹۴م. همدا راز مختصر خليل ص ۵۸، تاليف: خليل بن إسحاق بن موسى، ضياء الدين الجندي المالكي المصري (المتوفى: 776هـ)، تحقيق: أحمد جاد، خپروونکې اداره: دار الحديث/القاهرة، لومړی چاپ، کال 1426هـ/2005مـ.

نو کله یې چې فرد مالک وګرځېده، نو دولت په کې هیڅ ډول حق نه لري، د احنافو په کتابونو لکه هدایه او نورو کې همدا د امام شافعي رحمه الله مذهب ښودل شوی دی.

### د کانونو د ملکیت په اړه د امام احمد بن حنبل نظر

په حنبلي مذهب کې کانونه په دوه ډوله ویشل شوي دي:

لومړی: جامد کانونه، دې ته باطني کانونه هم ویل کېږي.

دویم: مایع او بهېدونکي کانونه دې ته ظاهري کانونه هم ویل کېږي.

بهېدونکي او ظاهري کانونه د ټولو خلکو ترمنځ مشترک دي او ټول خلک باید ترې استفاده وکړي، په دې کې فرق نشته چې دا کانونه د چا په مملوکه ځمکه کې وي او که غیر مملوکه ځمکه کې، دوی دا بهېدونکي کانونه په اوبو باندې قیاس کوي او د اوبو په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «المسلمون شرکاء في ثلاث؛ الکلأ والماء والنار» مسلمانان په دریو شیانو کې شریک دي واښه، اوبه او اور، نو ټول مایع او بهېدونکي کانونه به هم د اوبو حکم لري.

د جامدو کانونو په اړه د حنبلي مذهب نظر دا دی چې دا که په داسې ځمکه کې وو چې چا په خپل ملکیت کې راوستله نو د ځمکې د ملکیت سره دا هم د هغه ملکیت ګرځي.

که څوک کان په خپله ځمکه کې پیدا کړي او یا یې په شاړه ځمکه کې پیدا کړي، نو د پیدا کوونکي حق دی چې استفاده ترې وکړي، خو د شاړې ځمکې کان د چا ملکیت نه ګرځي چا چې پیدا کړ هغه ترې د استفادې ډېر حق دار دی او کله چې هغه پرېښوده نور خلک ترې بیا کان استخراجولی شي، د دې معنی دا ده چې جامد کانونه چې په شاړو ځمکو کې وي د خلکو ترمنځ ګډ او شریک دي[58].

د حنبلی مذهب له نظره هم کانونه د دولت ملکیت نه دی او دولت حق هم نه لري چې تصرف په کې وکړي، بلکې دا عمومي ملکیت دی، ټول خلک ترې استفاده کولی شي، خو د استخراج لومړی حقدار د هغه موندونکی دی او بیا که هغه پرېښوده نو نور خلک ترې استفاده کولی شي.

### په کان کې څه واجب دي؟

د حنفي مذهب له نظره یوازې په هغه کانونو کې چې په اور باندې ویلي کېږي (فلزي کانونه) کې خمس لازم دی او په نورو کانونو کې هیڅ شی هم واجب نه دی، یوازې په پاره «زئبق» کې هم خمس لازم دی، د خمس د ادا کولو نه وروسته نور ټول د موندونکي حق دی.

خمس په لږ او ډېر ټولو کې واجب دی، د کال د تېریدو شرط هم نشته بلکې په فوري ډول واجب دی او دا د غنیمت حکم لري او په غنیمت کې پنځمه برخه د فقیرانو او مسکینانو ده چې بیت المال ته سپارل کېږي، نو د کانونو سره به همدا ډول تعامل کېږي.

د امام مالک او امام شافعي رحمهما الله له نظره په کان کې که د سرو او سپینو زرو له جملې څخه وي زکات لازم دی په دې تفاوت چې د مالکي مذهب د یو قول پر بنسټ کانونه د دولت ملکیت دی او امام په کې د شرعي مصلحت سره سم د

---

[58] - المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني ج2/ ص 620، تألیف: عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، خپرونکی اداره: دار الفکر – بیروت، لومړی چاپ، کال 1405هـ ق. ورسره الموسوعة الفقهیة الکویتیة هم وګورئ: ج ۳۸ ص ۱۹۲ او له دې وروسته. همدا راز د شیخ وهبة الزحیلي کتاب الفقه الإسلامي وأدلته (3/ 213) طبع دار الفکر ـ دمشق، سوریه، څلورم چاپ.

تصرف حق لري، خو که چا ته یې ورکړ او هغه ترې سره او سپین زر را وایستل، نو په دې کې زکات لازم دی او د امام شافعي رحمه الله له نظره دا د حکومت ملکیت نه دی، دا دواړه مذهبونه په دې کې نصاب هم شرط ګڼي او د امام شافعي رحمه الله په مذهب کې د زکات په مقدار کې هم درې اقوال دي، لومړی دا چې دا مقدار «ربع العشر» دی، همدې باندې امام شافعي صاحب په خپل کتاب «الأم» کې تصریح کړې ده او بل قول دا دی چې په دې کې د زکات مقدار خمس دی او دریم قول دا دی چې که د زحمت څخه پرته په لاس ورغلی وي، نو د زکات مقدار به خمس وي او که په زحمت یې په لاس راوړی وي، نو د زکات مقدار ربع العشر وي. لنډه دا چې یوازې په سرو او سپینو زرو کې زکات واجب دی، او په نورو کانونو کې هیڅ شی هم واجب نه دی، مګر دا چې د تجارتي توکو په څېر ور څخه ګټه پورته کړی شي بیا د هغوی څخه په لاسته راوړل شوي مبلغ کې زکات واجبېږي چې کال پرې تیر شي، خو د دې مصارف به هم یوازې هماغه د زکات مصارف وي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مذهب په هغه ټولو کانونو کې چې په ځمکه کې الله تعالی پیدا کړي دي چې د ځمکې له جنس څخه نه وي، لکه سپین زر، سره زر، اوسپنه، یاقوت، بلور، رانجه، تر دې چې په بهېدونکو کانونو کې لکه نفت، ګوګرد، قیر او داسې نورو ټولو کې زکات لازم دی او د زکات مقدار ربع العشر دی[59]. لنډه دا چې کانونه په اسلام کې د هېواد د بودیجې یوه سرچینه کېدلی شي، د امام مالک رحمه الله په مذهب کې د یو قول سره سم خو دا د دولت په ملکیت کې وي، نو د ټول کان څخه د دولت د بودیجې د تمویل لپاره استفاده کېدلی شي او د نورو مذاهبو د ویناو سره سم په هغه کې د خمس او یا هم د زکات د مبلغ څخه د بودیجې د تمویل یو سرچینه جوړېدلی شي، په افغانستان کې اوس د امام مالک رحمه الله په مذهب باندې عمل کېږي.

په دې باندې لړ تفصیلي بحث د دې لپاره وشو چې دا په اوسنۍ زمانه کې په ځانګړی توګه په افغانستان کې د بیت المال د مهمو مواردو له جملې څخه شمېرل کېږي.

**دریم: جزیه**

جزیه هغه مال ته ویل کېږي چې د ذمیانو څخه اخیستل کېږي[60]، بیا په دې کې تفصیلات شته چې دا د ذمیانو له کومو ډلو څخه اخیستل کېږي، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو:

**جزیه له چا اخیستل کېږي؟**

د ذمیانو هغه ډلې چې جزیه ترې اخیستل کېږي د فقهاوو له نظره اتفاقي نه دي، له دې امله دلته د ذمي کافرانو بېلابېلې ډلې او په اړه یې د فقهاوو نظریات په لنډ ډول په لاندې توګه وړاندې کوو:

**لومړی: اهل کتاب**

په دې د څلور واړو مشهورو فقهي مذاهبو اتفاق دی چې د اهل کتابو څخه جزیه اخیستل کېږي بیا دا فرق نه کوي چې اهل کتاب له عربو څخه وي او که له عجمو څخه. حسن بصري ته دا قول منسوب دی چې د عربو اهل کتابو څخه جزیه نه اخیستل کېږي. خو اهل کتاب څوک دي په دې کې د څلورو فقهي مذاهبو ترمنځ اختلاف دی؟ د احنافو له نظره اهل کتاب ټولو هغو خلکو ته ویل کېږي چې په کوم پیغمبر ایمان ولري او د منزل کتاب اقرار وکړي، په دې کې د یهودو او نصاراو

---

59 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۳۸ ص ۱۹۷-۱۹۸.

60 - البحر الرائق شرح كنز الدقائق (5/ 119)، تالیف: زين الدين ابن نجيم الحنفي (۹۲۶هـ ۹۷۰هـ)، خپرونکې اداره: دار المعرفة، بيروت، لبنان، ب – ت.

سربېره هغه خلک هم شامل دي چې د حضرت ابراهيم عليه السلام په صحيفو او د حضرت داود عليه السلام په زبور ايمان لري.

او د جمهورو فقهاوو له نظره اهل کتاب يوازې په يهودو او نصاراو اطلاق کېږي، خو د دوی ټولې فرقې په کې شاملې دي.

د جمهورو (چې احناف، مالکيان، شوافع او حنابله ټول په کې شامل دي) له نظره اهل کتاب که عرب وي او که عجم له ټولو څخه جزيه اخيستل کېږي، يوازې حسن بصري څخه دا نقل شوي چې هغه د عربو اهل کتابو څخه جزيه اخيستل جايز نه ګڼي.

**دويم: مجوسيان**

د مجوسيانو څخه هم جزيه اخيستل کېږي هغوی که عرب وي او که عجم، په همدې اجماع نقل شوی، يوازې د حسن بصري څخه نقل شوی چې د عربي مجوسي څخه جزيه نه قبلېږي، هغه يا بايد مسلمان شي او يا ووژل شي.

**درېيم: صابئة**

صابئة فرقه د امام ابو حنيفه رحمه الله له نظره اهل کتاب دي، نو ځکه جزيه ترې اخيستل کېږي، صاحبين وايي چې دوی اهل کتاب نه دي، خو که غير عرب وو، نو جزيه ترې اخېستل کېږي ځکه د صاحبينو په نزد د غير عربو مشرکينو څخه جزيه اخيستل درست دي، د امام مالک رحمه الله له نظره دوی موحدين دي ځکه دوی د ستورو عبادت نه کوي بلکې د ستورو د تأثير قايل دي او له دې امله چې د امام مالک له نظره د غير اهل کتابو کافرانو څخه هم جزيه اخيستل درست دي، له دې امله له دوی څخه جزيه اخيستل صحيح دي.

د امام شافعی رحمه الله نظر دا دې چې که اهل کتابو دوی تکفيرول، نو له دوی څخه جزيه نه اخيستل کېږي او که اهل کتابو دا منل چې دوی د اهل کتابو برخه ده، نو بيا ترې جزيه اخيستل درست دي، ځکه د امام شافعي رحمه الله له نظره د اهل کتابو څخه پرته له نورو کافرانو څخه جزيه نه اخيستل کېږي او د امام احمد د مذهب سره سم دوی په يو قول نصارا دي او په بل قول يهود دي، نو له دې امله له دوی څخه جزيه اخيستل کېږي[61].

**څلورم: مشرکين**

د مشرکينو څخه د جزيې د اخيستلو په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی:

امام شافعي، د امام احمد بن حنبل مشهور قول او د مالکيانو څخه ابن الماجشون وايي چې د مشرکانو څخه جزيه مطلقاً د منلو وړ نه ده، مشرکان که عرب وي او که عجم، دوی به يا اسلام مني او يا به قتل کېږي. او احناف او د امام مالک په هغه روايت چې ابن القاسم ترې نقل کړی او پخپله ابن القاسم او اشهب او ابن الماجشون غوره کړی او همدا راز د امام احمد بن حنبل يو قول چې الحسن بن ثواب ترې نقل کړی، د دوی ټولو نظر دا دی چې مشرکان که عرب نه وي، نو جزيه ترې اخېستل کېږي او د عربو د مشرکانو څخه جزيه نه اخيستل کېږي، هر يو خپل دلايل لري چې په فقهي کتابونو کې يې يادونه شوې ده.

لنډه دا چې جزية د حنفي مذهب له نظره هغه مال ته ويل کېږي چې د عربو د مشرکينو څخه پرته له نورو ټولو کافرانو څخه اخيستل کېږي چې په سوله ييز ډول د يو مبلغ په بدل کې مسلمانانو ته تسليم شي، که د تسليمېدو په وخت کې دا

---

61 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج ١٥ ص ١٦٨ – ١٧٠.

مبلغ ونه ټاکل شي، نو وروسته بیا د هغوي مالي حیثیت ته په کتلو یو ټاکلی مبلغ اېښودل کېږي چې هر کال یې باید دولت ته ورکړي.

او د شافعي مذهب له نظره یوازې د اهل کتابو او مجوسو څخه اخیستل کېږي او د نورو کافرانو څخه نه اخیستل کېږي[62]، د احنافو له نظره مفهوم مخالف دلیل نه دی، د جزیې اړوند ایت کې د اهل کتابو یادونه شوې، خو نور کافران مسکوت عنه پرې ښودل شوي دي، همدا راز د مجوسو یادونه په حدیث کې شوې، شوافع مفهوم مخالف معتبر ګڼي، نو له دوی پرته له نورو ټولو څخه جزیه اخیستل درست نه بولي.

**د جزیې مشروعیت**

او د اخیستلو جواز یې د قرآن کریم د دې ایت پر بنسټ ولاړ دی، چې الله تعالی په کې فرمايي: {قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ} [التوبة: 29]. د اهل کتابو له جملې څخه د هغه کسانو پر ضد وجنګېږئ چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان نه لري او کوم شیان چې الله تعالی او د هغه پیغمبر حرام کړي دوی یې حرام نه ګڼي او ریښتیني دین ته سر نه ټیټوي، تر څو په خپل لاس په داسې حال کې جزیه ور نه کړي چې دوی ذلیله وي. که په یو مسلمان هېواد کې غیر مسلمانان ژوند کوي، نو اسلامي حکومت له دوی څخه په کلني ډول یو مبلغ اخلي، لکه څرنګه چې د مسلمانانو څخه زکات اخیستل کېږي او دا د اسلامي حکومت د بودیجې له مواردو څخه یو مورد دی، که دې ته د جزیې پر ځای بل نوم هم ورکړی شي شرعاً کومه ستونزه نه لري[63]، ځکه اصل قضیه هغه مال دی چې له دوی څخه د غیر مسلمان په توګه چې په دار الاسلام کې ژونه کوي اخیستل کېږي.

دلته یوې خبرې ته اشاره کول غواړم چې جزیه اخیستل د مسلمان حکومت حق دی، او دا کار ورته جواز لري[64]، نو که د خپل حق څخه تېرېږي نو کوم ممانعت نه لري، د دې اخیستل واجب او لازم نه دي.

سره له دې چې جزیه د بیت المال د مواردو څخه یو مورد دی، خو په اوسنۍ زمانه کې ترې ډېره استفاده نه کېږي، بله دا چې په افغانستان کې د غیر مسلمانانو شمېر هم دومره نه دی چې له دې مورد څخه زیاته استفاده وکړی شو.

**څلورم: غنیمتونه او فئ**

هغه مال چې مسلمان مجاهدین یې د محاربو کافرانو څخه په زور ونیسي هغه ته غنیمت ویل کېږي او که د محاربو کافرانو څخه مال له جنګ څخه پرته په لاس ورشي هغه ته فئ ویل کېږي، د غنیمت په اړه د امت اجماع ده چې پنځمه برخه یې

---

[62] - د دې لپاره وګورئ: الهداية في شرح بداية المبتدي ج2 ص 401، تاليف: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (ت ۵۹۳هـ) تحقيق: طلال يوسف، خپروونکې اداره: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان.

[63] - لکه حضرت عمر رضي الله عنه چې د بني تغلب د نصاراو څخه د صدقې په نوم جزیه قبوله کړې وه، وګورئ: الأموال لابن زنجويه ج1 ص 130، تأليف: أبو أحمد حميد بن مخلد بن قتيبة بن عبد الله الخرساني المعروف بابن زنجويه (المتوفى: 251هـ)، تحقيق الدكتور: شاكر ذيب فياض الأستاذ المساعد - بجامعة الملك سعود، چاپوونکې اداره : مركز الملك فيصل للبحوث والدراسات الإسلامية، السعودية، لومړی چاپ، کال: 1406 هـ - 1986 م.

[64] - له همدې امله فقهاء له دې څخه په "يجوز أخذ الجزية" او "لا يجوز أخذ الجزية" یادونه کوي، د بېلګې په توګه د عالمګیري دا عبارت لولو:"الْكُفَّارُ أَصْنَافٌ صِنْفٌ لَا يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ منهم وَلَا إعْطَاءُ الذِّمَّةِ لهم وَهُمْ الْمُشْرِكُونَ من الْعَرَبِ مِمَّنْ لَا كِتَابَ لهم فإذا ظَهَرْنَا عليهم لَا نَقْبَلُ من رِجَالِهِمْ إلَّا السَّيْفَ أو الْإِسْلَامَ وَنِسَاؤُهُمْ وَصِبْيَانُهُمْ فَيْءٌ وَصِنْفٌ يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ منهم بِالْإِجْمَاعِ وَهُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ من الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى من الْعَرَبِ وَغَيْرِهِمْ كَذَلِكَ يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ من الْمَجُوسِيِّ بِالْإِجْمَاعِ عَرَبِيًّا كان أو غير عَرَبِيٍّ وَصِنْفٌ اخْتَلَفُوا في جَوَازِ أَخْذِ الْجِزْيَةِ منهم وَهُمْ قَوْمٌ من الْمُشْرِكِينَ غَيْرُ الْعَرَبِ وَغَيْرُ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمَجُوسُ يَجُوزُ أَخْذُ الْجِزْيَةِ منهم عِنْدَنَا".العالمگيرية (2/ 193)، نشرونکی اداره: دار الفکر، د نشرېدو کال: 1411هـ - 1991م.

بیت المال ته سپارل کېږي او نورې څلور برخې یې د غازیانو ترمنځ تقسیمېږي، لکه په قرآن کریم کې چې راغلي دي، الله تعالی فرمایي: {وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } [الأنفال: 41].

پوه شئ هر څه چې د غنیمت په توګه ترلاسه کړئ، نو پنځمه برخه یې د الله تعالی، د پیغمبر، د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرینو (بیت المال) لپاره ده.

د فيء په اړه الله تعالی فرمایي: {مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ} [الحشر: 7]. د سیمو د خلکو کوم مالونه چې الله تعالی خپل پیغمبر ته وروګرځول، نو د هغه د الله او د هغه د پیغمبر او د (پیغمبر) د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرانو لپاره ده.

د فيء په اړه د جمهورو فقهاوو نظر دا دی چې دا ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم حق و، چې وروسته بیا د بیت المال حق ګرځي، دا د احنافو، مالکیانو، د امام شافعي پخوانی مذهب او د امام احمد یو نظر هم دی، دا د غنیمت د مال په څېر نه ویشل کېږي، د امام شافعي رحمه الله جدید مذهب او د امام محمد بن الحسن شیباني (د احنافو څخه) راجح نظر او د امام احمد بن حنبل یو قول دا دی چې د فيء مال هم تقسیمېږي، پنځمه برخه یې د هغه اصنافو ده چې د سورت حشر په دې ایت کې یې یادونه شوې ده او نور د امام حق دی چې د خپل اجتهاد سره سم په کې تصرف وکړي[65]. د غنیمتونو په اړه یوه قضیه د څېړنې وړ ده او هغه دا چې د اوسنۍ زمانې جنګونه د پخوانیو سره توپیر لري، مخکې به هر مجاهد خپل مصارف پخپله ورکول، د خپلو وسلو، آسونو او نور اړتیاوو لپاره به یې د خپل مال څخه مصارف برابرول، کوم منظم نظامي ځواک شتون نه درلود، همدا راز داسې څه هم په غنیمت کې په لاس نه ور تلل چې تقسیم یې نا ممکن وي او یا داسې څه چې په ټولنه کې یې شتون د ټولنې لپاره د عدم استحکام لامل وګرځي، خو اوس حالت بالکل بدل دی د نظامي ځواکونو ټول مصارف د ملت له لورې برابرېږي، بلکې د پوځ عسکر د دفاع د خدمت په مقابل کې حق الزحمه هم ترلاسه کوي، همدا راز په غنیمت کې ټانکونه، طیارې، توپونه او لوی جنګي ماشینونه په لاس ورځي، د دې ترڅنګ خطرناکې وسلې هم د غنیمتونو برخه وي، که دا ټول د مجاهدینو ترمنځ تقسیم کړی شي، نو په ټولنه کې خطرناک حالت رامنځته کېدلی شي، له دې امله په دې اړه د اجتهاد اړتیا ده لکه د سواد عراق د ځمکو په اړه چې د صحابه کرامو ترمنځ اختلاف رامنځته شو او د هماغې اجتهاد پر بنسټ بیا د مجتهدینو نظریات هم مختلف شول.

**پنځم: خراج**

خراج هغه مال ته ویل کېږي چې دولت او مسلمان حاکم یې په هغه ځمکو باندې وضع کوي چې یا د سولې له لارې مسلمانانو ته په همدې شرط په لاس ورغلي وي او یا په زور مسلمانانو فتح کړي وي او یا هم ترې کافران تللي وي او ځمکې یې پاتې وي، په دې ټولو حالتونو کې د دې پر ځای چې ځمکه د مجاهدینو ترمنځ تقسیم شي، ځمکه د خپلو مالکانو سره پاتې کېږي او د ځمکې د حاصلاتو یوه برخه اسلامي دولت ته د خراج په توګه ورکوي، ماوردي او أبو یعلی یې همداسې

---

[65] - بداية المجتهد و نهاية المقتصد ج1 ص403، لیکوال: أبو الولید محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد (المتوفى : 595هـ)، خپرونکی اداره: مطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، مصر، څلورم چاپ، کال: 1395هـ/1975م. همدا راز وګورئ: الموسوعة الفقهية الكويتية (32/ 230).

تعریف کړی وایي: «ما وضع على رقاب الأرض من حقوق تؤدى عنها»[66].

خراج هغه مالي حقوقو ته ویل کېږي چې د ځمکې پر سر ایښودل کېږي او د ځمکې له پلوه حکومت ته ورکول کېږي.

خراج په لومړي ځل حضرت عمر بن الخطاب جاري کړ، ځکه د هغه په زمانه کې فتوحات زیات شول، د اسلامي خلافت مساحت پراخه شو، د حکومت او دولت مصارف هم زیات شول، د فتوحاتو لپاره د منظم لښکر اړتیا هم زیاته شوه، نو د صحابه کرامو سره له مشورې وروسته یې هغه ځمکې چې مسلمانانو په عراق او شام کې فتحه کړې وې د مجاهدینو ترمنځ تقسیم نه کړی، بلکې هغه یې وقف کړې چې ټول مسلمانان ترې استفاده وکړي او څوک یې چې کري پر هغوی یې ټاکلی اندازه خراج وټاکه، له دې سره ډېر لږ شمېر صحابه کرامو مخالفت وښوده چې په دوی کې تر ټولو مخکښ حضرت بلال رضي الله عنه و[67].

خراج په هر هغه چا چې خراجي اباده ځمکه یې په لاس کې وي واجب دی، هغه که مسلمان وي او که کافر، وړوکی وي او که لوی، عاقل وي او که لیونی، ښځه وي او که سړی او دا ځکه چې خراج د آبادې ځمکې د حاصلاتو مقابل دی او دا ټول حاصلات لاسته راوړي او کوم تفاوت په کې نشته.

خراجي ځمکې هغه دي چې کومې مسلمانانو په زور فتحه کړي وي او بیا اسلامي خلافت هغه د فاتحینو او مجاهدینو ترمنځ نه وي تقسیم کړي، بلکې هغه یې وقف کړې وي چې د بیت المال لپاره یو مورد وگرځي او په هغه یې خراج لگولی وي او په هغه سیمه کې په غیر مسلمانو اوسېدونکو باندې یې جزیه لگولې وي، نورې ځمکې ټولې عشري او نصف العشر په کې لازمېږي[68].

**شپږم: په سوداگریز مالونو کې عشر**

امام سرخسي وایي: عاشر هغه چا ته ویل کېږي چې حکومت یې په عامو لارو ټاکي ترڅو د سوداگرو څخه عشر را ټول کړي او د هغه د شتون له امله سوداگر د خپلو مالونو په اړه د غلو څخه ډاډ ترلاسه کوي او د امن احساس کوي[69].

**عشر له چا اخیستل کېږي؟**

سوداگریز عشر د غیر مسلمانو سوداگرو له سوداگریزو مالونو څخه هغه وخت اخیستل کېږي چې کله هغوی خپل مالونه دار الاسلام ته راوړي، دا غیر مسلمان سوداگر په څو ډولو ویشل شوي دي چې د هر یو حکم له بل څخه مختلف دی او تفصیل یې په لاندې ډول دی:

---

66 - الاحکام السلطانية ص 227، د أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (المتوفى: 450هـ) دار الحديث – القاهرة، او همدا راز وگورئ: الأحكام السلطانية ص: 162، تأليف: القاضي أبو يعلى ، محمد بن الحسين بن محمد بن خلف ابن الفراء (المتوفى : 458هـ) تصحيح او تعليق: محمد حامد الفقي، چاپوونکی اداره: دار الكتب العلمية - بيروت ، لبنان، دویم چاپ: کال 1421 هـ - 2000 م.

67 - د دې لپاره وگوئ: الخراج ص 35، تأليف: أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري (المتوفى : 182هـ) خپروونکې اداره: المكتبة الأزهرية للتراث، تحقيق: طه عبد الرءوف سعد او سعد حسن محمد.

68 - په دې اړه ډېر زیات تفصیلات شته چې د بېلگې په توگه لاندې مراجعو ته باید مراجعه وشي: النظم المالية في الاسلام ص ۹۰ او له هغې وروسته لیکوال: قطب ابراهیم محمد، الهيئة المصرية العامة للكتاب، څلورم چاپ، کال ۱۹۹۶م. او السياسة المالية في ظل الاقتصاد الاسلامي ص ٦۴ عوف محمود الكفراوي، مركز الاسكندرية للكتاب، الاسكندرية مصر، دویم چاپ، کال ۲۰۰٦م. همدا راز الموسوعة الفقهية الكويتية د خراج د لفظ لاندې.

69 - المبسوط ج 2 ص 199، تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، خپروونکی اداره: دار المعرفة – بيروت، ب. ط. کال 1414هـ - 1993م.

**لومړی: مستأمنين**

مستأمن هغه حربي کافر ته ویل کېږي چې دارالاسلام ته راځي، خو د اوسېدلو نیت او اراده یې په کې نه وي، لکه د نورو هېوادونو سفیران، سوداګر، پناه غوښتونکي او همدا راز د سیاحت او یا کوم بل غرض لپاره راغلي غیر مسلمانان. لنډه دا چې دوی حربي کافران دي، خو په امان او ویزه دارالاسلام ته داخلېږي، که دوی سوداګري کوي، نو له دوی څخه باید څه واخیستل شي؟ په دې اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی:

احناف وايي: که حربي کافر سوداګریز مال دار الاسلام ته داخل کړ او مال یې نصاب ته رسېده، نو که هغه مقدار معلوم و چې د هغه متبوع هېواد د مسلمانو سوداګرو څخه څومره برخه اخلي، نو موږ هم باید په هماغه انداز ترې واخلو او که هغه اندازه معلومه نه وه، نو بیا به ترې عشر (لسمه برخه) اخیستل کېږي او که هغوی زموږ له سوداګرو څخه هیڅ هم نه اخیستل نو موږ یې هم باید ترې وانه اخلو، د حربي کافرانو د ماشومانو د مالونو څخه هم موږ څه نه اخلو، خو که هغوی زموږ د ماشومانو له مالونو څخه یوه برخه اخیستله، نو بیا موږ هم د بالمثل معاملې پر بنسټ په هماغه اندزه د هغوی د ماشومانو له مالونو څخه اخلو[70].

د مالکي مذهب سره سم د حربي کافر د سوداګریز مال څخه چې دار الاسلام ته یې راوړي باید هغه اندازه مال واخیستل شي چې په څومره مال ورته امان ورکړ شوی وي، هغه که ډېر وي او که لږ، خو که هغه ټاکلی نه وي، نو بیا به ترې عشر (لسمه برخه) اخیستل کېږي، خو که امام وغواړي نو له دې څخه لږ هم پرې ټاکلی شي.

د امام شافعي د مذهب سره سم کله چې حربي دار الاسلام ته د یو ټاکلي اندازې مال په شرط داخل شي، نو د خپل سوداګریز مال څخه به په هماغه اندازه اسلامي حکومت ته ورکوي، دا که ډېر وي او که لږ، خو که کوم شرط پرې نه وه اینښودل شوی، نو بیا یې د مال څخه څه اخیستل ناروا دي، که دوی د مسلمانانو سره هر ډول معامله کوي مسلمانانو ته د هغوی د سوداګریز مال څخه څه اخیستل درست نه دي.

په حنبلي مذهب کې راغلي چې که حربي کافر اسلامي نړۍ ته داخل شو او دلته یې سوداګري پیل کړ، نو د هغه له سوداګریز مال څخه یو ځل عشر (لسمه برخه) اخیستل کېږي، په دې کې وړوکي، مشر، نارینه او ښځینه ټول شامل دي، دا هم مهمه نه ده چې هغوی دمسلمانو سوداګرو سره څه تعامل کوي، ابن قدامه ذکر کړي چې امام کولی شي د حربي کافرانو څخه عشر وانه اخلي که مصلحت په دې کې وي.

**دویم: ذمیان**

د احنافو او حنبلیانو د مذهب سره سم به د ذمي کافرانو له مال څخه په کال کې یو ځل هغه وخت نصف العشر (شلمه برخه) اخیستل کېږي کله چې خپل سوداګریز مالونه په دار الاسلام کې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته وړي، د امام مالک د مذهب له مخې باید له دوی څخه عشر (لسمه برخه) واخیستل شي، خو که مکې او مدینې ته خوراکي توکي راوړي، نو بیا به ترې نصف العشر (شلمه برخه) اخیستل کېږي، د امام شافعي رحمه الله له نظره په ذمي کافر باندې د جزیې څخه پرته بل څه نه شته، خو که د جزیې څخه پرته بل څه پرې اینښودل شوي وو بیا به ترې اخیستل کېږي[71].

---

[70] - رد المحتار على الدر المختار ج 2 ص 314، ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ) الناشر: دار الفكر-بيروت الطبعة: الثانية، 1412هـ - 1992م.

[71] - الموسوعة الفقهية الكويتية ج۳ ص ۱۰۳-۱۰۴.

**دریم: مسلمان سوداګر**

د مسلمانو سوداګرو څخه دا ډول عشر اخیستل نا درست دي، خو که خپل مالونه یې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته منتقل کول او د عاشر له مخې تېر شو او زکات یې نه وه تأدیه کړی او د زکات شرطونه یې پوره وو، نو زکات به ترې اخیستل کېږي، امام سرخسي وايي: کله چې حضرت عمر رضي الله عنه عشر راټولوونکي وټاکل، هغوی ته یې وویل: مسلمان چې کوم مال وړي، له هغه څخه ربع العشر (څلویښتمه برخه) واخلئ او ذمي چې کوم مال وړي له هغه څخه نصف العشر (شلمه برخه) واخلئ، نو پوښتنه ترې وشوه چې کوم مال حربي کافر وړي له هغه څخه څومره اندازه واخیستل شي؟ وه یې ویل: هغوی زموږ څخه څومره اخلي؟ ورته وویل شو: له موږ څخه عشر (لسمه برخه) اخلي، نو وه یې ویل: له هغوی (حربي کافرانو چې په امان دار الاسلام ته راغلي وي) څخه عشر (لسمه برخه) واخلئ، په یو بل روایت کې راځي: له هغوی څخه په هماغه اندازه واخلئ چې زموږ له سوداګرو څخه یې اخلي، ور څخه پوښتنه وشوه که هغه اندازه معلومه نه وي، نو وه یې ویل: عشر (لسمه برخه) ترې واخلئ[72].

لنډه دا چې دا ګمرک چې په دې عصر کې په سوداګریز مالونو باندې وضع کېږي او اخیستل کېږي، که د کافرانو د مالونو پورې ځانګړی شي، نو د حضرت عمر رضي الله عنه او ورسره د صحابه کرامو د پالیسۍ سره به برابر وي او جواز به ولري او د بیت المال د مواردو څخه به یو مورد وبلل شي، خو په دې زمانه کې ګمرک د شریعت د احکامو سره سم نه دی عیار ځکه ګمرک د کافر او مسلمان دواړو څخه اخیستل کېږي او په یوه اندازه اخیستل کېږي.

**اووم: هغه مالونه چې پاتې وي او مالک یې معلوم نه وي**

هغه مالونه هم د بیت المال برخه ګرځي چې پاتې وي او هیڅ کوم مالک یې معلوم نه وي، لکه د داسې چا میراث چې ټاکلی وارث یې شتون ونه لري، همدا راز هغه پیدا شوي مالونه چې صاحب یې پیدا نه شي، همدا راز هغه غصب شوي مالونه، یا په بانکونو کې او نورو ځایونو کې په امانت ایښودل شوي مالونه چې مالکان یې پیدا نه شي، دا که نقدي وي او که ځمکې او جایدادونه وي دا ټول د بیت المال ملکیت ګرځي.

د دې ترڅنګ د غیر معلومو اوقافو څخه ترلاسه شوې ګټې هم د بیت المال برخه ګرځي، خو په دې شرط چې که د واقف شرط معلوم شي، نو د هغه شرط سره سم باید د هغه په عوایدو کې تصرف وشي.

**اتم: مالي تعزیرونه او جرمانې**

همدا راز مالي تعزیرونه او جرمانې چې د دولت له لورې د جزا په توګه ورکول کېږي د دولت د بیت المال د عوایدو یو بنسټیز مصدر دی، د مالي تعزیر په اړه د فقهاوو مذاهب مختلف دي، د احنافو په مذهب کې د امام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله له نظره مالي تعزیر روا نه دی، تر دې چې امام محمد په خپل هیڅ کتاب کې د دې یادونه هم نه ده کړې، خو د امام ابو یوسف رحمه الله څخه یو روایت دا دی چې که مصلحت په کې ولیدل شي، نو تعزیر بالمال درست او روا کار دی[73].

د امام شافعي رحمه الله په مذهب کې دوه قوله دي، د هغه د پخواني مذهب سره سم تعزیر بالمال روا دی، خو په نوي مذهب کې یې ناروا ګڼلی دی.

---

72 - المبسوط للسرخسي (2/ 199) (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

73 - رد المحتار ج ۳ ص ۱۸۴ (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

د امام مالک رحمه الله مشهور مذهب چې ابن فرحون مالکي نقل کړی دا دی چې تعزیر بالمال روا دی، د تعزیر او جزا په توګه د مجرم څخه مال اخیستل روا دي، خو تعزیرا داسې مال تلف کول چې د استفادې وړ وي درست نه ګڼي، لکه هغه خواړه چې درغلي په کې شوې وي او یا بل څه په کې ګډ کړی شوي وي.

په حنبلي مذهب کې تعزیر بالمال ناروا ګڼل شوی دی، نه تعزیرا د مال اخیستل جواز لري او نه یې تعزیرا له منځه وړل، دوی وایي په دې اړه نه په شریعت کې کوم نص راغلی او نه د داسې چا (صحابه کرامو) څخه نقل شوی چې اقتدا ور پسې درسته ده، خو په دې اړه د حنبلي مذهب مشهورو علماوو امام ابن تیمیة او د هغه شاګرد امام ابن القیم د دې مخالفت کړی دی او وایي چې تعزیر بالمال که د مال د تلف کولو په شکل کې وي او که د اخیستلو په شکل کې وي دواړه روا دي[74].

په دې اړه چې د فقهاوو د نظریاتو په نظر کې نیولو سره اسلامي حکومت که هغه نظر غوره کړي چې تعزیر بالمال د اخیستلو تر حده درست وګڼي او د له منځه وړلو په حد کې یې ناروا وګڼي، نو دا هم د بیت المال لپاره یو مهم او بنسټیز مورد کېدلی شي.

**نهم: د دولتي ممتلکاتو څخه لاسته راغلي عواید**

اسلام لکه څرنګه چې څرګنده خبره ده او موږ ورته په دې لنډ بحث کې اشاره هم کړې ټولنیز ملکیت ته هم اجازه ورکوي لکه څرنګه چې فردي ملکیت ته اجازه ورکوي، دا ملکیتونه بېلابېل ډولونه لري، ځمکې، انحصاري شرکتونه، زراعتي پروژې، صنعتي پروژې او داسې نور، دا ټول د اسلامي حکومت د بیت المال لپاره عواید برابروي.

**لسم: قرضونه**

د اوسني سودي نظام سره سم اسلامي حکومت له دې مورد څخه استفاده نه شي کولی، خو که داسې کوم صورت رامنځته کړی شو چې د سود څخه پاک د مشارکت، مضاربت او یا نورو جایزو لارو څخه اسلامي حکومت تمویل په لاس راوړی شي، نو دا هم د بیت المال او په ځانګړي توګه د پراختیایي پروژو د تمویل لپاره یو مورد ګرځېدلی شي، ډېر مسلمان اقتصاد پوهان په دې ټینګار کوي چې داسې نړیوال اسلامي بانک باید رامنځته کړی شي چې مسلمانو اړمنو هېوادونو ته د سود څخه پاک قرضونه ورکړي، د سود څخه د پاکو قرضونو کوم نظام که اسلامي پراختیایي بانک جدة ولري هغه به وي، خو نور کوم بانک او یا هېواد شاید داسې کوم نظام ونه لري، له دې امله له دې مورد څخه د استفادې په مخ کې ستونزې شتون لري.

**یوولسم: د نوو بانکنوټونو چاپ کول**

د پیسو د انفلاسیون او نورو تخنیکي اړخونو په نظر کې نیولو سره دا هم د اسلامي حکومت د بیت المال د تقویې لپاره یو مورد کېدلی شي، په ځانګړې توګه د لویو پروژو د سرته رسولو او په لاره اچولو لپاره دا یوه لاره ده چې معاصر اقتصادي نظام هم ترې استفاده کوي او اسلامي حکومت هم ترې استفاده کولی شي ځکه کوم شرعي مانع یې په مخکې شتون نه لري.

لنډه دا چې په معاصرو اقتصادي نظامونو کې چې کومې سرچینې د بودیجې د تمویل لپاره ذکر شوي دي هغه ټول د یو مسلمان حکومت د عواید لپاره سرچینې ګرځېدلی شي، یوازې دوه هغه سرچینې دي چې د اسلام د اصولو سره په ټکر کې واقع دي، دا دوه سرچینې په لاندې ډول دي:

[74] - د دې نظریاتو د تفصیل لپاره وګورئ: الموسوعة الفقهیة الکویتیة ج 12ص 269- 273.

لومړی: قرضونه؛ چې په دې کې داخلي او بهرني دواړه ډوله قرضونه شامل دي، په دې کې بنسټیزه ستونزه د سود (ربا) ده، تر څو چې له دې سره سود ملګری وي تر هغه وخت پورې ترې اسلامي حکومت د عاید د منبع په توګه استفاده نه شي کولی او کله هم چې د سود څخه پاک د قرض نظام رامنځته شو بیا ترې استفاده کولی شي، ځکه دا لذاته ناروا کار نه دی، بلکې دا لغیره ناروا دی.

دویم: مالیه ده، په دې کې د ممانعت بنسټیز لامل د خلکو له خوښې پرته د هغوی د مال اخیستل دي او د بل چا په مال کې تصرف کول دي، چې دا کار لکه مخکې یې چې په تفصیل سره یادونه وشوه ناروا او نا درست دی.

**څلورم څپرکی: د مالیې شرعي حکم څه دی؟**

اوس چې دا څرګنده شوه چې هغه مالیه چې په معاصر اقتصادي فکر کې د هېوادونو د مالیاتي سیاست ډېره مهمه برخه تشکیلوي، یو بنسټیز مشکل لري چې هغه د خلکو له خوښې پرته د هغوی په مال کې تصرف دی، نو اوس دا پوښتنه مطرح کېږي چې ایا د مالیې د جواز لپاره په اسلامي شریعت کې کومه لاره شته؟ یو شمېر په اسلام کې د ټولنیز تکافل[75] اصل د مالیې لپاره بنسټ ګرځوي، ایا واقعاً د ټولنیز تکافل نصوص د مالیې لپاره بنسټ ګرځېدلی شي؟ که دا یې بنسټ نه شي ګرځېدلی، نو ایا نورې لارې چارې شته چې د مالیې لپاره په کې د جواز صورت پیدا شي؟ په دې راتلونکو کرښو کې دا قضیه لږ په تفصیل سره څېړو.

**د ټولنیز تکافل اړوند نصوص د مالیې لپاره بنسټ ګرځېدلی شي؟**

زیات شمېر بلکې ټول هغه معاصر لیکوالان چې د معاصر اقتصادي نظام په څېر د مالیې د جواز قایل دي یو زیات شمېر د دې بنسټ د اسلام د تکافل نظام ګرځوي او وایي چې په فقهاوو کې څه خلک د دې قایل دي چې په مال کې د زکات څخه پرته نور حق هم شته او کله چې دا ثابت شي چې په شتمنو خلکو د زکات سربېره نور حق هم شته، نو دا حق باید د مالیې په شکل له دوی څخه واخیستل شي او همدا باید د مالیې لپاره بنسټ وګرځي او په همدې بنسټ باید د مالیې فقهي تکییف (څرنګوالی) برابر کړی شي.

په لنډ ډول باید ووایم چې د زکات پرته د بل حق ثابتول یو مرجوح قول دی چې د امت د عامو علماوو د نظر سره مخالف دی او بیا درسته خبره دا ده چې څوک چې د زکات سربېره د بل حق قایل دي هغوی هم د کوم مبدیي او همېشني حق قایل نه دي، بلکې په اضطراري حالاتو کې د اړمنو حاجت او ضرورت د پوره کولو لپاره دا ډول حق لازم ګڼي، چې په دې معنی بیا دا مالیې لپاره بنسټ نه شي ګرځېدلی.

**لومړی مذهب: د زکات سربېره په مال کې نور حق نشته**

جمهور فقهاء وایي چې په دوی کې د څلورو واړو فقهي مذاهبو د امامانو ترڅنګ نور ډېر فقهاء شامل دي، دوی وایي چې د مسلمان په مال کې یوازې یو حق لازم او فرض دی او هغه زکات دی، له دې سربېره بل حق اسلام نه دی فرض کړی[76]، په

---

[75] - د ټولنیز تکافل څخه مراد دا دی چې په شریعت کې ډېر نصوص شته چې په ټولنه کې د موجودو فقیرانو لاس نیوي او مرستې ته شتمن خلک هڅوي، او د دې غوښتنه ترې کوي چې دوی باید د غریبانو کفالت وکړي او د هغوی اړتیاوې پوره کړي، دې ته تکافل (یو د بل کفالت او یو د بل لاس نیوی) ویل کېږي.

[76] - التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد ج 3ص 306، تأليف: أبو عمر بن عبد البر النمري القرطبي (٣٦٨ - ٤٦٣ هـ)، تحقيق: بشار عواد معروف، وآخرون، خپرونکي مؤسسة الفرقان للتراث الإسلامي – لندن، لومړی چاپ، کال: ١٤٣٩ هـ - ٢٠١٧ م. همدا مذهب تقريباً ټولو علماو جمهور ته نسبت کړی دی، د بېلګې په توګه وګورئ: شرح النووي على مسلم ج ۷ ص ۷۱، خپروونکی اداره: دار احیاء التراث العربي بیروت، دویم چاپ، کال: ۱۳۹۲هـ ق. همدا راز القبس شرح الموطا د ابن عربي مالکي، د بدر الدین عیني د سنن أبي داود شرحه او نور.

دې اړه ابو بکر بن العربي المالکي وايي: «اختلف الناس هل في المال حق سوى الزكاة أم لا؟ فروي عن النبي، صلى الله عليه وسلم، أنه قال: (فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزكَاةِ) وتلا قول الله تعالى {وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ} إلى قوله: {وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى} إلى آخر الآية .. ونزعوا بكل آية في القرآن تتضمن الإنفاق والعطاء والتصدق، والصحيح ما ذهب إليه فقهاء الأمصار من أن الزكاة طُهرة للمال وكفارته لا يبقى بعدها حق فيه»[77].

په دې اړه د خلکو ترمنځ اختلاف دی چې د زکات سربېره هم په مال کې حق شته؟ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی دی (د مجهول صیغه د روایت ضعف ته اشاره ده) چې هغوی فرمایلي دي: په مال کې د زکات سربېره هم حق شته او بیا یې د سورت بقرې دا یاد آیتونه ولوستل، دوی (څوک چې د زکات سربېره په مال کې د حق د شتون قایل دي) په هر هغه ایت استدلال کوي چې په انفاق او صدقې او خلکو ته په ورکړې مشتمل دی، خو درسته او صحیح خبره هماغه ده چې د ټولو سیمو فقهاوو کړې ده او هغه دا چې زکات د مال د پاکوالي وسیله ده او د مال کفاره ده، چې د هغه د اداء کولو وروسته په مال کې کوم حق نه پاتې کېږي.

**دوی د لاندې دلایلو څخه استدلال کوي:**

- د فرضیت لپاره قطعي دلیل ته اړتیا ده چې په دې اړه شتون نه لري او د کومو قرآني ایتونو څخه چې د دویم مذهب خپلوونکي استدلال کوي هغه فهم مسلّم نه دی.
- هغه ټول احادیث چې په دې دلالت کوي چې د زکات څخه پرته نور فرضي عبادت په مال کې نشته بلکې د زکات د ادا کولو وروسته یوازې نفلي او تطوعي عبادت پاتې کېږي، هغه حدیث چې په بخاري کې څو ځایه او مسلم شریف او نور کتابونو کې د طلحة بن عبید الله رضي الله عنه څخه روایت شوی دی چې په کې راځي: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ، ثَائِرَ الرَّأْسِ، يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ، حَتَّى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: (خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ) فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: (لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ). قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: (وَصِيَامُ رَمَضَانَ). قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: (لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ). قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الزَّكَاةَ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: (لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ). قَالَ: فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: (أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ)»[78]. یو تن د نجد له منطقې څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویښته یې ګډوډ وو، اواز یې اورېدل کېده، خو پوهېدل کېده نه چې څه وايي، تر دې چې را نږدې شو، نو (پوهه شول) چې د اسلام په اړه پوښتنه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه دي، نو هغه وویل: له دې سربېره هم په ما څه شته؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: نه، خو که نفل کول وغواړې او ورته یې وفرمایل چې د رمضان د میاشتې روژې در باندې دي، هغه وویل: له دې سربېره څه

[77] - القبس في شرح موطأ مالك بن أنس 462، تأليف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت ٥٤٣هـ) تحقيق: الدكتور محمد عبد الله ولد كريم، خپروونکې اداره: دار الغرب الإسلامي، لومړی چاپ، کال: ١٩٩٢ م.

[78] - دا حدیث صحاحو او سننو کې تقریباً ټولو محدثینو نقل کړی دی، د بېلګې په توګه وګورئ: صحیح البخاري ج1 ص 25، د مصطفی دیب البغا تحقیق، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

نورې هم را باندې شته؟ پیغمبر علیه السلام ورته وویل: نه، خو که نفل کول وغواړې، بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم د زکات یادونه وکړه، هغه وویل: په دې اړه څه نور هم پر ما لازم دي؟ بیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل: نه، خو که نفل کول وغواړې، نو سړی بېرته راستون شو او ویل یې: په الله مې قسم چې له دې څخه به نه څه زیاتوم او نه به یې ترې کموم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که رینښتیا یې ویلي وي (یعنې دا خبره عملي کړي) نو کامیاب دی.

- همدا راز هغه حدیث چې د ابو هریرة رضي الله عنه نه مرفوعا روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "إِذَا أَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ، فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ"[79] چې د مال زکات دې ادا کړ، نو ټول هغه حق دې پوره کړ چې (د مال اړوند) پر تا لازم دي.

د دې نصوصو په نظر کې نیولو سره د امت جمهور علماء وایي چې په مال کې د زکات سربېره بل هیڅ ډول فرضي عبادت شتون نه لري.

**دويم مذهب: په مال کې د زکات سربېره بل حق هم شته**

د دې مسألې په اړه د پخوانیو فقهاوو نظریات په خپلو کې سره متفاوت دي، چې په لنډ ډول یې په لاندې ډول وړاندې کوو:

یوه مجموعه د فقهاوو وایي چې د زکات سربېره هم په مال کې حق شته چې شتمن خلک یې باید ورکړي، دا د مجاهد بن جبر، حسن بصري، عبد الله بن نافع او عامر بن شراحیل الشعبي نظر دی، همدا راز عبد الله بن عمر ته یې هم نسبت کېږي[80].

دوی د بېلابېلو دلایلو څخه استفاده کوي، تر دې چې د ابوبکر بن العربي د وینا سره سم دوی د هر هغه نص څخه چې په قرآن کې راغلي وي او که په سنتو کې چې په صدقه، خیرات، خیر ښېګڼې او فقیرانو او مسکینانو ته په ورکړې دلالت وکړي

---

[79] - سنن ابن ماجه ج 3 ص 8، تألیف: أبو عبد الله محمد بن یزید بن ماجة القزویني (۲۰۹ - ۲۷۳ هـ)، تحقیق: شعیب الأرنؤوط او نورو، خپرونکې اداره: دار الرسالة العالمیة، لندن، لومړی چاپ، کال: ۱٤۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م. د سنن ابن ماجه تحقیق کونکي وایي: دا حدیث لکه امام ترمذي چې ویلي دي (ټولو سندونو، متابعاتو او شواهدو ته په کتلو سره) حسن دی، خو دا سند (چې په سنن ابن ماجه کی پرې حدیث روایت شوی دی) ضعیف دی، ځکه په دې کې درّاج أبي السمح چې د ابن حجیرة نه روایت کوي ضعیف دی، د ابن حجیرة نوم عبد الرحمن دی، دا حدیث ترمذي په (٦۲۳) شمېره د عمرو بن الحارث په روایت په همدې سند نقل کړی دی او حسن یې ورته ویلی دی، دا په صحیح ابن حبان کې په (۳۲۱٦) شمېره هم شتون لري، وګورئ: الإحسان في تقریب صحیح ابن حبان، تالیف: محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التمیمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفی: 354هـ)، ترتیب: الأمیر علاء الدین علي بن بلبان الفارسي (المتوفی: 739 هـ)، تحقیق: شعیب الأرنؤوط، خپرونکې اداره: مؤسسة الرسالة، بیروت، لومړی چاپ، کال: 1408 هـ - 1988 م. د دې یو شاهد د ام سلمه رضي الله عنها په روایت په سنن ابي داود کې په (۱٥٦۴) شمېره راغلی چې لفظ یې دی: «ما بلغ أن تؤدی زكاته، فزكي فلیس بكنز» (کوم مال چې د زکات نصاب ته ورسېږي او زکات یې ادا کړی شي هغه کنز نه دی «یعنې هغه وعید چې د کنز په اړه په قرآن کې راغلی هغه پرې نه تطبیقېږي») یو بل شاهد یې په سنن ابن ماجه کې په (۱۷۸۷) شمېرې باندې د ابن عمر حدیث دی، یو بل حدیث چې صحیح ابن خزیمة کې په (۲۲٥۸) او ۲۴۷۰) شمېرو باندې او په مستدرک کې په ج۱ ص۳۹۰کې د جابر بن عبد الله نه د «إذا أدیت زكاة مالك فقد أذهبت عنك شره» په لفظ روایت شوی دوی د مرفوع حدیث په توګه نقل کړی خو ابو زرعة رازي وایي چې صحیح خبره دا ده چې دا موقوف دی، بل شاهد یې د ابن عمر رضي الله عنهما روایت دی چې بهیقي مرفوعا په ج ۴ ص ۸۲-۸۳ کې او ابن ابي شیبة په ج۳ ص ۱۹۰ او بیهقي په ج۴ ص۸۲ کې موقوفا روایت کړی، او بیهقي ویلي دي چې وقف یې درست دی، او د حدیث الفاظ دي: «لیس بكنز ما أدي زكاته» او امام مالک رحمه الله په موطا کې ج ۱ ص ۲٥٦ کې د عبد الله بن دینار نه روایت کوي چې هغه د عبد الله بن عمر څخه واورېدل کله چې له هغه څخه د «کنز» په اړه پوښتنه وشوه چې کنز څه ته وایي؟ هغه وویل: کنز هغه مال ته ویل کېږي چې زکات یې ورنکړل شي. د ابن ماجه تحقیق کونکي بیا په آخر کې وایي چې دا ټول آثار په هغه حدیث سره تقویت مومي چې په دې مخکې فقره کې موږ د طلحة بن عبید الله څخه نقل کړل چې متفق علیه صحیح حدیث دی.

[80] - د مذهب د تفصیل لپاره وګورئ: التمهید لما في الموطأ من المعاني والأسانیدج 3 ص 307، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی). المصنف ج 6 ص 252 تألیف: أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شیبة العبسي الكوفي (ت ۲۳٥ هـ)، تحقیق: سعد بن ناصر بن عبد العزیز أبو حبیب الشثري، خپرونکې اداره: دار كنوز إشبیلیا للنشر والتوزیع، الریاض – السعودیة، لومړی چاپ، کال: ۱٤۳٦ هـ - ۲۰۱٥ م.

دوی ترې استدلال کوي او خلاصه تصور يې دا دی چې ټولنيز تکافل او يو د بل سره خپر ښېګڼه په اسلام کې يو لازمي امر دی، نو همدې ته دوی هغه حق وايي چې د زکات سربېره هم پر مسلمانانو لازم دی، په دې لړ کې دا لاندې تفصيلي دلايل د يادونې وړ دي.

لومړی دليل: د الله تعالى دا قول چې فرمايي: {لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} [البقرة: 177]. په دې ايت کې الله تعالى حقيقي نيکي په الله تعالى، د آخرت په ورځ، پرښتو، کتابونو او پيغمبرانو باندې ايمان درلودلو او د مال د محبت سره سره خپلوانو، يتيمانو، فقيرانو، مسافرانو، سوال کوونکو او د غلامانو په ازادولو کې د مال مصرفولو ته ويلی دی، چې دا دې غوښتنه کوي چې دا تکافل او يو د بل لاسنيوی په اسلام کې ډېر بنسټيز کار دی. په هغه حديث کې چې فاطمه بنت قيس روايت کړی دی دا استدلال په کې په صراحت سره ياد شوی دی، فاطمه بنت قيس په روايت کې راغلي: «عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ قَالَ: «فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ، وَتَلَا هَذِهِ الْآيَةَ {» لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ "} [البقرة: 177] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ». چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل چې په مال کې د زکات سربېره هم حق شته او بيا يې د دې خبرې د تاييد لپاره دا ايت ولوست[81].

دويم دليل: په بل آيت کې الله تعالى فرمايي: {وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ (24) لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ } [المعارج: 24، 25]. د مسلمانانو يو صفت دا دی چې د هغوی په مالونو کې د سوال کوونکي او فقير ټاکلی حق موجود وي. دا معلوم او ټاکلی حق د دوی له نظره هماغه حق دی چې د فقيرانو او مسکينانو سره د همدردۍ او مرستې لپاره په کار واچول شي او د زکات پرته وي.

دريم دليل: دوی د قرآن کريم له دې ايت څخه هم استدلال کوي چې الله تعالى په کې فرمايي: {وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ } [آل عمران: 180]. هغه خلک چې د الله تعالى له لورې په ورکړل شوي فضل (مال) باندې بخل کوي، دوی دې دا ګومان نه کوي چې دا خبره د دوی لپاره غوره ده، بلکې دا ورته ډېره بده ده، هغه مال چې دوی پرې بخل کاوه دا به ورته د قيامت په ورځ د غاړې غاړګی شي. مسروق بن الأجدع د دې په تفسير کې وايي: «هو الرجل يرزقه الله المال، فيمنع قرابته صلته، فيُجعل حية يطوقها»[82]. دا د هغه چا په اړه دی چې الله تعالى ورته مال ورکړی وي، خو هغه يې خپلوانو ته نه ورکوي، نو دا به ورته مار وګرځي او هغه به ورته په غاړه کې ور واچول شي.

څلورم دليل: له هغه حديث څخه استدلال کوي چې حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«مَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ، وَلَا بَقَرٍ، وَلَا غَنَمٍ، لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا، إِلَّا أُقْعِدَ لَهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَاعٍ قَرْقَرٍ تَطَؤُهُ ذَاتُ الظِّلْفِ بِظِلْفِهَا، وَتَنْطَحُهُ ذَاتُ الْقَرْنِ بِقَرْنِهَا، لَيْسَ فِيهَا يَوْمَئِذٍ جَمَّاءُ وَلَا مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ» قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَا حَقُّهَا؟

---

[81] - د حديث دې الفاظو لپاره وګورئ: شرح معاني الآثار ج 2 ص 27، تأليف: بو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (ت ۳۲۱هـ)، تحقيق او تقديم: محمد زهري النجار او محمد سيد جاد الحق، خپرونکې اداره: عالم الكتب، لومړی چاپ، کال ۱۴۱٤ هـ، ۱۹۹٤ م. د حديث د تخريج يادونه مخکې وشوه، خلاصه يې دا ده چې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت نه دی، درسته خبره دا ده چې دا د امام شعبي قول دی.

[82] - شرح صحيح البخاري ج3 ص 402، تأليف: ابن بطال أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك (ت ٤٤٩ هـ)، تحقيق: أبو تميم ياسر بن إبراهيم، خپروونکې اداره: مكتبة الرشد - السعودية، الرياض، دويم چاپ، کال: ۱٤۲۳ هـ - ۲۰۰۳م.

قَالَ: " إِطْرَاقُ فَحْلِهَا، وَإِعَارَةُ دَلْوِهَا، وَمَنِيحَتُهَا، وَحَلَبُهَا عَلَى الْمَاءِ، وَحَمْلٌ عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللهِ، وَلَا مِنْ صَاحِبِ مَالٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ، إِلَّا تَحَوَّلَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ، يَتْبَعُ صَاحِبَهُ حَيْثُمَا ذَهَبَ، وَهُوَ يَفِرُّ مِنْهُ، وَيُقَالُ: هَذَا مَالُكَ الَّذِي كُنْتَ تَبْخَلُ بِهِ، فَإِذَا رَأَى أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْهُ، أَدْخَلَ يَدَهُ فِي فِيهِ، فَجَعَلَ يَقْضَمُهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ"[83]. همداسې یو حدیث د آسونو په اړه هم راغلی دی چې لفظ یې دی «لم یَنْسَ حَقَّ اللَّهِ فِي رِقَابِهَا وَظُهُورِهَا»[84].

د اوښانو، غواګانو او مېږو څښتن چې د دوی حق نه ورکوي، نو د قیامت په ورځ به په یو اوار میدان واچول شي، د سُم لرونکی به یې د سُم لاندې کوي او ښکر لرونکی به یې په ښکر وهي، په دې ورځ به نه په کې بې ښکره وي او نه ښکر ماتی، موږ وویل: ای د الله پیغمبره! حق یې څه دی؟ وه یې فرمایل: نر حیوان یې د ماده حیواناتو سره د یو ځای کېدو لپاره په سوال ورکول، له کوهي څخه د اوبو راویستلو لپاره بوکه په عاریت ورکول، لنګ مال خلکو ته د شیدو د لوشلو لپاره ورکول، د ګودر سره د لنګو مالونو لوشل (او شیدې یې په فقیرانو تقسیمول، ځکه په دې ځای کې فقیران را ټولېږي) د الله په لار کې د سپرلۍ لپاره ورکول او کوم شخص چې د مال خاوند وي او زکات یې نه ورکوي، نو دا مال به یې د قیامت په ورځ د یو کل سري مار شکل غوره کړي او د هغه خپل مالک پسې به وي چې هر چېرته تري ولاړ شي او هغه به ترې په تېښته وي، ویل کېږي به: دا ستا هغه مال دی چې تا به پرې بخل کاوه، کله چې وګوري چې بل چاره نشته، نو خپل لاس به د هغه په خوله کې ورکړي، نو هغه به یې لاس داسې وژوي (غاښ کړي) لکه یو خطرناک اوښ چې د چا لاس ژوي (غاښ کوي).

دوی وایي په دې حدیث کې د زکات یادونه هم شوې او د نور حق یادونه هم شوې ده، نو له دې امله دا په دې دلالت کوي چې په مال کې د زکات سربېره هم حق شته.

پنځم دلیل: له هغه حدیث څخه استدلال کوي چې صراحت په دې معنی راغلی چې په مال کې د زکات سربېره نور حق هم شته، د فاطمه بنت قیس رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «إِنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ»[85].

د دې ټولو دلایلو په اړه د حدیثو شارحینو اجمالي ځوابونه ورکړي دي چې لنډیز یې امام بدر الدین عیني په دې توګه راخېستې دی، وایي: «دا ځومره دلایل چې یاد شول، اکثره علماء په دې اند دي چې له دې ټولو څخه فرض زکات مراد دی او مال کې د زکات سربېره نور حق نشته او په هغه حدیث کې چې «لم ینس حقها» او یا هم «من حقها» الفاظ راغلي دی، له دې څخه کوم وجوبي حق مراد نه دی، بلکې د ښو اخلاقو او د سخاوت څخه ډکې خواخوږۍ حق مراد دی (هدف یې دا دی چې دا په وجوب حمل نه دی).

بیا د محمد بن علي بن عمر التمیمي المازري أبو عبد الله (۴۵۳هـ ۵۳۶هـ) (چې یو مالکي فقیه دی او د (المعلم بفوائد مسلم) په نوم یې د مسلم شریف شرحه لیکلې ده)، څخه نقل کوي چې هغه وایي: احتمال لري چې دا حق په هغه ځای کې وي چې هلته خېر ښېګڼه او خواخوږي فرض وي(یعنې د اضطرار حالت وي، د اضطرار په حالت کې دا خواخوږي فرض

---

[83] - دا حدیث متفق علیه دی، دا لفظ د صحیح مسلم دی ج 2 ص 685، د حدیث شمېره (۹۸۸) د فؤاد عبد الباقي نسخه.

[84] - صحیح البخاري ج 3 ص 1333، د حدیث شمېره (۳۴۴۶) تحقیق: د. مصطفی دیب البغا

[85] - سنن الترمذي ج 2ص 41، تالیف: محمد بن عیسی بن سَوْرة بن موسی بن الضحاك، الترمذي، أبو عیسی (المتوفی: 279هـ)، تحقیق: بشار عواد معروف، خپرونکې اداره: دار الغرب الإسلامي – بیروت، د خپرېدو کال 1998 م، د حدیث په اړه مخکې به تفصیل سره خبره شوې ده، د دې حدیث پیغمبر علیه السلام ته سم نه دی، دا لکه ترمذي چې وایي صحیح خبره دا ده چې دا د امام شعبي قول دی.

گرځي) او قاضي عياض وايي: کېدلی شي دا (حق چې په حديث کې يې يادونه شوې «من حقها») د زکات د فرضيت څخه لږ مخکې خبره وي.

او د دې ايت په اړه چې الله تعالی فرمايي:{وَفي أَمْوَالِهِمْ حَق معْلُوم للسائِلِ وَالمَحْرُوم} جمهور علماء وايي: چې د حق څخه زکات مراد دی او دا چې په مال کې د زکات څخه پرته بل کوم فرضي حق شتون نه لري او د نورو حقوقو کومه يادونه چې په نصوصو کې شوې ده له هغوی څخه استحبابي حقوق مراد دي او هغه د ښوو اخلاقو غوښتنه ده او په فرضيت دلالت نه کوي.

دا ياد شوی ايت له دې امله هم په فرضيت دلالت نه کوي ځکه چې په ايتونو کې الله تعالی د څه خلکو ښه صفتونه بيان کړي دي او دا په وجوب باندې دلالت نه کوي، لکه له دې ايت وروسته چې کوم صفت ياد شوی دی چې الله تعالی فرمايي: {كَانُوا قَليلاً من الليْلِ مَا يَهْجَعُون} هغه د هيڅ چا له نظره هم په وجوب دلالت نه کوي، ځکه د تهجدو لمونځ ته هيڅوک هم فرض نه وايي.

يو شمېر نور خلک وايي (چې بالفرض که دا نصوص په فرضيت دلالت هم ولري) چې دا حق د زکات په فرض کېدو منسوخ شو او دا ځکه چې دا په فرضيت دلالت کوي ځکه سره له دې چې لفظ يې د «خبر» خو معنی د امر ده (او امر په وجوب دلالت کوي)[86].

د دې تر څنګ دا ټول نصوص يا ظني الدلالة نصوص دي او يا هم ظني الثبوت نصوص دي او فرايض په داسې نصوصو نه ثابتېږي، بلکې د فرضيت د ثبوت لپاره د قطعي الدلالة او قطعي الثبوت نصوصو د شتون اړتيا ده او يا هم که ظني الثبوت وي، نو بايد په معنی يې د امت اجماع متحققه شوې وي، چې په دې نصوصو کې دا ټول مفقود دي.

**د دواړو مذهبونو ترمنځ توفيق**

خو حقيقت دا دی چې د دې دواړو مذهبونو ترمنځ حقيقي تعارض نشته، ځکه چې کوم خلک چې د زکات سربېره بل فرض نفي کوي د هغوی هدف داسې دايمي فرض دی چې د زکات په څېر يې بايد په همېشني ډول ادا کړي، دا ډول فرض نفي کوي، خو د اضطرار په وخت کې د اړمنو خلکو د لاسنيوي لپاره او د بل هر ډول اضطراري حالت د کنټرول لپاره په مجموعي توګه د سيمې په ټولو خلکو او ځوک چې هلته موجود وي په هغوی په عيني توګه د پيسو د ورکولو، خير او ښېګڼې کار او صدقه لازمه ګرځي، په دې کې ځوک اختلاف نه لري، د همدې اضطرار پر بنسټ فقهاء د حکومت لپاره د اضطراري ټېکس د لګولو اجازه هم ورکوي او ځوک چې د زکات سربېره په مال کې نور حق هم ثابتوي د هغوي هدف هم همدا ډول صدقه او خيرات دی، يعنې د اضطرار په وخت کې د اړمنو خلکو سره همکاري فرض ګرځي، خو په عادي توګه په همېشني ډول کومه صدقه او خيرات فرض نه دی، همدا خبره ډېرو شارحينو هم کړې ده، د بېلګې په توګه ابوبکر بن العربي وايي: موږ (جمهور) سره له دې چې وايو چې په مال کې د زکات پرته بل کوم حق نشته، نو له دې څخه مو هدف اصل او مبديي فرض دی، خو په عارضي او ځانګړو حالاتو کې د جهاد څخه پرته نور بدني حقوق لکه د مظلومانو مرسته او د ظالمانو دفع کول هم لازمېږي او په مالونو کې هم څه نور فرايض لازمېږي لکه د اړمنو ضرورتونه پوره کول او د کافرانو سره په بند کې پاتې د مسلمانو بنديانو ازادول، امام مالک رحمه الله ويلي دی: د کافرانو له بند څخه د مسلمانو بنديانو را ازادول په ټولو خلکو

---

[86] - شرح سنن أبي داود ج 6 ص 414، تأليف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ) تحقيق: أبو المنذر خالد بن إبراهيم المصري، خپرووونکې اداره: مكتبة الرشد – الرياض، لومړی چاپ، کال: 1420 هـ -1999 م.

فرض دي، که یو درهم هم ورسره پاتې نه شي، په دواړو قضیو کې د امت ترمنځ هیڅ اختلاف شتون نه لري، نو د دې په تطبیقاتو ځان پوهه کړئ او د اختلاف په وجوهو ځان خبر کړئ[87].

**دا د مالیې (ټېکس) لپاره بنسټ نه شي ګرځېدلی**

لنډه دا چې امت په دې اتفاق لري چې په مال کې همېشنی فرض یوازې زکات دی، بل کوم فرض نه شته چې د زکات په څېر همېشه او په هر چا باندې لازم وي، له همدې امله دا د عادي او دايمي مالیې لپاره بنسټ نه شي ګرځېدلی.

د دې تر څنګ د مالیې مصارف هغه څه نه دي چې د اضطراري صدقاتو او عادي نفلي مالي عبادتونو لپاره په شریعت کې ټاکل شوي دي، ځکه مالیه په هر هغه ځای کې په مصرف رسېدلی شي چې حکومت یې وغواړي او خیراتونه او صدقات یوازې د ټولنیز تکافل لپاره تر سره کېږي او کله چې په اضطراري توګه واجب شي، نو بیا ترې یوازې د هغه حالت د معالجې لپاره ترې استفاده کېږي چې د کوم حالت د معالجې لپاره فرض شوي وي، په بل ځای کې ترې استفاده کول درست نه وي.

بله خبره دا ده چې د صدقاتو او خیراتونو او د ټولنیز تکافل لپاره را ټول شوي مال کې هغه ځانګړتیاوې شتون نه لري چې د مالیې لپاره بنسټیزې ځانګړتیاوې بلل کېږي او موږ پرې د دې څېړنې په لومړي څپرکي کې بحث وکړ.

**د مالیې بنسټ څه کېدلی شي؟**

د تېرو بحثونو په پایله کې دا څرګنده شوه چې:

لومړی: د اسلامي حکومت د بودیجې سرچینې توقیفي نه دي بلکې دا اجتهادي دي، په دې معنی چې دا سرچینې په هغه کې محصورې نه دي چې په شرعي نصوصو کې یې یادونه شوې ده او یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې ترې کار اخیستل شوی، بلکې د اړتیا په وخت کې په دې سرچینو کې زیاتوالې راغلی دی، د بیلګې په توګه خراج او د مستأمنو سوداګرو څخه د عشر اخیستل.

دویم: له دې امله د معاصر اقتصادي نظام د نظر سره سمه مالیه په مبدیي توګه د اسلامي حکومت د بودیجې منبع او مصدر ګرځېدلی شي.

دریم: خو د دې کار په مخ کې بنسټیز خنډ او مانع دا دی چې اسلام د خلکو په مالونو کې د هغوی له خوښې پرته هر ډول تصرف حرام ګرځولی، دا کار په عادي حالاتو کې نه افرادو ته جواز لري او نه حکومتونو او نظامونه ته جواز لري.

څلورم: او تر څو چې دا خنډ له منځه نه وي تللی په عادي حالاتو کې د مالیې په نوم او یا هم په کوم بل نوم د خلکو په مالونو تېری او تعدي جواز نه لري.

اوس پوښتنه دا پیدا کېږي چې ایا داسې څه حالات پیدا کېدلی شي چې مالیه هم واخیستل شي او هغه شرعي مانع هم له منځه ولاړ شي چې د شریعت له نظره مالیه ناروا ګرځي او یا په بل عبارت هغه کوم حالات دي چې دا مانع او خنډ په کې له منځه تللی شي او حکومت او دولت ته په کې د مالیې اخیستل جواز پیدا کوي؟

**مالیه یوه اړتیا**

په اوسني عصر کې د هېوادونو او حکومتونو اړتیاوې د پخوانیو نظامونو د اړتیاوو سره توپیر لري، هغه سرچینې چې مخکې یې د یو حکومت د مصارفو لپاره کفایت کاوه اوس کفایت نه کوي، ځکه مصارف هم متنوع دي او هم زیات او دا د اسلام

---

[87] - القبس في شرح موطأ مالك بن أنس (ص: 462) د ابوبکر بن العربي لیکنه (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

مرونت (Flexibility) ده چې د ژوند په هر اړخ او هره ساحه کې یې اصول وضع کړي دي او نور یې خلک ازاد پرې ایښي دي چې د دې اصولو په دایره کې د خپلو ستونزو لپاره حللاره ولټوي.

په اسلام کې چې کوم مصادر او سرچینې د بیت المال او بودیجې لپاره ټاکل شوي دي لکه زکات، عشر او داسې نور هغه د مالیې (ټېکس) ځای هم نه شي ډکولی، ځکه د هغوی مصارف په شریعت کې مشخص دي، په بل ځای کې ترې استفاده سم کار نه دی او دولت او حکومت له دې مصارفو پرته نور مصارف هم لري چې تر ټولو مهم یې د خپلو کارمندانو معاشونه تأدیه کول او داسې نور مصارف دي، د دې اړتیاو د رفع کولو لپاره د دې اړتیا ده چې د بودیجې لپاره د یادو سرچینو تر څنګ نوې سرچینې ولټول شي.

د دې تر څنګ که موږ په اوسنۍ زمانه کې د اسلامي هیوادونو بودیجوي ستونزو ته وګورو دا ممکنه نه برېښي چې د بودیجې د پخوانیو تقلیدي سرچینو له لارې دې دا ستونزې هوارې شي، له دې امله اسلامي هېوادونه اړ دي چې نوې سرچینې ولټوي او نویو مصادرو څخه استفاده وکړي، دا کار سم دی، خو په دې شرط چې د شریعت د ورکړو اصولو سره مناسبت ولري او مخالف یې نه وي، په دې ضمن کې تر ټولو بنسټیز شرط دا دی چې د چا په ملکیت باندې تعدي او تېری ونه شي.

د بودیجې د دې نویو سرچینو له جملې څخه تر ټولو لویه منبع مالیه دی، خو له دې څخه د استفادې په مخ کې تر ټولو لوی خنډ د خلکو په ملکیتونو تېری او تعدي ده چې شریعت یې نه د افرادو لپاره جایز ګڼي او نه د نظامونو او حکومتونو لپاره، دا مانع یوازې په لاندې دوه صورتونو کې له منځه تللی شي، له دې امله که په شریعت یو ملتزم نظام غواړي د ملت څخه مالیه واخلي، نو د هغې دا لاندې دوه صورتونه کېدلی شي.

### د مالیې د جواز دوه صورتونه

دې شرعي خنډ او مانع ته په کتو اسلامي حکومت د خلکو څخه په لاندې دوو حالتونو کې مالیه اخیستلی شي:

لومړی: د اضطرار حالت

دویم: د ملت د افرادو له لورې په خپله خوښه د مالیې د ورکولو د وعدې او یا هم د عقد حالت

چې دا دواړه حالتونه باید په تفصیل سره وڅېړل شي او ورسره یې شرطونه او مستلزمات هم په تفصیل سره څېړل اړین دي تر څو په څرګند ډول د مالیې د را ټولولو د جواز صورتونه په ګوته کړی شو.

### لومړی: د اضطرار حالت

لومړی هغه حالت چې اسلامي حکومت په کې د رعیت څخه مالیه اخیستلی شي د اضطرار صورت دی، دا په مشهور فقهي اصل باندې ولاړ دی چې دا فقهي قاعده ترې تعبیر کوي چې وایي: «الضرورات تبیح المحظورات».

د «الضرورة» په تعریف کې ویل شوي دي چې دا هغه حالت ته ویل کېږي چې انسان ورسره ځینې وخت مخ کېږي که رعایت یې ونشي نو په یقیني توګه او یا هم په غالب ګومان به «ضروري» ګڼې او مصالح له لاسه ورکړي[88]. دا ضرورتونه به کله فردي وي او کله به ټولنیز وي، په دې دواړو حالتونو کې د دې رعایت پکار دی، په دې د مسلمانو فقهاوو اتفاق دی.

[88] - د دې قاعدې د اهمیت او شرحې لپاره وګورئ: معلمة زاید للقواعد الفقهیة والأصولیة ج ۷ ص ۲۵۷ او له دې وروسته، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

د قاعدې لنډ مطلب دا دی چې کله یو انسان یا یو نظام د داسې حالت سره مخ شي چې که هغه رعایت نشي، نو خپل ضروري مصلحتونه او ګټې به له لاسه ورکړي نو په دې حالت کې د حرامو سره داسې تعامل کولی شی لکه دمباحاتو سره یې چې کوي. د بېلګې په توګه په همدې قضیه کې چې موږ یې څېړنه کوو، د چا په مال کې تصرف حرام او شرعا نا سم کار دی خو که نظام داسې حالت سره مخ شي چې که علاج یې ونکړي، نو د انسانانو او ولسونو «ضروري» مصالح به له لاسه ورکړي په داسې حالت کې د خلکو د مال سره د مباحو په څېر تعامل کولی شي، د مال په اړه نور هم په صراحت سره فقهاء وایي: «لا توضع الأيدي على مال معصوم إلا لضرورة»[89].

دا یوازې یوه فقهي قاعده نه ده، بلکې دا د ډېرو شرعي نصوصو خلاصه ده، له دې امله ځوک دا نه شي ویلی چې د فقهي قواعدو څخه استدلال درست نه دی، دا درسته خبره ده چې د فقهي قواعدو څخه استدلال سم نه دی، خو په هغه وخت کې چې پخپله فقهي قاعده د نصوصو څخه مستفاده نه وي، بلکې هغه یوازې د فقهي جزییاتو لپاره د عنوان او لنډیز حیثیت ولري، خو هغه قواعد چې پخپله د نصوصو څخه مستفادې وي له هغوی څخه استدلال سم دی، ځکه هغه استدلال په حقیقت کې د هغه قاعدې څخه نه دی بلکې د هغه ټولو دلایلو څخه دی چې دا قاعده یې لنډیز وړاندې کوي او دا قاعده همدا حیثیت لري.

دا قاعده په اطلاق باندې دلالت کوي، خو کله چې تفصیلاتو ته مراجعه وشي نو دا قاعده په نورو ډېرو قیدونو باندې مشتمله ده[90] چې له هغې جملې څخه دا لاندې مهم او بنسټیز دي:

- الحاجة تقدر بقدرها. أو "ما جاز لحاجة يتقدر بقدرها". ( د دې معنی دا ده چې کوم حرام کار چې د ضرورت له امله مباح شوی دی، دا باید په هماغه اندازه مباح وي چې هغه ضرورت پرې رفع شي او له هغه پورته به په هماغه څېر حرام وي لکه په اصل کې چې وه، که د چا په ملکیت کې د حکومت او نظام لپاره تصرف د ضرورت لپاره مباح کړی شي دا باید د ضرورت په اندازه وي نه مطلق).
- ما جاز لعذر بطل بزواله. (کوم کار ته چې شریعت د عذر له امله جواز ورکړی وي هغه د عذر د له منځه تلو سره سم بېرته حرام ګرځي، زموږ په دې قضیه کې که حکومت ته د کوم عذر له امله د مالیې په نوم د خلکو د مالونو د اخیستلو جواز ورکړ شي نو دا به دایمي جواز نه وي بلکې موقت جواز به وي او دا به یو استثنایي حالت وي او د هغه عذر د له منځه تللو وروسته به بېرته له منځه ځي).
- الرخص لا يصار إليها إلا بيقين. ( د دې معنی دا ده چې هغه څه له امله کوم حرام کار مباح ګرځول درست دي چې هغه یقیني وي، که وهمي او مشکوک وي هغه د حرام د مباح کېدو لامل نه شي ګرځېدلی، دا معنی د دې قاعدې په نورو الفاظو کې په صراحت سره ذکر شوی، لکه «أسباب الرخص لا يجوز أن تكون مقدرة او متوهمة» او یا «الرخصة لا بد فيها من تحقق سببها» او یا «يقتصر بالرخصة على مورد اليقين» زموږ د بحث لاندې مسأله کې د

---

[89] - القواعد الصغری (الفوائد في اختصار المقاصد) ص92، تالیف: عبد العزیز بن عبد السلام السلمي، تحقیق: ایاد خالد الطباع، خپرونکې اداره: دار الفکر المعاصر , دار الفکر – دمشق، لومړی چاپ، کال ۱۴۱۶هـ ق.

[90] - کله چې وروسته د اضطراري مالیې (ټیکس) د جواز شرطونه ذکر کوو، هلته دا ټول ضوابط مراد دي او ورته به اشاره کېږي.

دې قاعدې معنی دا ده چې تر څو په يقيني توګه داسې ضرورت يا حاجت چې د ضرورت قايمقام وي شتون ونه لري تر هغه وخته د چا په مال کې د ماليې تر نوم لاندې تصرف جواز نه لري).

- "من سومح في مقدار يسير فزاد عليه فهل تنفي المسامحة في الزيادة وحدها أو في الجميع". (د دې معنی دا ده چې کله شريعت په يوه ټاکلې اندازه کې چا ته اجازه ورکړه (د حرامو د ارتکاب اجازه يې ورکړه) خو هغه چا چې دا اجازه ورکړ شوی وه له هغه اندازې څخه تجاوز وکړ، نو ايا هغه ټول جواز له منځه ځي که په هغه اندازه کې جواز له منځه ځي چې د اندازې څخه يې زيات تصرف کړی دی، د ټېکس په اړه د دې معنی دا ده چې شريعت يو نظام ته د دې اجازه ورکړه چې دومره مال د خلکو څخه واخلي چې د کفارو په مقابل کې د هېواد څخه د دفاع اړتيا پرې پوره شي خو حکومت له هغه اندازې زيات مال د خلکو څخه را ټول کړ نو دا ټول مال ورته ناروا ګرځي او که يوازې هغه اضافي مال حرام ګرځي چې د ټاکلې اندازې يې زيات را ټول کړی دی؟).
- "الحاجة تنزل منزلة الضرورة: عامة كانت أو خاصة". (د دې معنی دا ده چې کله حاجت هم د ضرورت په څېر د رخصت لامل ګرځېدلی شي هغه که عام حاجت وي او که خاص، د ټولنې او د افرادو د يوې مجموعې پورې تړاو ولري او که د فرد پورې، له همدې امله پخواني فقهاء په دې کې اختلاف لري چې اضافي ټېکس په کومو حالاتو کې اخيستل کېدلی شي، يو شمېر فقهاوو دا دايره تنګه کړې ده او يوازې ضروريات يې د دې رخصت لپاره سبب ګرځولي دي او يو شمېر نورو دا دايره حاجتونو ته هم پراخه کړې ده)[91].

**د اضطراري ټېکس په اړه د فقهاوو نظريات**

د اضطراري ماليې (ټېکس) په اړ د څلور واړو مذاهبو اتفاق دی چې د هغه ټولو شرايطو په نظر کې نيولو سره چې علماوو بيان کړي دي، دا ډول ټېکس اسلامي حکومت وضع کولی شي، په دې اړه د دې مذاهبو نظريات په لاندې ډول دي.

**د حنفي فقهاوو نظر**

حنفي فقه په دې تصريح کوي چې د اضطرار په وخت کې اسلامي حکومت کولی شي چې يو مقدار مال په خلکو مقرر کړي چې هغه حالت پرې معالجه کړي چې اسلامي حکومت ورسره مخ وي، خو که له هغه حالت پرته په دايمي توګه څه شيان په خلکو ټاکي هغه ناروا او حرام دي.

په دې اړه مشهور حنفي فقيه امام سرخسي وايي: که په بيت المال کې پيسې نه وي او اړتيا پيدا شي چې يو لښکر تيار کړی شي چې د مسلمانانو څخه دفاع وکړي، نو «حاکم» ته د دې حق شته چې خلکو ته د دومره مال د ورکولو امر وکړي چې د دې کار لپاره اړين وي؛ ځکه هغه د مسلمانانو د ګټو په ساتلو مأمور دی او که د مسلمانانو څخه د دفاع لپاره لښکر برابر نه کړي، نو مشرکان به په مسلمانانو برلاسي شي او مسلمانان؛ د هغوی مالونه او اولادونه به تر خپلې ولکې لاندې راوړي، نو د ښه ادارې غوښتنه دا ده چې د مال په خاوندانو دومره مال وټاکي چې د لښکر د تيارولو لپاره اړين وي، تر څو له مال پرته د نورو شيانو په اړه خو ځان په امن کې کړي، له دې وروسته چې جرير بن عبد الله په اړه د څه يادونه شوې ده همدا ترې مراد دی، چې حضرت معاوية رضي الله عنه د کوفې په خلکو د يو لښکر د تيارولو لپاره پيسې واچولې او جرير (رضي الله عنه) او

---

[91] - د دې ټولو قواعدو د تفصيل لپاره وګورئ: معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية ج ۷ ص ۱۵۱ نه وروسته تر ۴۵۹ د المشقة تجلب التيسير د قاعدې لاندې، (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

د هغه زوی يې ترې معاف کړل، جرير رضي الله عنه وويل: موږ دا «اعفاء» نه منو، خو خپل مال به کوم غازي ته پخپله ورکړو، (امام سرخسي د دې حديث معنی بيانوي وايي) د «ضرب البعث» نه مراد دا دی چې د کوفې په خلکو يې د يو لښکر د تيارولو په اندازه پيسې په خلکو الزامي کړې او د بيګار په توګه يې پرې کېښودې، خو په حضرت جرير رضي الله عنه او د هغه پر زوی يې احسان وکړ او له دې څخه يې معاف کړل، ځکه هغه په دوی کې ډېر عزتمند انسان وه او رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله د هغه ډېر عزت کاوه، تر دې چې جرير رضي الله عنه پخپله وايي: چې رسول الله صلی الله به چې ما ته هر وخت کتل نو تبسم به يې کاوه هغه که به په لمانځه کې هم وه همداسې به يې کول، خو حضرت جرير رضي الله عنه دا احسان قبول نه کړ ځکه هغه په دې پوهېده چې په جهاد بالمال کې څومره اجر او ثواب دی او دا چې مؤمن هغه وخت د عزت او احترام وړ وي چې د خېر او طاعت په کارونو کې تر هر چا مخکې وي، خو دا يې وويل: چې دا مبلغ تاسې (حضرت معاوية) ته نه درکوم، بلکې پخپله خوښه يې د غازيانو څخه يو چا ته ورکوم تر څو دا څرګنده شي چې هغه د دې مبلغ په ورکولو مجبور نه دی بلکې په خپله خوښه يې ورکوي[92].

نورو حنفي فقهاوو د اضطراري ماليې مسأله د ضمانت او کفالې په باب کې ذکر کړې ده، کله چې د دې پوښتنه ځواب ورکوي چې د حاکم له لورې که په چا باندې يو څه مبلغ کېښودل شي ايا د هغه کفالت او ضمانت جواز لري که نه؟ د دې په ځواب کې فقهاوو ليکلي دي چې دا مبلغ چې د حاکم له لورې په خلکو ايښودل کېږي په دوه ډوله دی، يو هغه چې جايز دی او هغه د اضطرار په ډول په خلکو ايښودل شوی مبلغ دی، د دې کفالت او ضمانت خو بالاتفاق درست دی او هغه چې حاکمان يې په ظالمانه توګه له خلکو څخه اخلي (هغه دايمي مالياتو (ټېکسونو) ته يې اشاره کړې چې په مياشتني ډول به د رنګمال، خياط او نورو کسبه کارانو څخه اخيستل کېدل) دا ټېکسونه لګول او اخيستل حرام دي، خو د کفالت په اړه يې د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، يو شمېر يې کفالت او ضمانت جايز ګڼي او نور يې ناروا ګڼي.

په دې اړه د حنفي فقهې د اعتماد وړ کتاب هداية کې وايي: «وأما النوائب فإن أريد بها ما يكون بحق ككرى النهر المشترك وأجر الحارس والموظف لتجهيز الجيش وفداء الأسارى وغيرها جازت الكفالة بها على الاتفاق وإن أريد بها ما ليس بحق كالجبايات في زماننا ففيه اختلاف المشايخ رحمهم الله»[93].

د نوايبو (مالياتو) څخه که هدف هغه مال وي چې په حقه توګه اخيستل کېږي، لکه د ګډ او مشترک نهر کېندل، د څوکيدار تنخوا او هغه مال چې د لښکر د برابرولو او د کافرانو په بند کې بنديانو د خلاصولو او داسې نور څه لپاره په خلکو ايښودل کېږي، نو د دې ډول (مال) کفالت او ضمانت بالاتفاق جواز لري او که د «نوايبو» څخه هغه مال مراد شي چې په

[92] - المبسوط ج 10 ص 20، تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ) خپرونکې اداره: دار المعرفة – بيروت، ب.ط، د خپريدو کال: 1414هـ - 1993م. د مبسوط عبارت داسې دی: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي بَيْتِ الْمَالِ مَالٌ وَمَسَّتْ الْحَاجَةُ إلَى تَجْهِيزِ الْجَيْشِ لِيَذُبُّوا عَنْ الْمُسْلِمِينَ فَلَهُ أَنْ يَحْكُمَ عَلَى النَّاسِ بِقَدْرِ مَا يَحْتَاجُ إلَيْهِ لِذَلِكَ لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالنَّظَرِ لِلْمُسْلِمِينَ وَإِنْ لَمْ يُجَهِّزْ الْجَيْشَ لِلدَّفْعِ ظَهَرَ الْمُشْرِكُونَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَيَأْخُذُونَ الْمَالَ وَالذَّرَارِيَ وَالنُّفُوسَ فَمِنْ حُسْنِ التَّدْبِيرِ أَنْ يَتَحَكَّمَ عَلَى أَرْبَابِ الْأَمْوَالِ بِقَدْرِ مَا يَحْتَاجُ إلَيْهِ لِتَجْهِيزِ الْجَيْشِ لِيَأْمَنُوا فِيمَا سِوَى ذَلِكَ وَهُوَ الْمُرَادُ بِمَا ذَكَرَ بَعْدَهُ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ضَرَبَ بَعْثًا عَلَى أَهْلِ الْكُوفَةِ فَرَفَعَ عَنْ جَرِيرٍ وَعَنْ وَلَدِهِ وَقَالَ جَرِيرٌ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: لَا نَقْبَلُ ذَلِكَ وَلَكِنْ نَجْعَلُ أَمْوَالَنَا لِلْغَازِي وَمَعْنَى ضَرْبِ الْبَعْثِ التَّحَكُّمُ عَلَيْهِمْ فِي أَمْوَالِهِمْ بِقَدْرِ الْحَاجَةِ لِتَجْهِيزِ الْجَيْشِ فَكَأَنَّهُ مَنَّ عَلَى جَرِيرٍ وَوَلَدِهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - بِأَنْ رَفَعَ ذَلِكَ عَنْهُمْ فَقَدْ كَانَ مُوَقَّرًا فِيهِمْ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُوَقِّرُهُ حَتَّى قَالَ جَرِيرٌ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: مَا نَظَرَ إلَيَّ إلَّا تَبَسَّمَ وَلَوْ فِي صَلَاتِهِ لَكِنْ لَمْ يَقْبَلْ جَرِيرٌ هَذِهِ الْمِنَّةَ مِنْهُ لِعِلْمِهِ أَنَّ فِي الْجِهَادِ بِالْمَالِ مَعْنَى الثَّوَابِ وَاسْتِحْقَاقُ الْمُؤْمِنِ التَّوْقِيرَ بِكَوْنِهِ مُسْتَبِقًا إلَى الْخَيْرَاتِ وَالطَّاعَاتِ وَلَكِنْ قَالَ: لَا أُعْطِي الْمَالَ إلَيْك بَلْ أَدْفَعُ بِنَفْسِي إلَى مَنْ أَخْتَارُهُ مِنْ الْغُزَاةِ لِيَتَبَيَّنَ بِهِ أَنَّهُ غَيْرُ مُجْبَرٍ عَلَى مَا يُعْطِي».

[93] - الهداية في شرح بداية المبتدي (3/ 95) تأليف: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: 593هـ)، تحقيق: طلال يوسف، خپرونکې اداره: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان، ب. ت.

حقه نه اخیستل کېږي لکه هغه ټېکسونه او مالیات چې زموږ په زمانه کې اخیستل کېږي نو د دې د ضمانت او کفالت په اړه د شیوخو ترمنځ اختلاف دی.

د همدې عبارت په شرحه کې مشهور حنفي فقیه کمال بن الهمام وایي: "( وَأَمَّا النَّوَائِبُ فَإِنْ أُرِيدَ بِهَا مَا يَكُونُ بِحَقٍّ كَكَرْيِ النَّهْرِ الْمُشْتَرَكِ ) لِلْعَامَّةِ ( وَأُجْرَةِ الْحَارِسِ ) لِلْمَحَلَّةِ الَّذِي يُسَمَّى فِي دِيَارِ مِصْرَ الْخَفِيرُ ( وَالْمُوَظَّفِ لِتَجْهِيزِ الْجَيْشِ ) فِي حَقِّ ( وَفِدَاءِ الْأَسَارَى ) إذَا لَمْ يَكُنْ فِي بَيْتِ الْمَالِ شَيْءٌ ( وَغَيْرِهَا ) مِمَّا هُوَ بِحَقٍّ ( فَالْكَفَالَةُ بِهِ جَائِزَةٌ بِالِاتِّفَاقِ ) لِأَنَّهَا وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مُوسِرٍ بِإِيجَابِ طَاعَةِ وَلِيِّ الْأَمْرِ فِيمَا فِيهِ مَصْلَحَةُ الْمُسْلِمِينَ وَلَمْ يَلْزَمْ بَيْتَ الْمَالِ أَوْ لَزِمَهُ وَلَا شَيْءَ فِيهِ ( وَإِنْ أُرِيدَ بِهَا مَا لَيْسَ بِحَقٍّ كَالْجِبَايَاتِ ) الْمُوَظَّفَةِ عَلَى النَّاسِ ( فِي زَمَانِنَا ) بِبِلَادِ فَارِسٍ عَلَى الْخَيَّاطِ وَالصَّبَّاغِ وَغَيْرِهِمْ لِلسُّلْطَانِ فِي كُلِّ يَوْمٍ أَوْ شَهْرٍ أَوْ ثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ فَإِنَّهَا ظُلْمٌ .فَاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِي صِحَّةِ الْكَفَالَةِ بِهَا"[94].

د نوایبو څخه که هغه مال وي چې په حقه اخیستل کېږي لکه د عامو خلکو لپاره د ګډ نهر د کېندلو مصرف او دکلي او محلې لپاره څوکیدار چې په مصر کې ورته «خفير» ویل کېږي او هغه مال چې د حق په لار کې د یو لښکر د تیارولو لپاره مقررېږي او د بندیانو د فدیې لپاره په خلکو ایښودل کېږي، خو په دې شرط چې په بیت المال کې هیڅ شی هم موجود نه وي، همدا راز نور شیان چې حق وي، نو د دې ضمانت او کفالت په اتفاق سره جواز لري، ځکه د دې مال ادا کول په هر توان درلودونکي مسلمان باندې واجب دي، ځکه دا ولي الأمر د داسې کار لپاره لازم کړی چې په هغه کې د مسلمانانو مصلحت او ګټه ده او دا داسې څه دي چې مسؤولیت یې په بیت المال نه دی او یا که مسؤولیت یې په بیت المال وي هم خو په بیت المال کې څه شتون ونه لري او د «نوایبو» څخه هغه څه مراد وي چې نا حقه اخیستل کېږي لکه هغه مالیات (ټېکسونه) چې زموږ په زمانه کې په فارس کې په خلکو ایښودل کېږي لکه په خیاط، رنګمال او نورو باندې چې د حاکم له لورې ورځنې، میاشتنې او درې میاشتنې کوم مالیات (ټېکسونه) ایښودل کېږي، نو دا ظلم دی او د دې د ضمانت او کفالت په اړه د شیوخو ترمنځ اختلاف دی.

په یو بل ځای کې ابن الهمام وایي: "إذا لم يكن في بيت المال فيء لا يكره أن يكلف الإمام الناس ذلك على نسبة عدل لأن به دفع الضرر الأعلى وهو تعدي شر الكفار إلى المسلمين بإلحاق الضرر الأدنى"[95].

که چېرته په بیت المال کې د غنیمت مالونه نه وي، نو په دې کې کراهیت نه شته چې امام (حکومت) په عادلانه تناسب سره خلک په دې (د غازیانو په تیارولو) مکلف کړي، ځکه له دې لارې د وړوکي ضرر د تحمل له لارې د لوړ ضرر چې هغه د کافران د شر دفع کول دی له منځه وړل کېږي.

دا مسأله په همدې توګه د ضمانت او کفالت په فصل کې تقریباً د حنفي فقهې په ټولو معتبرو شروحو او فتواګانو[96] کې یاده شوې ده، چې دلته یې یادونه د بحث د اوږدېدو لامل ګرځي او دوی ځکه په دې فصل کې یاده کړې ده چې امام

---

[94] - شرح فتح القدير ج 7 ص 222، تاليف: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي (ت 681هـ) خپرونکې اداره: دار الفكر، بيروت، لبنان.

[95] - شرح فتح القدير ج 5 ص 443 (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

[96] - د بېلګې په توګه وګورئ: الاختيار لتعليل المختار ج ۲ ص ۱۷۲، تأليف: عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: 683هـ)، تحقيق: الشيخ محمود أبو دقيقة (من علماء الحنفية ومدرس بكلية أصول الدين سابقا)، خپرونکی اداره: مطبعة الحلبي - القاهرة (وصورتها دار الكتب العلمية - بيروت، وغيرها) د خپرېدو کال: 1356 هـ - 1937 م. او البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (6/ 259) د البحر الرائق مؤلف: زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: 970هـ) د منحة الخالق مؤلف: ابن عابدين شامي، او د تکملې مؤلف: محمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري (ت بعد 1138 هـ)، خپرونکې اداره: دار الكتاب الإسلامي، دويم چاپ، ب.ت.

محمد بن الحسن الشيباني په الجامع الصغير کې په همدې سياق کې ياده کړې ده، هغه وايي: "رجل ضمن عَن آخر خراجه ونوائبه وقسمته فَهُوَ جَائِز"[97]. يو چا د بل چا د خراج، د ټيکسونو او برخې[98] ضمانت او کفالت وکړ، نو دا کار درست دی.

لنډه دا چې اضطراري ماليه د حنفي فقهاوو له نظره درسته ده، خو د خپلو شرطونو سره، چې تر ټولو بنسټيز شرط يې دا دی چې په بيت المال کې هيڅ مال شتون ونه لري او هغه به واقعي اړتيا او ضرورت وي، د حق لپاره به ترې استفاده کېږي او د عامې ګټې لپاره به ترې استفاده کېږي او په دايمي شکل به نه وي بلکې د اضطرار په حالت کې به وي، بيا وروسته ځه فقهاوو د حاجياتو ځه حالتونه هم د ضرورت پورې ملحق کړي دي.

او د دې تصريح هم کوي چې کوم ظالمانه ټيکسونه (ماليات) چې د حاکمانو له لورې اخيستل کېږي د هغوی نه ورکول او له هغوی څخه تهرب او ځان بچ کول اړين او ضروري دي، ابن عابدين په دې اړه د فقهاوو څخه نقل کوي چې وايي: «فَإِنَّ أَكْثَرَ النَّوَائِبِ فِي زَمَانِنَا بِطَرِيقِ الظُّلْمِ فَمَنْ تَمَكَّنَ مِنْ دَفْعِ الظُّلْمِ عَنْ نَفْسِهِ فَذَلِكَ خَيْرٌ لَهُ». زموږ په زمانه کې اکثره ټيکسونه او ماليات په ظلم اخيستل کېږي، نو څوک چې د ځان څخه ظلم دفع کولی شي (نو دفع دې يې کړي) ځکه دا ورته غوره دی. بيا وروسته وايي: د کوم شي چې اخيستل حرام وي د هغه ورکول هم حرام دي، (لکه په اشباه کې چې راغلي) خو د ضرورت په حالت کې، که ظالم په هر حال د چا مال اخيسته، نو څوک چې د خپل مال څخه ظلم نه شي دفع کولی هغه به د مال په ورکولو ګناهکار نه وي، خو که څوک د دفع کولو توان ولري او بيا يې هم ورکوي نو دا د دې په ورکولو ګناهکار دی، ځکه دا په خپله خوښه په ظلم باندې د ظالم سره مرسته کوي[99].

بله کومه قضيه چې د حنفي فقهاوو سره مطرح ده هغه په دې اړه د حاکمانو او حکومتونو بې تفاوتي ده، ځکه په هر وخت او هره زمانه کې دوی د مالونو د را ټولولو حرص لري، نه يې له روا لارو را ټولوي او نه يې په روا مواردو په مصرف رسوي، نو فقهاء په دې اړه په فتوی کې د ډېر احتياط څخه کار اخلي د همدې احتياط له امله د حنفي فقه په کتابونو کې وروسته له دې چې د اضطرار په حالت کې د دې مالياتو (ټيکسونو) د ورکولو فتوی ورکوي، دا ورسره وايي چې حاکمانو ته بايد عامه فتوی ور نه کړی شي، ابن عابدين د الدر المختار د متن د دې عبارت چې وايي:«دَفْعُ النَّائِبَةِ وَالظُّلْمِ عَنْ نَفْسِهِ أَوْلَى إلَّا إذَا تَحَمَّلَ حِصَّتَهُ بَاقِيهِمْ وَتَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِهَا وَيُؤَجِّرُ مَنْ قَامَ بِتَوْزِيعِهَا بِالْعَدْلِ وَإِنْ كَانَ الْأَخْذُ بَاطِلًا وَهَذَا يُعْرَفُ وَلَا يُعَرَّفُ كَفًّا لِمَادَّةِ الظُّلْمِ».

د ټيکس او ظلم څخه د ځان څخه بچ کول بهتر دي، خو که د هغه برخه بل څوک ورکړي بيا اشکال نه لري، د ټيکس ضمانت هم جواز لري او څوک چې د ټيکس څخه را ټول شوی مال په انصاف سره توزيع کړي هغه ته اجر شته، سره له دې چې اخيستل او را ټولول يې ظلم دی، په دې حکم ځان پوه کول په کار دي، خو نشرول يې درست نه دي، تر څو په دې توګه د ظلم څخه مخنيوی وشي.

---

[97] - الجامع الصغير وشرحه النافع الكبير لمن يطالع الجامع الصغير (ص: 379) جامع الصغير د امام أبو عبد الله محمد بن الحسن الشيباني (المتوفى: 189هـ) ليکنه ده، او شرحه د مولانا محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي، أبو الحسنات (المتوفى: 1304هـ) ده، خپرونکې اداره: عالم الكتب – بيروت، لومړی چاپ، کال: 1406هـ.

[98] - د دې په تعريف کې د فقهاو ترمنځ اختلاف دی، يو شمېر وايي چې له دې څخه مراد همدا ټيکس دی او دا روايت درست نه دی بلکې دا د «أو قسمته» په روايت درست دی، نور وايي: چې د نائبة او قسمة ترمنځ تفاوت دا دی چې نائبة اضطراري غير راتب ټيکس ته ويل کېږي، او قسمة راتب او دايمي ټيکس ته ويل کېږي، نور وايي چې له دې څخه مراد دا دی چې يو شی د دوو تنو ترمنځ مشاع مشترک و، هغوی تقسيم کړ، هغه د يو برخه چې د بل سره پاتې شوه د هغه ضمانت درست دی، د قسمة د ټيکس (ماليې) سره کوم تړاو نشته.

[99] - د دې تفصيلاتو لپاره وګورئ: رد المحتار على الدر المختار ج 2 ص 336، (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

ابن عابدين وايي: «(قَوْلُهُ: وَهَذَا يُعْرَفُ إلَخْ) الْمُشَارُ إلَيْهِ غَيْرُ مَذْكُورٍ فِي كَلَامِهِ وَأَصْلُهُ فِي الْقُنْيَةِ حَيْثُ قَالَ وَقَالَ أَبُو جَعْفَرٍ الْبَلْخِيّ مَا يَضربه السُّلْطَانُ عَلَى الرَّعِيَّةِ مَصْلَحَةً لَهُمْ يَصِيرُ دَيْنًا وَاجِبًا وَحَقًّا مُسْتَحَقًّا كَالْخَرَاجِ، وَقَالَ مَشَايِخُنَا وَكُلُّ مَا يَضْرِبُهُ الْإِمَامُ عَلَيْهِمْ لِمَصْلَحَةٍ لَهُمْ فَالْجَوَابُ هَكَذَا حَتَّى أُجْرَةُ الْحَرَّاسِينَ لِحِفْظِ الطَّرِيقِ وَاللُّصُوصِ وَنَصْبِ الدُّرُوبِ وَأَبْوَابِ السِّكَكِ وَهَذَا يُعْرَفُ وَلَا يُعْرَفُ خَوْفُ الْفِتْنَةِ ثُمَّ قَالَ: فَعَلَى هَذَا مَا يُؤْخَذُ فِي خُوَارِزْمَ مِنْ الْعَامَّةِ لِإِصْلَاحِ مُسَنَّاةِ الْجَيْحُونِ أَوْ الرُّبَضِ وَنَحْوِهِ مِنْ مَصَالِحِ الْعَامَّةِ دَيْنٌ وَاجِبٌ لَا يَجُوزُ الِامْتِنَاعُ عَنْهُ، وَلَيْسَ بِظُلْمٍ وَلَكِنْ يُعْلَمُ هَذَا الْجَوَابُ لِلْعَمَلِ بِهِ وَكَفِّ اللِّسَانِ عَنْ السُّلْطَانِ وَسَعَاتِهِ فِيهِ لَا لِلتَّشْهِيرِ حَتَّى لَا يَتَجَاسَرُوا فِي الزِّيَادَةِ عَلَى الْقَدْرِ الْمُسْتَحَقِّ اهـ. قُلْت: (القائل هو ابن عابدين) وَيَنْبَغِي تَقْيِيدُ ذَلِكَ بِمَا إذَا لَمْ يُوجَدْ فِي بَيْتِ الْمَالِ مَا يَكْفِي لِذَلِكَ»[100].

په متن کې چې کوم عبارت راغلی دی (هذا يعرف ولا يعرف) دا د هغه (چا ته چې د متن ليکوال نسبت کړی) په عبارت کې نشته، اصل عبارت په القنية (قنية المنية لترميم الغنية د مختار بن محمود الزاهدي ليکنه) کې دی، هغه وايي: ابو جعفر بلخي[101] ويلي دي چې کومه ماليه چې پادشاه په رعيت باندې وضع کوي، د هغوی د مصلحت لپاره دا په هغوی قرض گرځي او د خراج په څېر يو مستحق حق گرځي، زموږ مشايخو ويلي: هر څه چې امام په خلکو د هغوی د مصلحت لپاره وضع کوي نو د هغې ځواب هم همداسې دی (يعنې لازم او اړين دی)، تر دې چې د لارې د ساتلو او د غلو څخه د حفاظت لپاره د څوکيدارانو اجرت، د لارو جوړولو او د کوڅو د دروازو د لگولو مصارف دا ټول لازم گرځي، په دې باندې بايد فقهاء ځان پوه کړي خو د فتنې (چې حاکمان به ترې ناروا استفاده وکړي) د رامنځته کېدو له امله يې نشرول درست نه دي، نو پر دې بنسټ په خوارزم کې چې د عامو خلکو څخه د آمو سيند د غاړو د پخولو او د حيواناتو د پنډغالو د جوړولو او داسې نورو مصالحو لپاره چې کوم مال اخيستل کېږي هغه د خلکو په ذمه واجب گرځي، د هغه څخه سرغړونه جايز نه ده او نه دا ظلم شمېرل کېږي، خو په دې فتوی باندې خلک بايد د دې لپاره پوه کړی شي چې عمل پرې وکړي او د پادشاه او د دې مال د راټولولو لپاره د ټاکلو خلکو په اړه د خلکو د خولو د بندولو لپاره په دې حکم پوهېدل اړين دي، خو دا فتوی بايد نشر نه کړی شي تر څو دوی (حاکم او د هغه استازي) د استحقاق له اندازې څخه زيات مال د خلکو څخه را ټول نه کړي.

له دې امله چې ابن عابدين د داسې عامې فتوی سره موافق نه دی، نو تبصره يې دا ده چې داسې عامه فتوی ورکول درست نه دي، بلکې هغه شرط بايد په کې حتما اضافه کړی شي چې نورو فقهاوو زيات کړی دی او هغه دا چې دا کار هغه وخت روا گرځي چې په بيت المال کې د دې لپاره کافي مال شتون ونلري.

دا ډول عامه فتوی چې د ابو جعفر بلخي څخه په القنية کې نقل شوی ده، زموږ فقهاوو نه ده ورکړی، ځکه دا د خلکو په ملکيتونو باندې د تجاوز لپاره لار پرانيزي او دا کار روا ځکه نه دی چې له دې سره د دين د ضروورياتو څخه يو چې حفظ مال دی د گواښ سره مخ کېږي، له بل پلوه دا کوم پېژندل شوی فقيه هم نه دی چې په داسې عامه فتوا يې اعتماد وکړی شي.

---

[100] - رد المحتار على الدر المختار ج 2 ص٣٣٦ -337، ابن عابدين، (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

[101] - دا کوم معروف فقيه نه دی، د حنفي فقهاوو په تراجمو کې يوازې او يوازې په همدې مسأله پېژندل کېږي، په بل هيڅ کوم کتاب کې ترې کوم قول نه دی نقل شوی، له دې امله د مصلحت له امله داسې عامه فتوی چې د فردي ملکيت اړوند ټول نصوص ناليدلي نيسي درست کار نه دی او نه د اعتماد وړ فتوی ښکاري. د بېلگې په توگه عبد القادر بن أبي الوفاء محمد بن أبي الوفاء القرشي أبو محمد (٦٩٦ه – ٧٧٥ه) الجواهر المضية في طبقات الحنفية ج 2 ص 247، مير محمد کتب خانه، کراچی، پاکستان کې وايي: «أبو جعفر البلخي ذكر عنه فى القنية فى مسئلة ما يضرب السلطان على الرعية مصلحة لهم يصير دينا واجبا وحقا مستحقا كالخراج» همدا خبره د طبقاتو ټولو مؤلفينو هم ياده کړې او نور يې هيڅ هم نه دي اضافه کړي، له دې څخه څرگندېږي چې دا يو غير معروف شخص دی. له دې امله په داسې مطلقه فتوی يې اعتماد نه شي کېدلی.

### د مالکیانو نظر

د امام مالک رحمه الله د مذهب یو اصل د مصالح مرسله څخه استدلال دی، له دې اصل له امله او د سد الذرائع د اصل له امله د ډېرې پراختیا لرونکی مذهب دی، د مصالح مرسله څخه په استدلال د مالکي مذهب مقاصدي فقیه امام شاطبي د اضطراري مالیې (ټېکس) قایل دی، هغه وایي: کله چې موږ د یو مطاع امام وجود ومنو (یعنې په شرعي توګه یې دا منصب ترلاسه کړی وي) او هغه د سرحدونو د بندولو او د ډېر پراخه هېواد د ساتنې لپاره د لښکر زیاتولو ته اړ وي او په بیت المال (بودیجه) کې هیڅ هم شتون ونه لري او د لښکر مصارف دومره لوړ شي چې هغه ورته بسنه ونه کړي، نو امام (چې عادل وي) ته دا حق شته چې په شتمنو باندې دومره مال (د ټېکس په توګه) وټاکي چې د وخت د اړتیا لپاره یې کافي ګڼي او دا تر هغه وخته پورې چې په بیت المال کې مال پیدا شي، دا بیا د امام خوښه ده چې دا مال په غلو، دانو، مېوو او داسې نورو باندې وټاکي، تر څو په ټولو باندې وټاکل شي او د ټاکلو خلکو څخه وا نه اخیستل شي ځکه په دې صورت کې بیا د دې ټاکلو خلکو په زړونو کې د ظلم او وحشت احساس را ولاړېږي او که په غلو دانو او مېوو باندې یې وټاکي، نو د ډېر شي څخه به لږ اخیستل کېږي، نه به په چا تېری راځي او هدف به هم ترلاسه کېږي.

له دې وروسته بیا امام شاطبي د دې د جواز اړتیا څېړي او وایي چې دلته خو مصلت بالکل څرګند دی او هغه دا چې د امام توان، عزت او احترام د همدې نظام پورې تړلی دی، که دا نه وي نو بیا هیڅ هم نه پاتې کېږي او بیا په خلکو داسې مصیبتونه را تللی شي چې د دفع کولو لپاره د خپل ټول مال قربانول هم کم ګڼي دا خو لا لږ مال دی[102].

سره له دې چې د امام مالک رحمه الله مذهب د مرسله مصالحو مذهب دی، خو د پخوانیو مالکي فقهاوو په کتابونو کې په دې اړه ډېر بحث نه دی شو، یوازې د کافرانو په بند کې د بندیانو د خلاصولو لپاره د ټېکس د وضع کولو خبره شوې ده، په دې اړه امام قرطبي مالکي وایي: «وَاتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّهُ إِذَا نَزَلَتْ بِالْمُسْلِمِينَ حَاجَةٌ بَعْدَ أَدَاءِ الزَّكَاةِ فَإِنَّهُ يَجِبُ صَرْفُ الْمَالِ إِلَيْهَا. قَالَ مَالِكٌ رحمه الله: يَجِبُ عَلَى النَّاسِ فِدَاءُ أَسْرَاهُمْ وَإِنِ اسْتَغْرَقَ ذَلِكَ أَمْوَالَهُمْ. وَهَذَا إِجْمَاعٌ أَيْضًا»[103].

علماء په دې اتفاق لري چې کله په مسلمانانو د زکات د اداء کولو نه وروسته یو مصیبت را پرېوځي (او زکات ورته کفایت ونکړي) نو د دې مصیبت د دفع کولو لپاره مال خرڅول واجب دي، امام مالک رحمه الله وایي: په مسلمانانو باندې د خپلو بندیانو د را خلاصولو لپاره فدیه ورکول واجب دي، که په دې کې یې ټول مال هم په مصرف ورسېږي. دا هم اجماعي مسأله ده.

---

[102] - الاعتصام ج 2 ص 619، تأليف: إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير بالشاطبي (ت ۷۹۰هـ)، تحقيق: سليم بن عيد الهلالي، خپرونکي اداره: دار ابن عفان، السعودية، لومړی چاپ، کال: ۱٤۱۲هـ - ۱۹۹۲م، د امام شاطبي عبارت داسې دی: «إِنَّا إِذَا قَرَّرْنَا إِمَامًا مُطَاعًا مُفْتَقِرًا إِلَى تَكْثِيرِ الْجُنُودِ لِسَدِّ الثُّغُورِ وَحِمَايَةِ الْمُلْكِ الْمُتَّسِعِ الْأَقْطَارِ، وَخَلَا بَيْتُ الْمَالِ وَارْتَفَعَتْ حَاجَاتُ الْجُنْدِ إِلَى مَا لَا يَكْفِيهِمْ، فَلِلْإِمَامِ - إِذَا كَانَ عَدْلًا - أَنْ يُوَظِّفَ عَلَى الْأَغْنِيَاءِ مَا يَرَاهُ كَافِيًا لَهُمْ فِي الْحَالِ، إِلَى أَنْ يَظْهَرَ مَالُ بَيْتِ الْمَالِ، ثُمَّ إِلَيْهِ النَّظَرُ فِي تَوْظِيفِ ذَلِكَ عَلَى الْغَلَّاتِ وَالثِّمَارِ أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ، كَيْلَا يُؤَدِّيَ تَخْصِيصُ النَّاسِ بِهِ (إِلَى) إِيحَاشِ الْقُلُوبِ، وَذَلِكَ يَقَعُ قَلِيلًا مِنْ كَثِيرٍ بِحَيْثُ لَا يُجْحِفُ بِأَحَدٍ وَيَحْصُلُ الْغَرَضُ الْمَقْصُودُ.

وَإِنَّمَا لَمْ يُنْقَلْ مِثْلُ هَذَا عَنِ الْأَوَّلِينَ لِاتِّسَاعِ مَالِ بَيْتِ الْمَالِ فِي زَمَانِهِمْ بِخِلَافِ زَمَانِنَا، فَإِنَّ الْقَضِيَّةَ فِيهِ أَحْرَى، وَوَجْهُ الْمَصْلَحَةِ هُنَا ظَاهِرٌ، فَإِنَّهُ لَوْ لَمْ يَفْعَلِ الْإِمَامُ ذَلِكَ النِّظَامَ بَطَلَتْ شَوْكَةُ الْإِمَامِ، وَصَارَتْ دِيَارُنَا عُرْضَةً لِاسْتِيلَاءِ الْكُفَّارِ.وَإِنَّمَا نِظَامُ ذَلِكَ كُلِّهِ شَوْكَةُ الْإِمَامِ بِعَدْلِهِ، فَالَّذِينَ يَحْذَرُونَ مِنَ الدَّوَاهِي لَوِ انْقَطَعَ عَنْهُمُ الشَّوْكَةُ، يَسْتَحْقِرُونَ بِالْإِضَافَةِ إِلَيْهَا أَمْوَالَهُمْ كُلَّهَا، فَضْلًا عَنِ الْيَسِيرِ مِنْهَا. فَإِذَا عُورِضَ هَذَا الضَّرَرُ الْعَظِيمُ بِالضَّرَرِ اللَّاحِقِ لَهُمْ بِأَخْذِ الْبَعْضِ مِنْ أَمْوَالِهِمْ، فَلَا يُتَمَارَى فِي تَرْجِيحِ الثَّانِي عَنِ الْأَوَّلِ. وَهُوَ مِمَّا يُعْلَمُ مِنْ مَقْصُودِ الشَّرْعِ قَبْلَ النَّظَرِ فِي الشَّوَاهِدِ».

[103] - الجامع لأحكام القرآن ج 2 ص 242، تاليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : 671 هـ)، تحقيق: هشام سمير البخاري، خپرونکي اداره: دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودية، د کال 1423 هـ/ 2003 م چاپ.

همدا خبره ابوبکر بن العربي د قرطبي څخه دمخه کړې ده، هغه وايي: «نحن وإن قلنا إنه ليس في المال حق سوى الزكاة فإنما ذلك ابتداء فأما العوارض والطوارئ فقَد تتعين الحقوق في الأبدان بالنصرة للمظلومين ودفع الظالمين زائداً على الجهاد، وفي الأموال بإغناء المحتاجين وفكّ الأسرى من المسلمين، وقد قال مالك، رضي الله عنه: يجب على كافة الخلق أن يفكوا الأسرى ولو لم يبقَ لهم درهم، ولا خلاف بين الأمة في هذين الفصلين، فافهموا تنزيلهما واعلموا أوجه الخلاف فيهما»[104].

موږ سره له دې چې په دې نظر يو چې په مال کې د زکات څخه پرته بل کوم واجب حق نشته، دا خبره د مبديي او مستمر حق په اړه ده او د عارضي حالاتو او مصيبتونو په وخت کې خو د جهاد څخه پرته نور بدني واجبات هم شته لکه د مظلومانو نصرت او د ظالمانو دفع کول او په مال کې هم نور حقوق او واجبات شته لکه محتاجو او په اضطرار کې د واقع خلکو اړتياوې پوره کول او د مسلمانو بنديانو ازادول، امام مالک رحمه الله وايي: په ټولو خلکو د مسلمانو بنديانو ازادول واجب وي ولو که يو درهم هم ورته پاتې نه شي، په دې دواړو مسألو کې د امت ترمنځ اختلاف نشته، په واقعيتونو د دې احکامو تطبيق باندې ځان پوه کړئ او په دې کې چې کوم اختلاف شته هغه هم زده کړئ.

**د شافعي مذهبو فقهاوو نظر**

په شافعي مذهب کې هم هغه فقهاء چې مقاصدي فکر لري هغوی د حکومت له لورې د اضطراري ټېکس د وضع کولو په حق کې دي، په دې اړه امام الحرمين وايي: د داسې مالونو (مالياتو) ټاکل چې امام (حکومت) يې لازم ګڼي اړين دي، دا بايد د (حکومت) د موجودو مصارفو او تکاليفو سره برابر وي او يا هم ورته نږدې وي او که امام (حکومت) دا ماليات (ټېکسونه) په غلو، دانو، مېوو او بېلابېلو ګټو او د اړتيا څخه په اضافي شيانو باندې کېږدي او له ډېر څخه لږ واخلي نو خلکو ته به يې تحمل اسان وي او د اسلام (اسلامي حکومت) وسايل او مال به پرې زيات شي، لښکر به يې پرې قوي شي، د حکومت او پادشاهۍ بنسټونه به منظم او حالات او ظروف به يې سم وي. که خلک داسې حکومت ونلري چې د هغوی د مالونو (کرهنې او مالدارۍ) څخه د تېري کونکو او تجاوز کونکو ظلم او تجاوز دفع کړي، نو دوی به د خپلو مالونو د ساتلو لپاره د هغه مال څخه د ډېر زيات د مصرف لپاره اړ شي چې موږ ورته اشاره وکړه (چې حکومت ته بايد د ټېکس په توګه ورکړی شي)[105].

د امام جويني د عبارتونو څخه داسې څرګندېږي چې د دوی نظر د هغه قطعي تحريم پر ځای چې د مال په اړه په شرعي نصوصو کې راغلی، پر ځای په هغه ضرورت او اړتيا باندې دی چې يو نظام يې د نظام د قايم ساتلو او په درست ډول پر مخ وړلو لپاره مال ته لري، له همدې امله د نورو فقهاوو سره په توپير د امام الحرمين په عبارتونو کې حاکم او حکومت ته په دې اړه د زياتو اسانتياوو د ورکولو اشارې ډېرې دي، د امام الحرمين استدلال دا دی چې وايي: د دولت او حکومت اړتياوې دايمي دي او د بيت المال او بوديجې لپاره چې کوم موارد شتون لري هغه موقت او موسمي دي، له دې امله دا امکان نه لري چې په موسمي او موقتو مواردو دايمي اړتياوې معالجه کړی شي، خو له دې سره هم په پای کې په دې ټينګار کوي چې دا کوم شرعي او توقيفي حکم نه دی بلکې دا يو اجتهادي حکم دی چې کلياتو ته په کتلو مو دا نظر ورکړی دی، له دې

---

104 - القبس في شرح موطأ مالك بن أنس ص: 462 ابوبکر بن العربي المالکي، (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

105 - غياث الأمم في التياث الظلم ص: 283، تأليف: عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (۴۱۹ هـ - 478هـ)، تحقيق: الدكتور عبد العظيم الديب، دويم چاپ، کال 1401هـ د امام جويني اغېز په امام غزالي او شاطبي باندې ښه څرګند دی، شاطبي خو يې الفاظ تکراروي.

امله کله چې بیت المال قوي شي او تر یو وخته پورې د اړتیاوو د پوره کېدو امکانات پیدا شي، نو بیا دې دا مالیات (ټېکسونه) له منځه یوسي او که بیا اړتیا پیدا شوه بیا دې یې وضع کړي، وایي:"فَمَهْمَا اسْتَظْهَرَ بَيْتُ الْمَالِ وَاكْتَفَى حَطَّ الْإِمَامُ مَا كَانَ يَقْتَضِيهِ وَعَفَا، فَإِنْ عَادَتْ مَخَايِلُ حَاجَةٍ أَعَادَ الْإِمَامُ مِنْهَاجَهُ". نو هر وخت چې بیت المال قوي شي او اړتیا یې رفع شي نو امام (حکومت) دې هغه څه به یې چې اخیستل هغه دې معاف کړی، خو که بیا اړتیا پیدا شوه امام (حکومت) دې بېرته خپله تګلاره تازه کړي یعنې بیا دې پر خلکو ټېکس ولګوي.

خو د دې تر څنګ بیا وایي چې د دې معنی دا نه ده چې امام (حکومت) دې د مسلمانانو په مالونو تېری وکړي، د هغوی مالونه واخلي تر څو هغه ذخیره کړی او یا یې د حکامو د عیش او عشرت او یا هم د دولتي تحسینیاتو لپاره ترې استفاده وکړي، د مسلمانانو مالونه یوازې د اړتیا او ضرورت په وخت کې اخیستلی شي[106].

د غیاث الأمم په یو بل فصل کې په صراحت سره د اضطرار دا حالت مشخص کوي او وایي چې دا د کفارو په مقابل کې د جهاد سره تړاو لري او د دې لپاره یې درې حالتونه ټاکلي دي، لومړی دا چې کفار په اسلامي خاوره هجوم راوړي، دویم هغه حالت دی چې کفارو خو هجوم نه وي راوړی خو ګواښ یې وي او درېیم هغه حالت دی چې نه یې هجوم راوړی وي او نه یې وېره وي خو د هجومي جهاد لپاره نور مالونو او وسایلو ته اړتیا وي، په دې حالتونو کې وایي: "والذي أختاره قاطعا به أن الإمام يكلف الأغنياء من بذل فضلات الأموال ما تحصل به الكفاية والغناء، فإن إقامة الجهاد فرض على العباد"[107].

کوم نظر چې زه په قطعي توګه غوره کوم هغه دا دی چې امام یا خلیفه شتمن په دې مکلف کولی شي چې د خپلو اړتیاوو څخه له اضافه مالونو څخه دومره مالونه ورکړي چې د جهاد د اقامې لپاره کفایت وکړي، ځکه د جهاد په بندګانو فرض دی.

خو په ټوله کې د امام جویني نظر د حاکمانو له لورې د اضطراري ټېکس په اړه لږ نرم دی، د دوی له نظره او د دوی په اتباع کې د شاطبي له نظره د اضطرار په ضمن کې یو لړ حاجیات هم شامل دي، چې دا حکومتونو ته لږ خلاص لاس ورکوي او د حفظ مال مقصد په ډېره ښه توګه په کې نه رعایت کېږي.

په دې اړه بیا امام غزالي رحمه الله خپل نظر په دوو کتابونو کې وړاندې کړی دی، خلاصه نظر یې په المستصفی او تفصیلي نظر یې شفاء الغلیل کې ذکر کړی دی، امام غزالي د المستصفی د دویم قطب په خاتمه کې د وهمي اصولو په ضمن کې د استصلاح د اصل یادونه کوي او د مثالونو په ضمن کې وایي: که څوک ووایي: د ټېکس لګول خو د مصلحت له جملې څخه دي ایا دا کار کوم جواز لري؟ موږ د دې په جواب کې وایو: تر څو چې د حکومت او حاکم په لاس کې ډېر مالونه شتون ولري نو دا کار ناروا دی، خو کله یې که په لاس کې مال نه وه او په خزانه کې هم دومره مال نه وه چې د لښکر مصارف پوره کړي او حالت هم داسې وي چې که لښکر تیت شي او هر څوک په خپل کسب وکار پسې ولاړ شي نو د دې وېره به پیدا شي چې کافران اسلامي خاورې ته را ننوځي او یا د فتنه ګرو له لورې د فتنې د راپورته کېدلو وېره وي، نو په داسې حالاتو کې امام (حکومت) ته دا جواز لري چې د لښکر د مصرف په اندازه په شتمنو او مال دارانو ټېکس ولګوي، بیا یې خوښه که دا یې په ځمکه کېښوده او که په بل څه په دې کې کوم باک او حرج نشته، ځکه موږ په دې پوهېږو چې کله دوه مفسدې او دوه ضررونه یو د بل په مقابل کې واقع شي، نو شریعت د دواړو مفسدو او ضررونو څخه لوی او خطرناک ضرر

---

[106] - د دې تفصیلاتو لپاره وګورئ: غیاث الأمم في التیاث الظلم دویم فصل (إذا كثرت عساكر الإسلام ولم تف موارد بيت المال بمؤنتهم) دا عنوان د کتاب په سافټ نسخه کې شتون لري په چاپي نسخه کې نشته، خو ډېر مناسب عنوان دی، ص280 – 286.

[107] - غیاث الأمم ص 257- 261، (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

او مفسده دفع کوي. او دا کوم مال چې د ټېکس په توګه شتمن خلک حکومت ته په دې حالت کې ورکوي دا د هغه ګواښ په مقابل کې ډېر کم او وړوکی دی چې د یو قوي حاکم د نه شتون په حالت کې یوې سیمې ته متوجه کېدلی شي[108].

د امام غزالي د ټولو عبارتونو څخه دا په څرګنده توګه معلومېږي چې کله په واقعي توګه یو مسلمان حاکم دې ته اړ شي چې د اسلامي خاورې څخه دفاع وکړي او په بیت المال کې نورې پیسې نه وي او د نورو مدارکو څخه یې تدارک هم ممکن نه وي نو بیا د اړتیا په اندازه په موقته توګه د مالیې (ټېکس) د لګولو لپاره ګام پورته کولی شي، خو که د حاکمانو د عیش او نوش لپاره وي نو بیا دا کار ناروا دی، ځکه دا د خلکو په انفرادي ملکیت باندې تېری او تجاوز دی چې شریعت حرام کړی دی.

په دې قضیه کې د امام غزالي تاکید پر دې دی چې که د کفارو په مقابل کې د لښکر د تیارولو اړتیا وي او یا د هېواد داخلي نظم له منځه ځي او دا اړتیا واقعي او حقیقي وي او په بیت المال کې هیڅ مبلغ شتون ونلري، نو بیا دا ټېکس ایښودل روا دي، په یو عبارت کې وایي: "فنقول أولا: توظيف الخراج - في عصرنا هذا، وكل عصر هذا مزاجه ومنهاجه - ظلم محض لا رخصة فيه؛ فإن آحاد الجند لو استوفيت جراياتهم، ووزعت على الكافة: لكفاهم برهة من الدهر، وقدرا صالحا من الوقت. وقد تشمخوا: بتنعمهم وترفههم في العيش، وتبذيرهم في إفاضة الأموال على العمارات، ووجوه التجمل على سنن الأكاسرة؛ فكيف نقدر احتياجهم إلى توظيف خراج لإمدادهم وإرفاقهم، وكافة أغنياء الدهر فقراء بالإضافة إليهم؟"[109]. لومړی خو خبره دا ده چې زموږ په زمانه کې او په هره هغه زمانه کې چې مزاج او تګلاره یې زموږ د زمانې په څېر وي ټېکسونه لګول او مالیات اخیستل خالص ظلم دی، هیڅ ډول رخصت په کې نشته، ځکه د هر لښکري (اوس د هر چارواکي) مالونه او استحقاقات که موږ په عامو خلکو تقسیم کړو نو د هغوی د ډېر وخت مصارف پوره کولی شي، دوی د همدې د نازونو او نعمتونو د ژوند له امله او د لوړو عمارتونو د جوړولو لپاره د زیاتو مالونو د مصرفولو او کسری په څیر په جمالیاتو باندې د مصارفو له امله له نورو خلکو ځان پورته ګڼي، په داسې حال کې څرنګه دا امکان لري چې موږ ګومان وکړو چې دوی سره د مرستې او په دوی باندې د آسانتیا راوستلو لپاره د مالیې لګولو اړتیا ده، حال دا چې د زمانې شتمن خلک د دوی په نسبت فقیران دي!.

### په دې مسأله کې د حکم بنسټ

د دې مسألې د حکم د بنسټ په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر تفاوت شتون لري، په عامه توګه د دې د حکم د بیان په اړه دوه تګلارې غوره کړی شوی دي:

---

108 - د دې لپاره وګورئ: المستصفى من علم الأصول ج ۲ ص ۴۹۵-۴۹۶، د امام ابو حامد محمد بن محمد الغزالي (۴۵۰هـ ۵۰۵هـ)، تحقیق: حمزة بن زهير حافظ، بدون تفاصيل الطبع، دلته د امام غزالي عبارت په لاندې ډول دی: «فَإِنْ قِيلَ : فَتَوْظِيفُ الْخَرَاجِ مِنْ الْمَصَالِحِ فَهَلْ إلَيْهِ سَبِيلٌ أَمْ لَا ؟ قُلْنَا : لَا سَبِيلَ إلَيْهِ مَعَ كَثْرَةِ الْأَمْوَالِ فِي أَيْدِي الْجُنُودِ , أَمَّا إذَا خَلَتْ الْأَيْدِي مِنْ الْأَمْوَالِ وَلَمْ يَكُنْ مِنْ مَالِ الْمَصَالِحِ مَا يَفِي بِخَرَاجَاتِ الْعَسْكَرِ وَلَوْ تَفَرَّقَ الْعَسْكَرُ وَاشْتَغَلُوا بِالْكَسْبِ لَخِيفَ دُخُولُ الْكُفَّارِ بِلَادَ الْإِسْلَامِ أَوْ خِيفَ ثَوَرَانُ الْفِتْنَةِ مِنْ أَهْلِ الْعَرَامَةِ فِي بِلَادِ الْإِسْلَامِ , فَيَجُوزُ لِلْإِمَامِ أَنْ يُوَظِّفَ عَلَى الْأَغْنِيَاءِ مِقْدَارَ كِفَايَةِ الْجُنْدِ , ثُمَّ إنْ رَأَى فِي طَرِيقِ التَّوْزِيعِ التَّخْصِيصَ بِالْأَرَاضِي فَلَا حَرَجَ ; لِأَنَّا نَعْلَمُ أَنَّهُ إذَا تَعَارَضَ شَرَّانِ أَوْ ضَرَرَانِ قَصَدَ الشَّرْعُ دَفْعَ أَشَدِّ الضَّرَرَيْنِ وَأَعْظَمِ الشَّرَّيْنِ وَمَا يُؤَدِّيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ قَلِيلٌ بِالْإِضَافَةِ إلَى مَا يُخَاطِرُ بِهِ مِنْ نَفْسِهِ وَمَالِهِ لَوْ خَلَتْ خُطَّةُ الْإِسْلَامِ عَنْ ذِي شَوْكَةٍ يَحْفَظُ نِظَامَ الْأُمُورِ وَيَقْطَعُ مَادَّةَ الشُّرُورِ».

109 - شفاء الغليل في بيان الشبه والمخيل ومسالك التعليل، ص 234، تأليف: أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (المتوفى: 505 هـ)، تحقيق: د. حمد الكبيسي، خپرونکي اداره: مطبعة الإرشاد – بغداد، لومړی چاپ، کال: 1390 هـ - 1971 م.

**د استصلاح یا د مصالحو پر اصل باندې تکیه**

یو شمېر فقهاء چې د دې مسألې د حکم د بیانولو لپاره چې د کوم اصل څخه استفاده کېږي هغه د «مصلحت» یا د «استصلاح» اصل دی، مصلحت د اصولو د علماوو له نظره په درې ډوله ویشل کېږي:

- معتبر مصالح؛ دا هغه مصالح دي چې په شرعي نصوصو کې معتبر ګڼل شوي وي، چې دا د ټولو علماوو له نظره د اعتبار وړ دي، خو دا په حقیقت کې د مصلحت له امله حجت نه دي بلکې د هغه نصوصو له امله حجت ګڼل کېږي چې دا ډول مصالح معتبر ګڼي.
- لغوه او غیر معتبر مصالح؛ دا هغه مصالح او ګټې دي چې شریعت لغو او غیر معتبر ګرځولي وي، لکه د حرامو لارو څخه د مال ترلاسه کول او یا د حرامو لارو څخه استمتاع کول او داسې نور، دا د ټولو له نظره لغوه او غیر معتبر مصالح دي او هیڅ ډول حجیت نه لري.
- مرسله مصالح؛ دا هغه مصالح دي چې په شریعت کې یې په اعتبار او یا عدم اعتبار باندې هیڅ دلیل شتون ونلري، د دې درېیم قسم په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف دی چې دا ډول مصالح حجت دي که نه؟ د امام مالک رحمه الله په مذهب کې دې ته د حجت په سترګه کتل کېږي او نور یې حجت نه ګڼي[110].

علماء چې کله دا قضیه بحث کوي دا مسأله ورسره مطرح ده، چې دا ډول مصلحت چې له امله یې د خلکو په فردي ملکیت باندې تجاوز لازمېږي ملغی مصالح شمېرل کېږي او که مرسله مصالح ګڼل کېږي، که ملغی مصالح وي، نو بیا باید د هیڅ چا له نظره پرې د جواز حکم ونه شي او که د مرسله مصالحو له جملې څخه وي، نو د مالکیانو له نظره خو دا قضیه حل ده، ځکه هغوی یې حجت ګڼي، خو نور بیا په څه بنسټ دې ته جواز ورکوي؟

له همدې امله کله چې امام جویني او د هغه په اتباع کې امام غزالي او بیا وروسته امام شاطبي دا قضیه بحث کوي، هغوی سره دا خبره مطرح ده چې دا د شریعت د طبیعت سره یو نا آشنا مصلحت دی، ځکه په دې کې د خلکو د ممتلکاتو او مالونو مصادره ده او دا کار په شریعت کې ناروا دی او له همدې امله د خلفای راشدینو په وخت کې داسې کوم ټېکس نه وه، دا د بادشاهت د زمانې کار دی کله چې پادشاهان ډېر اصراف کوونکي او د شریعت د طبیعت څخه منحرف شول، نو دا ډول ټېکسونه او مالیې رواج شوي، خو له دې سره سره یې بیا هم د جواز خبره کوي، ځکه چې دوی ورته د شریعت له نظره د اعتبار یو څه دلایل لټوي، وایي چې د یتیم سرپرست د هغه په مال کې د هغه د مصلحت لپاره تصرف کولی شي او شریعت دا ډول تصرف درست ګڼي او د دې سرپرست ولایت هم تام ولایت نه دی، نو چا ته چې ولایت عامه ترلاسه وي هغه هم د همدې شرعي اصل پر بنسټ د خلکو په مالونو کې د شرطونو سره سم تصرف کولی شي.

 څوک چې دې قضیې ته د مصالحو له نظره ګوري په دوی کې بیا څه خلک دې ته توسعه ورکوي او څه خلک ورسره په تنګه دایره کې تعامل کوي، لکه مخکې مو چې د فقهاوو په فتواګانو کې ولیدل.

**د اضطرار پر اصل باندې تکیه**

خو یو شمېر خلک بیا دا قضیه د مصالحو پر بنسټ نه بحث کوي او تصور یې دا دی چې دا ډول مصلحت د ملغی مصلحت

110 - د دې د تفصیلاتو لپاره وګورئ: المستصفی ج ۲ ص ۴۷۸ او له هغې وروسته، د څلورم قطب خاتمه (الأصل الرابع من الأصول الموهومة: الاستصلاح). (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

له جملې څخه دی، ځکه په شریعت کې د خلکو شخصي ملکیتونه د تجاوز او تعدي څخه ساتل او د مال ساتنه د ضروریاتو له جملې څخه دي او څه چې د ضروریاتو سره په ټکر کې وي هغه هیڅکله هم شرعي مصلحت نه شي کېدلی، خو د دې سره وایي چې د اضطرار په وخت کې د یو لړ شرطونو په رعایت کولو سره د ناروا شیانو سره د مباحاتو په څېر تعامل درست دی، نو کله چې د کفارو د تیري په پایله کې د مسلمانانو نفوس، دین او ناموس د ګواښ سره مخامخ وي، نو هلته بیا د مال قربانول درست کار دی، خو په دې کې هم باید هغه شرطونه چې علماوو یاد کړي دي رعایت شي، په غیاث الأمم في التیاث الظلم کتاب کې د امام جویني رحمه الله استدلال همداسې یو استدلال دی چې د جهاد د لزوم په وخت کې چې کله په بیت المال کې مال موجودنه وي، نو دا د اضطرار حالت دی، په دې حالت کې حاکم ته د شتمنو څخه د مال اخیستل روا دي، همدا راز کله حاجت هم د ضرورت قایمقام ګرځي چې جهاد بالفعل قایم نه وي، خو اړتیا یې لیدل کېږي، نو په دې حالت کې هم ورته جواز لري لکه مخکې مو چې هغه درې حالتونه د امام جویني څخه نقل کړل.

**سمه خبره څه ده؟**

سمه خبره دا ده چې کله د حاکم له لورې په خلکو باندې اجباري مالیه وضع کېږي، دا ډول مالیه د اضطرار د احکامو تابع ده او دلته د موازناتو هغه قواعد د تطبیق وړ دي چې د دوو مفسدو ترمنځ موازنه کوي او کمه مفسده د لوې مفسدې د دفع کولو لپاره د تحمل وړ ګڼي، ځکه دلته دوه مفسدې شتون لري:

لومړی مفسده: د خلکو په ملکیت کې تصرف او د هغوی مال د هغوی له خوښې پرته اخیستل چې دا کار شریعت حرام ګرځولی او دا یوه لویه مفسده ده.

دویمه مفسده: د کفارو برلاسي بله مفسده ده، که د شتمنو څخه د هغوی یوه اندازه مال د مالیې (ټېکس) په صورت کې وانخیستل شي، نو په اسلامي نړۍ د کفارو د غلبې او برلاسي قطعي ویره رامنځته کېږي.

نو له دې امله چې د کفارو د غلبې او برلاسي په پایله کې دین، ازادي او تر دې چې د خلکو ناموس او مال ټولو ته زیان رسېږي، نو له دې امله دا ډېره لویه مفسده ده، چې د دین ډېر ضروریات ورسره د تهدید سره مخامخ کېږي او په بل اړخ کې مال دی چې په عامه توګه د لومړۍ مفسدې د دفع کولو لپاره ترې کار اخیستل کېږي او د مال مصرفول خلک د هغو مفاسدو په مقابل کې ډېره وړه مفسده ګڼي چې د کفارو د غلبې په پایله کې خلک ورسره مخامخ کېدلی شي.

همدا راز د دین ټول ضروریات د اهمیت له نظره په یوه سویه کې قرار نه لري، لکه د مقاصدو علماوو چې ویلي دي، په لومړۍ درجه کې د دین حفاظت دی، په دویمه درجه کې د نفس ساتنه ده او بیا د عقل او بیا وروسته ناموس او په آخر کې بیا مال راځي، له دې امله کله چې دوه ضروریات د تهدید سره مخامخ شي، نو بیا باید د موازناتو د فقهې پر بنسټ یو ته ترجیح ورکړی شي، چې په دې حالت کې د دین او نفس ساتنې ته د مال په ساتنه ترجیح ورکړل شوې ده.

له دې امله کله چې د اضطرار حالت وي او کوم بل علاج نه وي، نو بیا د شرعي او مطاع حاکم له لورې د خلکو د مال سره د اضطرار د شرطونو په نظر کې نیولو سره د مباح مال په څېر تعامل کېدلی شي او عادل حاکم ته ترې د اړتیا په اندازه استفاده کول جواز لري.

د امام عز بن عبد السلام فتوا هم په همدې بنسټ ولاړه وه، امام ذهبي چې په کومو کلماتو دا فتوا نقل کړې ده هغه په لاندې ډول دي: "إذا طرق العدو البلاد وجب على العالم کلهم قتالهم، وجاز أن یؤخذ من الرعیة ما یستعان به على جهادهم،

بشرط أن لا يبقى في بيت المال شيء، وأن تبيعوا ما لكم من الحوائص والآلات، ويقتصر كل منكم على فرسه وسلاحه، ويتساووا في ذلك هم والعامة. وأما أخذ أموال العامة مع بقاء ما في أيدي الجند من الأموال والآلات الفاخرة فلا"[111].

کله چې په بغداد کې د خليفه له لورې کمال الدين بن العديم د تتاريانو پر ضد د مرستې د غوښتنې سره راغی، نو سيف الدين قطز د هېواد مشران او مسؤولين را ټول کړل، نو عز الدين بن عبد السلام او قاضي بدر الدين سنجاري هم راغلل، (په دې وخت کې سيف الدين قطز رسمي سلطان نه و، بلکې سلطان د هغه د استاذ کوچنی زوی علي بن المعز و، چې د همدې لپاره يې عزل کړ چې په دې ستونزمن حالت کې د دولت چارې پرمخ نه شي وړلی) نو همدا وړوکی سلطان علي بن المعز الملک المنصور په دربار کې ناست و، د قطز له لورې پوښتنه دا مطرح وه چې د تاتاريانو پر ضد د جهاد لپاره د خلکو څخه اضافي مال اخيستل جواز لري که نه؟ په دې اړه ټول خلک د سلطان العلماء عز بن عبد السلام خبرې ته منتظر وو، په دې اړه د هغه د خبرو لنډيز داسې وو: کله چې دښمن په يوې خاورې باندې بريد وکړي پر ټولو باندې جهاد فرض ګرځي او د رعيت څخه د هغه مال اخيستل روا دي چې د دوی پر ضد په جهاد کې ترې کار واخيستل شي، خو په دې شرط چې په بيت المال کې هيڅ شی هم شتون ونه لري او په دې شرط چې تاسې (د مصر مملوکي اميران) خپل د شان او شوکت د ښودلو لپاره جوړ کړي لباسونه او وسايل وپلورئ او ستاسې څخه هر يو سره يوازې د هغه آس او وسله پاتې شي او دوی (اميران) او عام خلک سره برابر شي او په داسې حال کې چې د پوځ د مشرانو مالونه او ټول وسايل د هغوی سره پاتې شي، نو په داسې حالت کې د عامو خلکو څخه مال (ټېکس) اخيستل روا نه دي.

د همدې لپاره يو شمېر علماوو په دې اړه ډېر شديد او سخت دريځ درلوده، د امام نووي رحمه الله څخه هم بالکل همداسې يوه فتوا نقل شوې ده چې رکن الدين الظاهر بيبرس چې د تاتاريانو پر ضد د جهاد لپاره د خلکو څخه مال اخيستلو په اړه فتوا وغوښتله، نو امام نووي رحمه الله ورته تقريباً د عز بن عبد السلام سره په ورته الفاظو فتوا ورکړه[112].

دا چې اصل د خلکو په مالونو او ملکيتونو کې حرمت دی، خو د شرعي اړتيا او ضرورت په وخت کې د امام او حاکم لپاره ترې استفاده کېدلی شي، د هغه فتوا څخه هم څرګندېږي چې تسولي د ابن منظور[113] څخه نقل کړی دی، هغه وايي: اصل دا دی چې پر مسلمانانو بايد د شرعي واجبو مصارفو څخه پرته نور اضافي تاوانونه وضع نشي، بايد زکات ترې وغوښتل شي

---

[111] - تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام ج 48 ص 45، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي، تحقيق: د. عمر عبد السلام تدمري، خپرونکې اداره: دار الكتاب العربي، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال: 1407هـ - 1987م

[112] - حسن المحاضرة في تاريخ مصر والقاهرة ج 2 ص 105، تأليف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى : 911هـ)، تحقيق: محمد أبو الفضل إبراهيم، خپرونکې اداره: دار إحياء الكتب العربية - عيسى البابي الحلبي وشركاه – مصر، لومړی چاپ، کال: 1387 هـ - 1967م. ويل کېږي چې د همدې فتوا په نتيجه کې امام نووي رحمه الله د دمشق څخه وشړل شو، خو بيا چې کله علماوو بيبرس ته وويل چې دا خو د لويو علماو او صلحاوو له جملې څخه دی، نو هغه بېرته وغوښتل چې راشي، خو امام نووي رحمه الله وويل: چې تر څو په دمشق کې بيبرس وي زه هلته نه ځم، همدا وه چې د يوې مياشتې په دننه کې بيبرس مړ شو او امام نووي رحمه الله ته دمشق ته د ورتګ شرط له منځه ولاړ.

[113] - دا أبو عمر، عثمان بن يحيى بن محمد بن منظور، القيسي، المالقي، نومېږي، امام سيوطي يې په اړه وايي: د غرناطې په تاريخ کې راځي: هغه د علم او عقل لپاره په يوې مشهورې او آبادې کورنۍ کې پيدا شوی و، د خپلې سيمې د علماوو د مشرانو څخه و، ډېر مفيد استاذ و، د اجتهاد، استدلال او تحقيق خاوند او ذهين انسان و، د «بلش» او «مالقة» قاضي تير شوی، د تأليفاتو څخه يې «بغية المباحث فى معرفة الموارث» او «اللمع الجدلية في كيفية التحدث فى علم العربية»، په مالقه (اندلس) کې په کال ۷۳۵هـ کې وفات شو. د ژوند د حالاتو لپاره يې وګورئ: بغية الوعاة في طبقات اللغويين والنحاة، ج ۲ ص ۱۳۶- ۱۳۷، تاليف: جلال الدين عبد الرحمن السيوطي (سنة الولادة 849هـ/ سنة الوفاة 911هـ) تحقيق محمد أبو الفضل إبراهيم، دار الفكر، دويم چاپ، کال ۱۳۹۹هـ ۱۹۷۹م. الديباج المذهب في معرفة أعيان علماء المذهب، ص ۱۹۲، المؤلف: إبراهيم بن علي بن محمد، ابن فرحون، برهان الدين اليعمري (المتوفى: 799هـ)، تحقيق اوتعليق: الدكتور محمد الأحمدي أبو النور، خپرونکې اداره: دار التراث للطبع والنشر، القاهرة، مصر. كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون ج ۲ ص ۱۵۶۱، المؤلف: مصطفى بن عبد الله كاتب جلبي القسطنطيني المشهور باسم حاجي خليفة أو الحاج خليفة (المتوفى: 1067هـ) الناشر: مكتبة المثنى - بغداد (وصورتها عدة دور لبنانية، بنفس ترقيم صفحاتها، مثل: دار إحياء التراث العربي، ودار العلوم الحديثة، ودار الكتب العلمية)، تاريخ النشر: 1941م.

او څه چې په قرآن او سنتو کې واجب کړی شوي دي لکه فيء، غنيمت، کانونه او رکاز، هغه مال چې وارث ونه لري، خو که بيت المال د لښکر د تنخواګانو او د جنګي سامان او جنګ لپاره د امادګۍ د مصارفو څخه عاجز شي، نو بيا څومره چې اړتيا ده په خلکو وويشل شي او د ټېکس په توګه بايد له هغوی څخه واخيستل شي او دا حکم د قرآن کريم له دې ايت څخه استنباط کېږي چې الله فرمايي: (هغه خلکو وويل: ای ذو القرنين! يأجوج او مأجوج په ځمکه کې فساد کوونکي دي، نو ايا موږ تاسې ته يوه ماليه، خراج او ټېکس تعين نکړو؟[114]. خو دا ماليه اخيستل د څه شرطونو پرته روا نه ده:

لومړی: چې بيت المال په واقعيت کې عاجز وي او حاجت او ضرورت متعين وي (واقعا د اضطرار حالت متحقق وي).

دويم: چې کوم مال د خلکو څخه د ماليې په توګه اخيستل کېږي امام (حکومت) هغه مال په انصاف سره مصرف کړي، دا روا نه دي چې مسلمانان پرېږدي او ټول مال د ځان لپاره مختص کړي او دا هم روا نه دي چې اسراف وکړي او يا يې داسې چا ته ورکړي چې هغه يې حقدار نه وي او حقدار ته له هغه زيات ورکړي چې هغه يې حقدار دی.

دريم: چا باندې چې دا تاوان (ټېکس) اچول کېږي هغه بايد د دې توان ولري، هغه باندې نه بايد ظلم وشي او نه ورته ضرر متوجه کړی شي او څوک چې هيڅ هم نه لري او يا لږ مال لري هغه باندې دا تاوان (ماليه) کېښنبودل شي.

څلورم: دا چې هر وخت دا کار وڅاري، کېدلی شي حالت داسې بدل شوی وي چې بيت المال په ځان بسيا شوی وي او په بيت المال کې د موجود مال څخه زيات مال ته اړتيا نه وي پاتې[115].

په کوم ځای کې چې ابو العباس الونشريسي دا فتوا نقل کړې، هلته يې ليکلي دي چې د ابن منظور د فتوا لاندې د يو عالم چې محمد المواق نومېږي تصديق هم شتون لري[116].

ابن خلکان نقل کړی چې کله د موحدينو ستر حاکم يوسف بن تاشفين په اندلس کې د جهاد لپاره مال ته اړ شو، نو بېلابېلو ولايتونو ته يې په دې اړه مکتوبونه ولېږل چې د علماوو نظر واخلي، يو مکتوب يې (المرية)[117]ته هم ورسېده او په هغه کې ليکلي وو چې د علماوو يو جماعت ورته د حضرت عمر رضي الله عنه په اقتداء کې د خلکو څخه د مال د راټولول (ټېکس اخيستلو) فتوا ورکړې ده، ځکه حضرت عمر رضي الله عنه هم دا کار کړی و، دا مکتوب د (المرية) خلکو د هغه ځای قاضي چې ډېر ديندار او متقي انسان و او ابو عبد الله محمد بن يحيى الفراء نومېده وروړ، نو هغه يوسف بن تاشفين ته

---

[114] - له دې ايت څخه استدلال هم عجيب دی، ځکه دلته ذو القرنين د خلکو مالونه په زور نه اخلي بلکې خلک پخپله خوښه ورته د مال پشنهاد کوي او هغه يې ترې نه قبلوي.

[115] - أجوبة التسولي عن مسائل الأمير عبد القادر في الجهاد ص 288، تأليف: علي بن عبد السلام بن علي، أبو الحسن التُّسُولي المالكي (المتوفى: 1258هـ)، تحقيق: عبد اللطيف أحمد الشيخ محمد صالح، خپرونکې اداره: دار الغرب الإسلامي، لومړی چاپ، کال: 1996م. د تسولي عبارت په لاندې ډول دی: «" الأصل: أن لا يطالب المسلمون بمغارم غير واجبة بالشرع، وإنما يطالبون بالزكاة، وما أوجبه القرآن والسنّة، كالفيء، والركاز، و إرث من ورثه بيت (المال)، لكن إذا عجز بيت المال عن أرزاق الجند، وما يحتاج إليه من آلة حرب وعدّة، فيوزع على الناس ما يحتاج إليه من ذلك، ويستنبط هذا الحكم، من قوله تعالى: { قَالُوا يَاذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا ...} [الكهف: 94]. لكن لا يجوز ذلك إلاّ بشروط:

أحدها: أن يعجز بيت المال، وتتعيّن الحاجة.

وثانيها: أن يصرفه الإمام بالعدل، فلا يجوز: أن يستأثر به دون المسلمين، ولا ينفقه في سرف، ولا يعطي من لا يستحق، ولا أكثر ممّا يستحق.

وثالثها: أن يكون المغرم على من كان قادراً من غير ضرر ولا إجحاف، ومن لا شيء له أو له شيء قليل لا يغرم شيئاً.

ورابعها: أن يتفقّدها في كل وقت، فربما جاء وقت لا يفتقر فيه لزيادة على ما في بيت المال)"»

[116] - وګورئ: المعيار المعرب والجامع المغرب عن فتاوى أهل إفريقي/ والأندلس والمغرب ج 11 ص 129، تأليف: أبو العباس أحمد بن يحيى الونشريسي (ت 914هـ) چاپوونکې اداره: د المغرب د اوقافو او شؤون اسلامي وزارت، کال ۱۴۰۱هـ ۱۹۸۱م. دا کتاب بيا نشر او علمي تحقيق ته اړتيا لري، بې شمېره طباعتي غلطۍ په کې دي، تر څو يې نص تصحيح نه شي د درستې استفادې وړ نه دی، ځکه چا بې له اهتمام څخه چاپ کړی دی.

[117] - المرية د ميم په فتحې او يا مشدده ده، د اندلس د «البيرة» سيمې يو ولايت دی.

وليکل: اما بعد؛ امير المؤمنين چې د کومې مرستې غوښتنه کړې او د هغه په ځواب کې زما تاخير او دا چې ابو الوليد باجي او په (العدوة) او اندلس کې ټولو فقهاوو ورته د دې (مال) د مطالبې فتوا ورکړې او دا يې ويلي چې حضرت عمر رضي الله عنه همداسې د خلکو څخه غوښتنه کړې وه، نو حضرت عمر رضي الله عنه د پيغمبر صحابي او هغه سره په يو ځای کې دفن دی او په عدالت کې يې هم هيڅ شک نه شي کېدلی او تاسې (امير المؤمنينه) نه خو د پيغمبر صحابي يې، نه يې وزير او مشاور يې او نه داسې څوک يې چې په عدالت کې يې شک نشي کېدلی، نو که فقهاوو په عدل او انصاف کې د حضرت عمر حيثيت درکړی وي، نو الله به د هغوی څخه پوښتنه وکړي او ورسره به حساب هم وکړي.

او حضرت عمر رضي الله عنه د (ټېکس/ اضافي مال) غوښتنه تر هغه نه وه کړې تر دې چې مسجد نبوي ته داخل شو او هلته يې قسم وخوړ چې د هغه سره د بيت المال يو درهم هم نشته چې په مجاهدينو يې مصرف کړي، نو ته هم بايد په خپل ځای کې د علماوو په شتون کې جامع مسجد ته ولاړ شې او قسم وخورې چې تاسې سره يو درهم هم نشته او نه په بيت المال کې يو درهم شتون لري، نو بيا به ته د دې مال غوښتنه کولی شې[118].

**د اضطراري ماليې لپاره شرطونه**

د دې ټولو علماوو د تصريحاتو څخه دا معلومېږي چې درسته خبره همدا ده چې دا ډول (ماليه) اضطراري ماليه او ټېکس و او يوازې د اضطرار په حالت کې علماوو د اضطرار د قاعدې سره سم (چې مخکې يې يادونه وشوه) د دې اجازه ورکړې وه، دا داسې کوم دايمي او مستمر حالت نه دی، دا حالت که اوس هم رامنځته شي د علماوو دا فتوا پر خپل ځای درسته او صحيح ده، خو د عادي ټېکسونو او مالياتو لپاره بنسټ نه شي ګرځېدلی چې حکومت يې په مستمر ډول د خلکو څخه اخلي، ځکه هغه شرطونه چې د دې اضطراري ټېکس د جواز لپاره علماوو ټاکلي دي هغه په دې عادي مالياتو (ټېکسونو) کې شتون نه لري او نه دا عادي ماليات (ټېکسونه) د اضطرار د حالت د معالجې لپاره اخيستل کېږي او يا داسې کوم حاجت علماوو مشخص کړی چې د ضرورت قايمقام وګرځي او د خلکو په مالونو کې دې د هغوی له خوښې پرته د تصرف د جواز لامل شي.

څه شرطونه چې د ابن منظور په عبارت کې مخکې ياد شول دلته يې بيا ټول د دې لپاره ذکر کوم چې څوک د دې اضطراري ټېکس څخه د عادي ټېکس د جواز لپاره استدلال ونه کړي، ځکه د فتوا شرط دا دی چې بايد د ټولو شرطونو سره واخيستل شي، که څوک شرطونه پرېږدي او فتوا اخلي دا ناروا کار کوي، دا شرطونه په لاندې ډول دي:

**لومړی شرط: د مشروع او عادل حاکم شتون**

د شرعي عادل حاکم شتون د دې لپاره اړين دی چې ټول هغه تصرفات چې حاکم يې کوي او کومو ته چې په فقهي قواعدو کې اشاره شوې ده له هغوی څخه شرعي حاکم مراد دی، هغه حاکم چې شرعاً يې حکومت منعقد ګڼل کېږي، د دې شرط يادونه د امام جويني، امام غزالي او امام شاطبي او نورو په فتواګانو کې شوې ده.

فقهي قاعده وايي: "لا يجوز لأحد أن يأخذ مال أحد بلا سبب شرعي"[119]. د چا په مال کې د شرعي سبب څخه پرته د هيڅ

[118] - وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان ج 7 ص 118-119، أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر بن خلكان (608هـ 681هـ) تحقيق: إحسان عباس، چاپوونکې اداره: دار صادر بيروت، ب. ت.

[119] - مجلة الأحكام العدلية قاعدة رقم: 97. مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، د قاعدې شمېره (۹۷)، تاليف: د عثماني خلافت د علماو او فقهاو د يو کميسيون له لورې تاليف شوی کتاب، نشرونکې اداره: نور محمد کتابخانه تجارت کتب، آرام باغ کراچي.

چا لپاره تصرف جایز نه دی. ورسره بله قاعده دا ده چې وايي: "لا يصح التصرف في ملك الغير إلا بولاية شرعية، أو نيابة عرفية"[120]. د بل چا په مال کې د شرعي یا عرفي ولایت څخه پرته تصرف صحیح نه دی. همدا راز هغه ټولې قاعدې چې د امام د تصرف په اړه راغلي دي او د السياسة الشرعية قواعد بلل کېږي، لکه " تصرف الإمام على الرعية منوط بالمصلحة"[121] په دې ټولو کې د امام څخه مراد شرعي امام دی او شرعي امام هغه دی چې د عقد له لارې او په شرعي طريقه د امامت مقام ته رسېدلی وي.

نو د شرعي حاکم تر ټولو بنسټيز شرط دا دی چې په خلکو باندې به په زور نه وي مسلط، بلکې د خلکو په خوښه او د مسلمانانو ترمنځ د مشورې په پایله کې به دې منصب ته رسېدلی وي، د دې تر څنګ باید هغه ټولې ځانګړتیاوې ولري چې علماوو د دې منصب لپاره ذکر کړي، دي، په نورو ځانګړتیاوو کې ډېر اختلاف نشته، څکه مسلمان، پرهېزګاره، عاقل، بالغ، مذکر، د دې منصب په غوښتنو پوهه (د اجتهاد شرط د علماوو په تصریح اوس ساقط دی) د حواسو له پلوه سالم هغه شرطونه دي چې تقریباً ټول پرې اتفاق لري.

خو د خلکو په خوښه دې منصب ته رسېدل هغه قضیه ده چې اسلام ورته ډېر بنسټيز اهمیت ورکوي، خو له بده مرغه ځوک د اسلام دا بنسټيز اصل په نظر کې نه نیسي، د شورایيت اړوند ټول نصوص د دې لپاره دلیل دي، همدا راز هغه زیات احادیث چې د مسلمانانو له مشورې پرته د حاکم ټاکل ناروا ګڼي ټول په دې دلالت کوي[122].

د دې تر څنګ اوس علماء په دې اتفاق لري چې په اسلامي هېوادونو کې د موجودو حاکمانو څخه هیڅ یو هم د مسلمانانو د امام او خلیفه حکم نه لري، بلکې اوس باید د هغه سیمې د خلکو په مشوره لنډمهاله اداره جوړه کړی شي او کله چې اسلامي خلافت رامنځته شي بیا دې ورسره یو ځای شي.

لنډه دا چې حاکم که رسمي امام او خلیفه وي او که په اوسنۍ زمانه کې د هېوادونو مشران وي ټول هغه وخت اضطراري مالیه له خلکو څخه اخیستلی شي چې مشروعیت ولري او د خلکو په مشوره دې منصب ته رسېدلی وي او خلکو یې په ټاکنه کې ګډون لرلالی وي.

د دې ترڅنګ دا شرط هم ډېر اړین دی چې حاکم به د اهلیت خاوند وي، لکه څرنګه چې د یو مسلمان حاکم مسؤولیتونه له یوې زمانې څخه بلې زمانې ته بدلون مومي، څکه د هرې زمانې خپلې غوښتنې وي، نو د ارزښتونو تر څنګ باید د دې منصب اړونده مسؤولیتونو باندې پوه وي او په ورته وخت کې د دې مسؤولیتونو د سرته رسولو توان هم ولري.

د عدالت شرط علماوو څکه ایښی دی چې دا مالیات (ټېکسونه) په ظالمانه توګه وانه اخلي، کله چې حاکم عادل وي بیا به په ظلم د چا مال نه اخلي.

**دويم شرط: د اضطراري مالیې د لګولو لپاره باید د اضطرار شرط رامنځته شي**

د دې شرط معنی دا ده چې حکومت باید واقعي اړتیا ولري، چې د دې اړتیاوو مثالونه د امام جویني، امام غزالي، شاطبي او نورو فقهاوو په اقوالو کې مخکې ذکر شول، چې د کفارو یرغل او برید دفع کول ور په غاړه وي او یا د مسلمانانو څخه کوم

[120] - معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية ج 14 ص 96.

[121] - الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ ص 123، تاليف: الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْمِ بْنِ نُجَيْمٍ (926-970هـ)، خپرونکې اداره: دار الكتب العلمية،بيروت،لبنان، د چاپ کال 1400هـ=1980م. همدا راز مجلة الأحكام العدلية د مادې شمېره: ۵۸

[122] - د دې قضیې تفصیلات دلته اوس ممکن نه دي، په یو بل بحث کې باید په دې اړه په تفصیل سره بحث وشي.

لوی ګواښ دفع کول ورته په مخ کې وي چې که هغه دفع نه شي، نو مسلمانان به ضروریات له لاسه ورکړي، که داسې حالت نه وي بیا اضطراري مالیه نه شي اخیستلی، دا درسته خبره ده چې فقهاوو کله حاجیات هم د ضروریاتو قایمقام ګرځولي دي، په دې معنی چې که کله حاجیات هم له لاسه ورکول کېږي هلته هم د حرامو ارتکاب جواز لري، لکه د ضروریاتو د ضایع کېدو په صورت کې، خو دا هم مطلق نه دی بلکې د دې لپاره هم اجتهاد ته اړتیا ده، له همدې امله په وروسته یو شرط کې دا راځي چې باید دا د اهل شورا په مشوره تشخیص شي چې دا حاجت د ضرورت قایمقام دی که نه؟.

همدا راز په دې کې علماوو دا هم په نظر کې نیولې ده چې باید په بیت المال کې هیڅ ډول مال شتون ونه لري، ځکه که په بیت المال کې مال شتون ولري بیا د اضطرار حالت نه رامنځته کېږي.

دا شرط علماوو له دې امله ایښی دی چې د حکومت او حاکم لپاره اصلاً د ولس او عامو خلکو په مال کې تصرف او مداخله ناروا ده، لکه مخکې مو چې په تفصیل سره د شرعي نصوصو په رڼا کې ولوستل، یوازې د اضطرار په حالت کې دا کار درست دی، ځکه فقهي قاعده چې د ډېرو نصوصو لنډیز دی وایي: "الضرورات تبیح المحظورات" (شرعي) ضرورتونه او اړتیاوې حرام شیان او حرام کارونه مباح ګرځوي، له همدې امله دې ته اضطراري مالیه ویل کېږي.

د دې شرط د اېښودلو بل لامل دا دی چې حاکم باید نورې ټولې لارې چارې وسنجوي، خپل مصارف راکم کړي، دا اړتیاوې او ضرورتونه له نورو لارو پوره کړي، که دا کار ممکن نه شو بیا دې د خلکو څخه د هغوی مال د اضطراري مالیې (ټېکس) په توګه واخلي، علماوو په دې ډېر ټینګار له دې امله کړی چې دا د دولتي چارواکو د لوړو مصارفو او د حاکمانو د عیش او عشرت وسیله ونه ګرځول شي او د دې مصارفو د پوره کولو لپاره په ولس او خلکو بې ځایه فشار رانشي او ولسونه د حکومتونو د ظلم ښکار نه شي.

**درېم شرط: دا باید یو استثنایي عمل وي**

د دې معنی دا ده چې دا ډول مالیه به په موقت ډول اخیستل کېږي، یوازې هغه وخت به اخیستل کېږي چې کله اضطرار رامنځته شي، ځکه همدا یې علت دی، خو کله چې د اضطرار حالت له منځه ولاړ شي بیا حکم هم لغو کېږي، ځکه قاعده دا ده چې "الحکم یدور مع علته وجودا وعدما"[123] نو کله چې د اضطرار علت له منځه ولاړ شي د مالیې د اخیستلو د جواز حکم هم ورسره له منځه ځي.

**څلورم شرط: دا اضطراري مالیه باید په عادلانه توګه واخیستل شي**

د دې شرط معنی دا ده چې دا ټېکسونه او مالیات باید ډېر ظالمانه هم نه وي، داسې باید نه وي چې یو انسان پخپله د خپلو بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو توان نه لري او دولت ترې مالیه وغواړي، ځکه دا یو ډول صدقه ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: "خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ"[124]. تر ټولو غوره خیرات هغه دی چې د شتمنۍ په حالت کې وشي او په خیرات کې له هغو خلکو پیل وکړه چې نفقه یې پر تا لازمه وي.

له دې امله د فقیرانو څخه یې اخیستل درست نه دي، دا خبره د امام الحرمین، امام غزالي او شاطبي په فتواګانو کې په

[123] - دا قاعده یوه اتفاقي قاعده ده، ټولو فقهي مذاهبو پرې تصریح کړې ده، یوازې د امام سرخسي په مبسوط کې په ډېرو زیاتو ځایونو کې په بېلابېلو سیاقاتو کې یاده شوې ده، د بېلګې په توګه وګورئ: أصول السرخسي ج 2 ص 180.

[124] - صحیح البخاري (2/ 112) د مصطفی دیب البغا تحقیق.

صراحت سره یاده شوې ده، همدا راز دا مالیات باید د هر چا څخه د هغه د عایداتو په تناسب واخیستل شي، څکه که په ولس زیات فشار راوړل شي، نو دا د هېواد اقتصاد له منځه وړي، خلک په اقتصادي فعالیتونو کې رغبت له لاسه ورکوي.

**پنځم شرط: دا چې د مالیې را ټولول او مصرفول په روا او سمه توګه وي**

د دې معنی دا ده چې د دې اضطراري مالیې را ټولول د دولتي چارواکو له لورې په خلکو د ظلم وسیله نشي، په داسې توګه ترې واخیستل شي چې خلک د مظلومیت احساس ونکړي، د دې لپاره د دې ډول اضطراري ټېکس د لګولو څخه د مخه د خلکو د قانع کولو پروسه باید په لاره واچول شي او دا ورته باید څرګنده کړی شي چې دا د ملت او هېواد د یو حیاتي ضرورت او اړتیا لپاره اخیستل کېږي، کله چې قناعت رامنځته شي بیا د خلکو څخه دا مال را ټولول زیاته ستونزه نه جوړوي.

همدا راز دا راټول شوی مال باید په هغه شیانو کې مصرف شي چې د څه لپاره راټول شوی دی، دا باید د دولتي چارواکو د تجملاتو وسیله نشي، دا باید مسؤولین او دولتي چارواکي په خپلو منځونو کې د کورونو د اخیستلو، نوو ماډل موټرو رانیولو او د تعیش نورو لوازماتو په اړه د مسابقې وسیله نشي او نه هم د خپلوانو، اندیوالانو او چاپلوسانو د خوشحاله کولو او شتمن کولو وسیله وګرځول شي. بلکې یوازې په هغه څه کې مصرف شي چې شریعت یې امر کوي، په دې اړه د حضرت عمر بن الخطاب، حضرت علي بن أبي طالب او نورو راشده خلیفه ګانو سیرت او تعامل د مطالعې وړ دی[125].

**شپږم شرط: دا ډول مالیه باید په مشوره او د اهل شورا په توافق واخیستل شي**

د دې شرط معنی دا ده چې د ټولو ټولنیزو قضیو په څېر د مالیې لګول هم مشورې او شوراییت ته اړتیا لري، څکه همدا د الله تعالی حکم دی، د شورا په پایله کې دا باید وڅېړل شي چې ایا حکومت په واقعي توګه په اضطرار کې قرار لري او که نه؟ دا هم باید فیصله شي چې اړتیا څومره ده، څکه د اضطراري عملونو لپاره قاعده دا ده چې "ما أبیح للضرورة یقدر بقدرها"[126]. کوم څه چې د ضرورت پر بنسټ مباح وګرځول شي، د هغه اباحت به د همدې ضرورت په اندازه وي.

بله قضیه دا ده چې که دا یوازې حکومت او تنفیذي جهت ته پرېښودل شي، نو دا به د ځان لپاره د قضاء او فیصلې کولو او د فتوا ورکولو په معنی وي چې دا کار ناروا دی، څکه حکومت پخپله دا مال په مصرف رسوي، نو باید یو بل جهت داسې وي چې دا اړتیا وګوري چې واقعاً شتون لري او که نه؟ که شتون لري، نو څومره ده؟ دا ټول د شورا په پایله کې ټاکل کېږي.

**دویم: په عادي حالاتو کې مالیه (ټېکس)**

دویم حالت چې د دولت او حکومت لپاره په کې د ولس او خلکو څخه د مالیې (ټېکس) اخیستل جواز لري هغه یوازې یو حالت دی چې خلک په خپله خوښه د مالیې (ټېکس) د ورکولو التزام وکړي، دا التزام په دوو صورتونو کې کېدلی شي:

**لومړی: د وعدې پر بنسټ مالیه اخیستل**

کله چې د ټولنې عام وګړي وعده وکړي چې کله حکومت او دولت د ټولنې او د هېواد د اړتیا وړ کارونه سرته رسوي او د ټولنې د ستونزو د هوارولو لپاره کار کوي، نو موږ د خپلو عوایدو څخه یو څه فیصدي د مالیې په توګه د حکومت خزانې او بیت المال ته ورکوو، نو په دې حالت کې دا وعده الزامي ګرځي او په دې توګه د مالیې د اخیستلو لپاره یو شرعي مبنی او

---

[125] - په دې اړه د امام ابو یوسف رحمه الله د کتاب الخراج مقدمې ته باید مراجعه وشي چې د خلفای راشدینو او ورسره د عمر بن عبد العزیز رضي الله عنهم جمیعا سپارښتنې یې په دې اړه په کې ذکر کړې دي.

[126] - معلمة زاید للقواعد الفقهیة والأصولیة ج 7 ص 268 (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

بنسټ برابرېږي، په دې اړه موږ په فقه کې قاعده لرو چې وايي: "من التزم معروفا لزمه". دا قاعده په بېلابېلو الفاظو نقل شوې ده، لکه دا لاندې الفاظ:

- "من ألزم نفسه معروفا لزمه". چا چې پر ځان يو ښه كار لازم کړ هغه پرې لازم شو.
- "كل من ألزم نفسه شيئا لله فقد تعين عليه فرض الأداء فيه". چا چې د الله لپاره پر ځان څه لازم وګرځول، نو د هغه سرته رسول پرې فرض عين ګرځي.
- "الطاعة يلزم منها المكلف ما ألزم نفسه". په طاعتونو کې هغه څه پر مکلف باندې لازم ګرځي چې پر ځان لازم کړي.
- "المعروف من أوجبه على نفسه لزمه". هر د خير کار چې څوک پر ځان واجب وګرځوي هغه پرې لازمېږي.
- " كل من التزم شيئا وأوجبه على نفسه يكون لازما له وإن كان من المعروف المحض"[127]. چا چې د يو شي التزام وکړ، او پر ځان يې واجب وګرځاوه، هغه پرې لازمېږي سره له دې چې هغه يو عادي ښه کار هم وي.

د دې قاعدې اجمالي معنى دا ده چې چا يو روا کار چې مخکې په هغه باندې لازم نه و پر ځان باندې لازم کړ هغه پرې لازمېږي او د هغه سرته رسول پرې واجب ګرځي. دا قاعده درې ډوله امور لازم ګرځوي:

**۱- نذر**

که چا د کوم داسې کار نذر ومانه چې هغه شرعاً د خېر کار و او د الله د دين مخالفت په کې نه و، نو د دې قاعدې پر بنسټ هغه لازم ګرځي. په دې اړه ټول فقهاء اتفاق لري، په الاختيار کې وايي: "وَلَوْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِهِ، وَكَذَلِكَ إِنْ عَلَّقَهُ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ"[128]. که چا مطلق نذر ومانه او که کوم شرط پورې يې معلق کړ، په هغه يې پوره کول لازم دي.

**۲- عقود التبرعات**

د دې قاعدې په ضمن کې هغه عقود هم راځي چې د تبرع حيثيت لري؛ لکه هديه، وقف او عارية او داسې نور، نو دا ډول عقود پر چا لازم نه دي، خو که التزام يې وکړ، نو بيا پرې لازمېږي، د دې تفصيلات هم زموږ د موضوع سره ډېر تړاو لري، له دې امله دې ته به لږ په تفصيل سره د عقد په ضمن کې اشاره ولرو.

**۳- وعده**

که چا د بل چا سره وعده وکړه چې د هغه سره به مرسته کوي، يا به ورته هديه ورکوي، دې په ځان باندې دا مباح کار واجب وګرځاوه، په دې اړه د جمهورو علماوو (احنافو، مالکيانو او شافعيانو) نظر دا دی چې که وعده په سبب پورې تړل شوې (معلقه) وه نو وفاء پرې لازمه ده، په البحر الرائق کې وايي: "أَنَّ الْمَوَاعِيدَ بِاكْتِسَابِ صُوَرِ التَّعَالِيقِ تَكُونُ لَازِمَةً"[129].

وعدې چې کله د تعليق شکل غوره کړي، نو بيا هغه لازمې ګرځي[130].

---

[127] - معلمة زايد ج 10 ص 407.

[128] - الاختيار لتعليل المختار ج 4 ص 77، تأليف: عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: 683هـ)، تعليق: الشيخ محمود أبو دقيقة، چاپوونکی اداره: مطبعة الحلبي – القاهرة، د چاپ کال: 1356 هـ - 1937 م. امام ابو حنيفه رحمه الله معلق بالشرط نذر د قسم په څېر ګڼي.

[129] - البحر الرائق (3/ 339) د ابن نجيم (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی). همدا خبره په مجلة الأحكام العدلية په (۸۴) ماده ص 26 کې هم ذکر شوې.

[130] - د مذاهبو د تفصيل لپاره وګورئ: معلمة زايد ج ۱۰ ص ۴۱۲.

نو که داسې حالت رامنځته شي چې ملت د خپل مال څخه په خپله خوښه، پخپله او یا هم د خپلو وکیلانو له لارې مشروطه وعده وکړي چې که حکومت، هېواد او ټولنې ته عامه خدمات وړاندې کوي، نو موږ به د خپلو عوایدو څخه یو څه فیصدي د مالیې په توګه حکومت ته ورکوو، نو په دې توګه دا وعده معلقه ده او لازمه هم ګرځي او له دې امله چې دا مالیه د ملت وګړي په خپله خوښه هم ورکوي چې په دې حالت کې هغه شرعي محظور له منځه ځي چې د مالیې (ټېکس) اخیستل ناروا کوي او هغه د چا په مال کې د هغه له خوښې پرته تصرف دی.

**دویم: د عقد پر بنسټ د مالیې اخیستل**

په عادي توګه دولت او حکومت مالیه د ملت سره د یو تړون او عقد په پایله کې اخیستلی شي، ځکه کله چې عقد رامنځته شي په دې صورت کې د مالیې په مخ کې موجود یوازینی شرعي خنډ له منځه ځي چې د چا په مال کې د هغه له خوښې پرته تصرف کول دي.

د عقد حالت هغه وخت رامنځته کېږي چې کله مالیه د یو داسې قانون پر بنسټ واخیستل شي چې د ملت له پلوه پرې د هغوی د وکیلانو[131] له لورې توافق شوی وي او د حاکم جهت له پلوه پرې د حکومت د نماینده ګانو له لورې توافق شوی وي، همدې ته عقد ویل کېږي.

چې عقد سرته ورسېږي، شرطونه یې پوره وي، د عاقدینو په خوښه سرته ورسېږي او د جبر، اکراه، غبن، غرر او غلطۍ او داسې نورو خنډونو څخه خالي وي، نو دا عقد نافذ دی، په ده باندې مرتب حکم لازم دی او د تړون او عقد دواړه اړخونه پرې ملزم دي[132].

اوس دا پوښتنه چې دا عقد او تړون څرنګه رامنځته کېدلی شي؟ او د دې کار لپاره څه کول په کار دي چې د مالیاتو او ټېکسونو د نظام لپاره یو فقهي بنسټ برابر شي؟

په لنډ ډول باید وویل شي چې موږ چې اوس په کوم حالت کې ژوند کوو هغه د مسلمانانو د ارماني نظام یا یو عمومي اسلامي خلافت د نه شتون زمانه ده، کومې زمانې ته چې امام جویني رحمه الله د «زمن الفترة» وایي، نو په داسې زمانه کې مسلمانان باید څه وکړي؟ او څرنګه دا تړون او عقد رامنځته شي چې مالیه اخیستل روا شي؟ په لنډ ډول باید ووایم چې د مالیې او د دې ډول دولتي او حکومتي کارونو او اقداماتو د مشروعیت لپاره باید دوه تړونونه رامنځته شي:

لومړی: په هره سیمه او هر هېواد کې باید د چارو د تنظیم لپاره حکومتونه د خلکو د ګډون او مشارکت په پایله کې رامنځته شي چې دا ګډون باید د عقد او تړون حیثیت ولري، چې په دې تړون کې ملت په اجمالي توګه د مالیې د ورکولو عقد کوي.

دویم: د مالیې د اخیستلو لپاره باید د ملت د وکیلانو او نماینده ګانو سره ځانګړی تړون رامنځته شي، چې د دې ډول تړون لپاره دا اړینه ده چې د ملت د نماینده ګانو یو مجلس باید شتون ولري او هر هغه قانون چې د عقد او تړون حیثیت ولري په هغه باندې باید د دوی له لورې د ملت د وکیلانو په توګه موافقه وشي، ځکه عقد د دوو لورو ترمنځ سرته رسېږي چې یو لورې یې باید امام او خلیفه وي او دویم لورې یې باید خلک او وګړي وي، ټول وګړي د تړون برخه نه شي ګرځېدلی له دې امله له

---

[131] - په دې شرط چې وکالت هم درست وي او د خلکو له لورې ټاکل شوي خلک وي، نه په انتصابي ډول را ټول کړی شوي خلک، ځکه څوک چې هر څومره لوی عالم او پرهېزګاره وي، خو چې څوک یې د وکیل په توګه و نه ټاکي هغه فضولي شمېرل کېږي، چې تصرف یې د موکل په اجازه بیا هم موقوف وي.

[132] - د عقد د تفصیلاتو او د عقد د اغېزو لپاره وګورئ: المدخل الفقهي العام ج ۱ ص 377 نه وروسته، شپږم باب.

هماغه طريقې څخه بايد كار واخيستل شي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيعة العقبة په وخت كې ترې كار واخيست چې له انصارو صحابو څخه يې وغوښتل چې خپل نقباء معرفي كړي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره تفاهم او بيعت وكړي او دا به بيا ټولو ته ملزم وه، پيغمبر عليه السلام دا كار ځكه وكړ چې دې د تړون او عقد حيثيت درلوده، نو هر كار چې د تړون او عقد حيثيت لري د هغه لپاره د وكيلانو او نقيبانو اړتيا ده، دا په انتصابي خلكو نه كېږي سره له دې چې هغوی ډېر لوی علماء او صلحاء هم وي.

**د اوسنۍ زمانې حكومتونه**

په اوسنۍ زمانه كې چې د نړۍ په كچه د مسلمانانو يو نظام او حكومت شتون نه لري، چې د مسلمانانو عام خلافت او امامت و بلل شي، بلكې په هر هېواد او هره سيمه كې سيمه ييز حكومتونه قايم دي، دا حكومتونه څرنګه د عقد او تړون په پايله كې ماليه اخيستلی شي؟ يا په بل عبارت هغه كوم شرايط دي چې په پوره كولو يې دا سيمه ييز (قُطري) حكومتونه د كوم شرعي خنډ پرته د ولس څخه ماليه اخيستلی شي؟ دا خبره د لاندې څو مقدماتو په ضمن كې څرګندول غواړم:

**لومړی: دا سيمه ييز حكومتونه د خلافت حكم نه لري**

له دې سيمه ييزو حكومتونو څخه يو ته هم د خلافت حيثيت ترلاسه نه دی، ځكه د فقهاوو د تعريف سره سم خلافت او امامت هغه نظام ته ويل كېږي چې د نړۍ ټول مسلمانان پرې راټول وي او د نړۍ په كچه د ټولو مسلمانانو نماينده نظام وي، له همدې امله د كراميانو نه پرته د مسلمانانو ټولې ډلې په دې اتفاق لري چې په ټوله نړۍ كې بايد د مسلمانانو يو امام او يو خليفه وي، تر دې چې امام نووي په دې خبره د علماوو اتفاق او اجماع نقل كړی، هغه وايي: «وَاتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَنْ يُعْقَدَ لِخَلِيفَتَيْنِ فِي عَصْرٍ وَاحِدٍ سَوَاءٌ اتَّسَعَتْ دَارُ الْإِسْلَامِ أَمْ لَا»[133] د علماوو په دې اتفاق دی چې په يو وخت كې د دوه تنه خليفه جوړول جواز نه لري، د دار الاسلام مساحت پراخه وي او كه تنګ.

دا د اهل سنتو ترمنځ اتفاقي نظر دی، يوازې امام جويني يو قول لري چې كه مناطق سره ډېر لرې وي او يو امام ورته ونه شي رسېدلی، نو په داسې لرې سيمو كې دوه امامان كېدلی شي، هغه هم فكر كوم دا خبره د واقعيتونو تر تأثير لاندې كړې ده، ځكه د هغه په وخت كې يو خلافت په شرق كې شتون درلوده او بل په غرب اندلس كې، خو نور ټول فقهاء همدا خبره تأييدوي، د دې معنی دا ده چې دې سيمه ييزو هېوادونو څخه هيڅ يو ته هم هيڅوک د خلافت درجه نه وركوي او نه په دې هېوادونو كې د حاكمانو حكم د امام او خليفه په څېر دی، په دې خبره (چې د دې حكومتونو حكم د اسلامي خلافت په څېر نه دې) باندې ډېر فقهي احكام مرتبېږي چې په كوم بل فرصت كې بايد پرې تفصيلي بحث وشي.

**دويم: د دې حكومتونو شتون اړين دی**

د دې معنی دا نه ده چې كه اسلامي خلافت شتون ونلري، نو خلک دې په بې نظمۍ كې ژوند وكړي، بلكې هغوی بايد راټول شي او د خپل ځان لپاره بايد امير وټاكي، خو هغه به د خليفه او امام حكم نه لري[134]، امام جويني په دې اړه وايي: كه امامت د امام يو مستحق ته ثابت شو او كله چې ورسره د امامت تړون كېده په هغه وخت كې د نړۍ ټول مسلمانان د هغه تر رهبرۍ لاندې وو، خو بيا د هغه د حكومت شموليت راكم شو او په مخكې يې كوم مانع راولاړ شو، نو هغه خلک چې د هغه د حاكميت څخه بهر پاتې دي هغوی بايد مهمل بې مكلفيته پاتې نه شي، بلكې هغوی به د ځان لپاره امير ټاكي چې د هغه

---

[133] - شرح النووي على مسلم (12/ 232) د دار احياء التراث العربي، بيروت چاپ، دويم چاپ كال ۱۳۹۲هـ.

[134] - په دې ډېر فقهي احكام مرتب دي.

نظر ته به ورګرځي او د هغه په خبره به عمل کوي او کوم کارونه چې کوي او يا يې پرېږدي په ټولو کې به د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په شريعت التزام کوي، خو دا امير (چې دوی د ځان لپاره ټاکلی) به د امام حيثيت نه لري او کله هم چې خنډونه لرې شول دوی به د امام اطاعت کوي.

که مخکې امام شتون نه درلود او زمانه د امام څخه خالي وه، نو دې زمانې ته د «انقطاع او فترة» زمانه وايي او هغه داسې چې په هره سيمه او هر منطقه کې د هغه سيمې د خلکو له لورې د هماغه سيمې او هېواد لپاره امير وټاکل شي، خو داسې يو امام شتون ونلري چې د ټولې نړۍ د مسلمانانو امام وي، نو په دې حالت کې صحيح او درسته خبره دا ده چې له دوی څخه يو هم د امام حيثيت نه لري، ځکه امام هغه يو شخص ته ويل کېږي چې د نړۍ ټول مسلمانان ورسره تړلي وي، په دې حالت کې په هره سيمه کې د خلکو له لورې د خپل ځان لپاره د امير ټاکل روا دي او د شريعت سره بايد د هغه امر هم نافذ وي، خو دا امام نه دی[135].

**دريم: د دې حکومتونو د رامنځته کولو لاره د خلکو ګډون دی**

کله چې په دې مختلفو سيمو او هېوادونو کې خلک د خپلو ستونزو د حل لپاره او د خپلو کارونو د تنظيم لپاره يوه اداره ټاکي، چې هغه د اسلامي خلافت حکم نه لري، دا هم بايد د يو تړون په پايله کې او د هغه سيمې د مسلمانانو ترمنځ د مشورې په پايله کې رامنځته شي، ځکه همدا د الله تعالی حکم دی، الله تعالی فرمايي: {وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ} [الشورى: 38] او په بل ايت کې فرمايي: {وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ} [آل عمران: 159] دلته د «الأمر» او «أمرهم» څخه مراد لکه شيخ الطاهر بن عاشور چې وايي هغه مهمې قضيې دي چې بايد مشوره ورته وشي او بيا وروسته وايي:"فَتَعَيَّنَ أَنَّ الْمُشَاوَرَةَ الْمَأْمُورَ بِهَا هُنَا هِيَ الْمُشَاوَرَةُ فِي شؤون الْأُمَّةِ وَمَصَالِحِهَا"[136]. نو دا خبره مشخصه شوه چې په دې ايت کې چې د کومې مشورې حکم ورکړل شوی دی هغه د امت د مصالحو په اړه مشوره ده.

شيخ الطاهر بن عاشور په خپل تفسير کې د سورت آل عمران د ۱۵۹ ايت په تفسير کې وايي چې مالکيان په دې نظر دي چې د مشورې حکم يو عام حکم دی او دا د وجوب لپاره دی، په دې معنی چې د ټولو هغو کارونو په اړه بايد مشوره وشي چې شرعي نصوص په کې نشته او د امت د مصالحو او ګټو پورې تړاو لري او دا چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې ځانګړې نه دی.

د امام شافعي د مذهب ستر شخصيتونه لکه امام نووي او امام رازي هم په دې نظر دي چې د شوافعو صحيح مذهب دا دی چې دا امر د وجوب لپاره دی او همدا راجح هم دی[137] او امام رازي وايي سره له دې چې امام شافعی د «و شاورهم»

---

[135] - غياث الأمم في التياث الظلم (ص: 176- 177) مخکيني مصدر. عبارت په لاندې ډول دی: "وَأَنَا أَقُولُ فِيهِ: مُسْتَعِينًا بِاللَّهِ تَعَالَى: إِنْ سَبَقَ عَقْدُ الْإِمَامَةِ لِصَالِحٍ لَهَا، وَكُنَّا نَرَاهُ عِنْدَ الْعَقْدِ مُسْتَقِلًّا بِالنَّظَرِ فِي جَمِيعِ الْأَقْطَارِ، ثُمَّ ظَهَرَ مَا يَمْنَعُ مِنِ انْبِثَاثِ نَظَرِهِ، أَوْ طَرَأَ، فَلَا وَجْهَ لِتَرْكِ الَّذِينَ لَا يَبْلُغُهُمْ أَمْرُ الْإِمَامِ مُهْمَلِينَ، وَلَكِنَّهُمْ يُنَصِّبُونَ أَمِيرًا يَرْجِعُونَ إِلَى رَأْيِهِ وَيَصْدُرُونَ عَنْ أَمْرِهِ وَيَلْتَزِمُونَ شَرِيعَةَ الْمُصْطَفَى فِيمَا يَأْتُونَ وَيَذَرُونَ، وَلَا يَكُونُ ذَلِكَ الْمَنْصُوبُ إِمَامًا، وَلَوْ زَالَتِ الْمَوَانِعُ، وَاسْتَمْكَنَ الْإِمَامُ مِنَ النَّظَرِ لَهُمْ، أَذْعَنَ الْأَمِيرُ وَالرَّعَايَا لِلْإِمَامِ، وَأَلْقَوْا إِلَيْهِ السَّلَمَ، وَالْإِمَامُ يُمَهِّدُ عُذْرَهُمْ، وَيَسُوسُ أَمْرَهُمْ، فَإِنْ رَأَى تَقْرِيرَ مَنْ نَصَّبُوهُ فَعَلَ، وَإِنْ رَأَى تَغْيِيرَ الْأَمْرِ، فَرَأْيُهُ الْمَتْبُوعُ، وَإِلَيْهِ الرُّجُوعُ. وَإِنْ لَمْ يَتَقَدَّمْ نَصْبُ إِمَامٍ كَمَا تَقَدَّمَ تَصْوِيرُهُ، وَلَكِنْ خَلَا الدَّهْرُ عَنْ إِمَامٍ فِي زَمَنِ فَتْرَةٍ، وَانْفَصَلَ شَطْرٌ مِنَ الْخِطَّةِ عَنْ شَطْرٍ، وَعَزَّ نَصْبُ إِمَامٍ وَاحِدٍ، يَشْمَلُ رَأْيُهُ الْبِلَادَ وَالْعِبَادَ، فَنُصِبَ أَمِيرٌ فِي أَحَدِ الشَّطْرَيْنِ لِلضَّرُورَةِ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ، وَنُصِبَ فِي الْقُطْرِ الْآخَرِ مَنْصُوبٌ، وَلَمْ يَقَعِ الْعَقْدُ الْوَاحِدُ عَلَى حُكْمِ الْعُمُومِ، إِذَا كَانَ يَتَأَتَّى ذَلِكَ، فَالْحَقُّ الْمُتَّبَعُ فِي ذَلِكَ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهُمَا لَيْسَ إِمَامًا، إِذِ الْإِمَامُ هُوَ الْوَاحِدُ الَّذِي بِهِ ارْتِبَاطُ الْمُسْلِمِينَ أَجْمَعِينَ. وَلَسْتُ أُنْكِرُ تَجْوِيزَ نَصْبِهِمَا عَلَى حَسَبِ الْحَاجَةِ، وَنُفُوذَ أَمْرِهِمَا عَلَى مُوجَبِ الشَّرْعِ، وَلَكِنَّهُ زَمَانٌ خَالٍ عَنِ الْإِمَامِ، وَسَيَأْتِي فِي خُلُوِّ الزَّمَانِ عَنِ الْإِمَامِ أَكْمَلُ شَرْحٍ وَتَفْصِيلٍ، فَهُوَ أَحَدُ غَرَضَيِ الْكِتَابِ اللَّذَيْنِ عَلَيْهِمَا التَّعْوِيلُ. فَإِنِ اتَّفَقَ نَصْبُ إِمَامٍ، فَحَقٌّ عَلَى الْأَمِيرَيْنِ أَنْ يَسْتَسْلِمَا لَهُ لِيَحْكُمَ عَلَيْهِمَا بِمَا يَرَاهُ صَلَاحًا أَوِ اسْتِصْلَاحًا. وَهَذَا بَيَانُ مَضْمُونِ الْبَابِ، وَإِيضَاحُ سِرِّهِ".

[136] - التحرير والتنوير (4/ 147)، المؤلف : الشيخ محمد الطاهر بن عاشور، دار النشر : دار سحنون للنشر والتوزيع - تونس - 1997 م.

[137] - «شرح النووي على مسلم» (4/ 76).

صيغه په استحباب حمل کړی، خو څرګنده همدا ښکاري چې دا د وجوب لپاره دی[138].

او سره له دې چې احنافو ته د شورا په اړه کوم مذهب نه دی منسوب شوی، خو د امام جصاص رازي حنفي د تصريحاتو څخه څرګندېږي چې د احنافو له نظره هم د شورا حکم د وجوب دی، امام جصاص وايی: «وقَوْله تَعَالَى: {وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ} يَدُلُّ عَلَى جَلَالَةِ مَوْقِعِ الْمَشُورَةِ لِذِكْرِهِ لَهَا مَعَ الْإِيمَانِ، وَإِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَيَدُلُّ عَلَى أَنَّا مَأْمُورُونَ بِهَا»[139].

دا ايت د شوراييت په ډېر ستر حيثيت باندې دلالت کوي، ځکه چې په دې کې د شوراييت يادونه د ايمان او د لمانځه د اقامې ترڅنګ شوې ده او دا په دې هم دلالت کوي چې موږ پرې مأمور يو. او په طبيعي توګه هغه څه چې شريعت پرې امر وکړي، نو هغه واجب وي.

کله چې د شورا حکم عام شو او دا د ټول امت لپاره حکم شو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پورې ځانګړی نه دی، همدا راز د «امر» لفظ هم هغه ټولو قضيو ته شامل دی چې منصوصي نه وي او د مسلمانانو د ګټو او مصالحو پورې تړاو ولري، هغه که فردي وي، که کورنۍ قضيې وي او که د ملتونو په کچه قضيې وي، ټولو ته شامل دی، نو د هېواد په کچه د قيادت د ټاکلو قضيه حتماً په دې کې شامله ده.

همدا د فقهاوو د څرګندو عبارتونو څخه هم معلومېږي، امام الحرمين جويني د اهل سنت والجماعت مذهب همدا بيانوي چې امام د خلکو له لورې غوره کېږي، هغه وايي: "اتَّفَقَ الْمُنْتَمُونَ إِلَى الْإِسْلَامِ عَلَى تَفَرُّقِ الْمَذَاهِبِ، وَتَبَايُنِ الْمَطَالِبِ، عَلَى ثُبُوتِ الْإِمَامَةِ، ثُمَّ أَطْبَقُوا عَلَى أَنَّ سَبِيلَ إِثْبَاتِهَا النَّصُّ أَوْ الِاخْتِيَارُ، وَقَدْ تَحَقَّقَ بِالطُّرُقِ الْقَاطِعَةِ وَالْبَرَاهِينِ اللَّامِعَةِ بُطْلَانُ مَذَاهِبِ أَصْحَابِ النُّصُوصِ، فَلَا يَبْقَى بَعْدَ هَذَا التَّقْسِيمِ وَالِاعْتِبَارِ إِلَّا الْحُكْمُ بِصِحَّةِ الِاخْتِيَارِ"[140].

اسلام ته ټول منتسبين د مذاهبو د اختلاف او نظرياتو د تعارض سره په دې اتفاق لري چې امامت لازم دی او بيا په دې هم اتفاق لري چې د امامت د رامنځته کېدلو طريقه به يا شرعي نص (يا د مخکې امام له لورې نص د شيعه ګانو له نظره) وي او يا به د خلکو له لورې غوره کول وي او دا په قطعي او څرګندو دلايلو ثابته شوه چې د نص له لارې د امامت د رامنځته کېدلو نظر باطل دی، نو د دې سبر او تقسيم د دليل وروسته دا ثابتېږي چې يوازې همدا د امت له لورې د غوره کولو مذهب صحيح او درست دی.

همدا خبره د هغه شاګرد امام ابو حامد غزالي هم په ډېرو لنډو ټکو کې داسې کوي: "لَا ماخذ للامامة الا النَّص اَوْ الِاخْتِيَار وَنحن نقُول مهما بَطل النَّص ثَبت الِاخْتِيَار"[141].

138 - «مفاتيح الغيب أو التفسير الكبير» (9/ 410)، تاليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: 606هـ)، خپرونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دريم چاپ، کال ۱۴۲۰هـ. عبارت يې په لاندې ډول دی: «الْمَسْأَلَةُ الرَّابِعَةُ: ظَاهِرُ الْأَمْرِ لِلْوُجُوبِ فَقَوْلُهُ: وَشاوِرْهُمْ يَقْتَضِي الْوُجُوبَ، وَحَمَلَ الشَّافِعِيُّ رحمه الله ذَلِكَ عَلَى النَّدْبِ». داسې برېښي چې امام شافعي رحمه الله دا خبره ځکه کړې چې هغه د وشاورهم مخاطب يوازې رسول الله صلی الله عليه وسلم ګڼي او د هغه له نظره په دې حالت کې غوره دا ده چې دا په استحباب باندې حمل شي، خو دا درست نظر نه دی، امام جصاص رازي دا مناقشه کړې دی، د امام جصاص رازي د مناقشې لپاره د هغه احکام القرآن ته مراجعه پکار ده.

139 - «أحكام القرآن . أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: 370هـ)، تحقيق: عبد السلام محمد علي شاهين، خپرونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال 1415هـ/1994م.

140 - غياث الأمم في التياث الظلم ص 54، د عبد العظيم الديب تحقيق.

141 - فضائح الباطنية ص ۱۷٦، تاليف: محمد بن محمد بن محمد الغزالي أبو حامد، تحقيق: عبد الرحمن بدوي، خپرونکې اداره: مؤسسة دار الكتب الثقافية – الكويت.

د امامت د رامنځته کېدو لپاره د نص او د خلکو له لورې له غوره کولو او ټاکلو پرته بله لار نشته او موږ وایو کله چې دا باطل شو چې نص د امام د ټاکلو وسیله ده، نو د خلکو له لورې د ټاکلو او غوره کولو لار ثابته شوه.

نو کله چې امامت او خلافت عقد او بیعت شو چې د خلکو له لورې باید ورسره سرته ورسېږي، په پخوانیو وختونو کې داسې امکانات نه وو چې د ټولو خلکو نظر یې په اړه واخیستل شي او نه دا ممکن وو چې د خلکو څخه د هغوی د نقیبانو او وکیلانو د ټاکلو غوښتنه وشي، نو له دې امله د خلیفه او امام د انتخاب لپاره په تخمیني توګه هغه خلک راټولېدل چې په غالب ګومان یې د خلکو نماینده ګي او وکالت کولی شو او غالباً یې خلکو د نظر مخالفت نه کاوه او دوی ته «اهل الحل والعقد» ویل کېدل، لکه د حضرت عمر رضي الله عنه د هغه وینا څخه چې څرګندېږي چې په هغه اوږد اثر کې یې یادونه شوې چې د زخمي کېدو وروسته یې د وصیتونو په شکل کې صحابه کرامو ته کړې وه[142]، خو اوس چې د خلکو حقیقي وکیلان انتخابول ستونزه نه لري، نو باید د خلکو حقیقي وکیلان وټاکل شي، تر څو دا تړون او عقد نور هم دقیق شي.

امام ماوردي په دې سیاق کې وایي چې که یوازې یو تن هم شتون ولري چې د امامت شرطونه په کې پوره وي او بل څوک داسې نه وي، نو د هغه امامت هم تر هغه وخته پورې منعقد نه دی تر څو چې ورسره عقد ونه شي، لامل دا ښایي چې امامت د یو تړون نوم دی، د هغه عبارت داسې دی: «لِأَنَّ الْإِمَامَةَ عَقْدٌ لَا يَتِمُّ إلَّا بِعَاقِدٍ»[143]. ځکه چې امامت د عقد او تړون نوم دی او دا د تړون کوونکی پرته نه شي رامنځته کېدای.

همدا خبره قرافي په خپل کتاب الذخیرة[144] کې او ابن الرفعة الشافعی په خپل کتاب کفایة النبیه في شرح التنبیه[145] کې کړې ده، ابن الرفعة په یو بل ځای کې د استخلاف په اړه وایي: "يعتبر [في] تولية الإمام إماما رضا أهل الحل والعقد، ... وإن على هذا لو استخلف من لم يعلم به أهل الحل والعقد لم تنعقد إمامته"[146].

د یو چا د امام په توګه په ټاکلو کې د اهل حل و عقد (هغه مشران چې په لاس کې یې د فیصلو واک وي) موافقت معتبر دی، نو پر دې بنسټ که چا داسې څوک د خپل ځان نه وروسته د خلیفه په توګه پشنهاد کړ چې اهل حل وعقد پرې خبر نه ؤ نو د هغه امامت منعقد نه دی.

ابو منصور عبد القاهر البغدادي الاسفرایني د خلیفه او امام د ټاکلو په اړه وایی: "واختلفوا في طريق ثبوت الإمامة من نص أو اختيار: فقال الجمهور الأعظم من أصحابنا ومن المعتزلة والخوارج والنجارية أن طريق ثبوتها الاختيار من الأمة باجتهاد أهل الاجتهاد منهم واختيارهم من يصلح لها"[147].

---

[142] - مصنف عبد الرزاق (5/ 480). أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، دويم چاپ، کال: 1403هـ ق، تحقيق : حبيب الرحمن الأعظمي.

[143] - الأحكام السلطانية ص ۲۸، تأليف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (ت ٤٥٠هـ) چاپوونکې اداره: دار الحديث، القاهرة، مصر.

[144] - الذخيرة ج 10 ص27، تأليف: أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي (ت ٦٨٤هـ)، تحقيق: د محققينو يوې مجموعې، چاپوونکې اداره: دار الغرب الإسلامي- بيروت، لومړی چاپ، کال: ١٩٩٤م.

[145] - كفاية النبيه في شرح التنبيه ج١٨ ص ٥ هغه وايي: «لأنها عقد مراضاة واختيار لا يدخله الإكراه والإجبار»، تأليف: أحمد بن محمد بن علي الأنصاري، أبو العباس، نجم الدين، المعروف بابن الرفعة (ت ٧١٠هـ) تحقيق: مجدي محمد سرور باسلوم، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ، کال: ٢٠٠٩م.

[146] - كفاية النبيه فی شرح التنبيه ج ١٨ ص ٨، (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

[147] - أصول الدين ص 279، تأليف: عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: 429 هـ)، چاپوونکې اداره: مدرسة الإلهيات بدار الفنون التركية-تركيا اسطنبول، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1346 هـ ق 1928م.

د امامت د ثبوت د وسایلو په اړه د امت د ډلو ترمنځ اختلاف دی؛ چې د شرعي نص له لارې د یو امام امامت ثابتېږي او که د ټاکنو له لارې، د امت لویه برخه چې اهل سنت، معتزله، خوارج او نجاریه فرقې هم په کې شاملې دي، دوی وايي: چې د امام د امامت د ثبوت لار د امت له لورې ټاکل او غوره کول دي، چې د اجتهاد وړ خلک اجتهاد وکړي او داسې څوک مشخص کړي چې څوک د دې منصب وړتیا لري.

د اسفرايني د خبرې مطلب دا دی چې اهل اجتهاد (اهل الحل والعقد) به لومړی داسې خلک مشخص کوي چې څوک د دې منصب وړتیا لري، که یو تن و، خو هغه به بیا په ځانته ځان د عام بیعت لپاره وړاندې کړی شي او که له یو څخه زیات کسان وو، نو د اوسني عصر د ظروفو او حالاتو سره سم به ټول د خلکو مخ ته وړاندې کېږي چې د هر چا سره ډېرو خلکو موافقه وکړه هماغې ته به د قیادت مسؤولیت ورسپارل کېږي.

د اهل سنت والجماعت علماوو دا نظر ځکه غوره کړی چې په احادیثو او آثارو کې ډېر داسې دي چې په مشوره باندې د مسلمانانو د قیادت د ټاکلو حکم کوي او له مشورې پرته پر مسلمانانو باندې مسلط کېدل ناروا ګڼي، تر دې چې د هغه پر ضد د پاڅون امر کوي، له دې احادیثو او آثارو څخه لاندې د یادونې وړ دي:

۱: په یو اوږد حدیث کې چې بخاري او مسلم روایت کړی چې حضرت عمر رضي الله د خپل اخیري حج په ورځو کې د څه خلکو د دې خبرې په رد عمل کې چې که عمر مړ شو، نو موږ به د فلاني سره د خلافت بیعت وکړو، دا خبره یې واضحه کړه چې د مسلمانانو د مشورې څخه پرته داسې کار ناروا دی او د حضرت ابو بکر رضي الله عنه په بیعت دې څوک استدلال نه کوي ځکه هغه یو ناڅاپي قضیه وه او د اړتیا او ضرورت حکم و او هغه یو استثنایي عمل و او د حضرت ابوبکر په څېر انسان شتون هم نه لري، خو اوس که څوک داسې کوي، نو د هغه حکم دا دی چې هغه د خلافت استحقاق له لاسه ورکوي، حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي: "فمن بايع امرأ من غير مشورة من المسلمين فإنه لا بيعة له ولا للذي بايعه"[148]. څوک چې د مسلمانانو له مشورې پرته د چا سره بیعت وکړي، نو نه د هغه سره بیعت درست دی چې بیعت ورسره شوی وي او نه د هغه چا سره چې بیعت یې کړی وي. د حدیثو شارحین وايي، د دې معنی دا ده چې دا دواړه د بیعت اهلیت له لاسه ورکوي.

۲: د حضرت علي کرم الله وجهه څخه په بېلابېلو او ګڼ شمېر سندونو روایت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل:«لَوْ كُنْتُ مُسْتَخْلِفًا أَحَدًا عَلَى أُمَّتِي مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ لَاسْتَخْلَفْتُ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ»[149]. که ما پخپل امت د هغوی له مشورې پرته چا ته خلافت او امامت سپارلی، نو عبد الله بن مسعود به مې خلیفه او امام مقرر کړی وی. د دې څرګنده معنی دا ده چې په امت باندې د هغوی سره له مشورې پرته او د هغوی د نظر له اخیستلو پرته څوک مشر او امام ټاکل درست او سم کار نه دی.

۳: حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه به ویل: «مَنْ دَعَا إِلَى أَمْرِهِ مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ»[150]. څوک چې د مسلمانانو له مشورې پرته خلک خپل مشرتوب ته دعوت کړي، نو هغه ووژنئ. په دې معنی چې دا دومره لویه ګناه ده چې دا انسان د قتل او وژلو مستحق ګرځوي.

---

148 - صحیح ابن حبان ج 2 ص 145، د حدیث شمېره (413) اصل حدیث متفق علیه دی، خو دا لفظ ابن حبان نقل کړی دی.

149 - السنن الكبرى للنسائي (7/ 356).

150 - السنة لأبي بكر بن الخلال (1/ 143). أبو بكر أحمد بن محمد بن هارون بن يزيد الخَلَّال البغدادي الحنبلي (المتوفى: 311هـ)، تحقيق: د. عطية الزهراني، خپرونکې اداره: دار الراية – الرياض، لومړی چاپ، کال 1410هـ - 1989م.

۴: حضرت عمر رضي الله عنه د زخمي کېدو وروسته او له شهادت څخه دمخه په يو اووړد اثر کې وايي: "فَقَالَ عُمَرُ: أَمْهِلُوا، فَإِنْ حَدَثَ بِي حَدَثٌ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ صُهَيْبٌ مَوْلَى بَنِي جُدْعَانَ ثَلَاثَ لَيَالٍ، ثُمَّ أَجْمِعُوا فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ أَشْرَافَ النَّاسِ وَأُمَرَاءَ الْأَجْنَادِ، فَأَمِّرُوا أَحَدَكُمْ، فَمَنْ تَأَمَّرَ عَنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ"[151]. او په بل روايت کې داسې الفاظ راغلي دي: "فَقَالَ: أَمْهِلُوا، لِيُصَلِّ بِالنَّاسِ صُهَيْبٌ، ثُمَّ تَشَاوَرُوا، ثُمَّ أَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ فِي الثَّلَاثِ، وَاجْمَعُوا أُمَرَاءَ الْأَجْنَادِ، فَمَنْ تَأَمَّرَ مِنْكُمْ مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَاقْتُلُوهُ"[152]. صبر وکړئ، د لمانځه امامت دې صهيب د بنو جدعان مولى کوي، بيا مشوره وکړئ، بيا په درېم ورځو کې يوې نتيجې ته ورسېږئ، په درېمه ورځ د خلکو مشران او د پوځونو قوماندانان را ټول کړئ او يو تن امير وټاکئ او څوک چې له مشورې پرته ځان امير اعلان کړي د هغه غاړه غوځه کړئ. دا هدايات بالکل څرګند او واضح دي، چې د خليفه او امام د ټاکلو لپاره بايد د ټولنې د هغه مشرانو سره مشوره وشي څوک چې د ټولنې نمايندګي کولی شي او د خلکو وکيلان بلل کېدلی شي او له دې پرته د خپل مشرتوب اعلان د قتل لامل ګرځي.

۵: د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د خلکو په ګډون دومره ټينګار درلود چې څوک د خلکو د مشورې او ګډون پرته خپل امارت ته خلک دعوت کړي، نو پر ضد يې پاڅون په کار دی، هغوی وايي:«مَنْ دَعَا إِلَى إِمَارَةٍ لِنَفْسِهِ مِنْ غَيْرِ مَشُورَةِ الْمُسْلِمِينَ فَلَا يَحِلُّ لَكُمْ إِلَّا أَنْ تُقَاتِلُوهُ»[153].

حضرت عمر رضي الله عنه وايي: څوک چې د مسلمانانو سره له مشورې پرته خپل مشرتوب ته خلک را وبلي، تاسې ته د هغه پر ضد د جنګ کولو څخه پرته بل کار روا نه دی. يعنې په قطعي توګه بايد د هغه پر ضد پاڅون وکړئ.

٦: همدا د هغه حکومتونو په اړه زموږ د علماوو نظر هم و چې له مشورې او تړون پرته د خلکو پر اوږو سپاره وو، د تابعينو لويو شخصيتونو د امويانو په اړه همدا نظر درلوده، د يو مشهور تابعي ابو حازم څخه سليمان بن عبد الملک چې اموي خليفه وه د نصيحت غوښتنه وکړه، د يوې اوږدې مرکې په ترڅ کې يې ورته وويل: "قَالَ سُلَيْمَانُ: يَا أَبَا حَازِمٍ مَا تَقُولُ فِيمَا نَحْنُ فِيهِ؟ قَالَ: أَوَ تُعْفِيَنِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: بَلْ نَصِيحَةٌ تُلْقِيهَا إِلَيَّ، قَالَ: إِنَّ آبَاءَكَ غَصَبُوا النَّاسَ هَذَا الْأَمْرَ، فَأَخَذُوهُ عَنْوَةً بِالسَّيْفِ مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ وَلَا اجْتِمَاعٍ مِنَ النَّاسِ، وَقَدْ قَتَلُوا فِيهِ مَقْتَلَةً عَظِيمَةً، وَارْتَحَلُوا، فَلَوْ شَعَرْتَ مَا قَالُوا وَقِيلَ لَهُمْ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ: بِئْسَ مَا قُلْتَ، قَالَ أَبُو حَازِمٍ: كَذَبْتَ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى أَخَذَ عَلَى الْعُلَمَاءِ الْمِيثَاقَ {لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ} [آل عمران: 187]"[154].

سليمان بن عبد الملک وويل: ابو حازمه د هغه حالت په اړه څه وايې چې موږ په کې قرار لرو؟ ابو حازم ورته وويل: که ددې پوښتنې له ځواب څخه مې معاف کړې، نو ښه به وي امير المؤمينينه! سليمان بن عبد الملک ورته وويل: دا يو نصيحت دی چې ما ته يې بايد وکړئ، ابو حازم ورته وويل: ستا مشرانو خلافت او امارت د خلکو څخه غصب کړ (په زوره يې ونيوه) د مسلمانانو له مشورې او موافقت پرته مو د تورې په زور ونيوه او د دې د نيولو لپاره يې ډېر خلک ووژل، خو بيا هم وفات شول،

---

[151] - السنن الكبرى للبيهقي (8/ 260).

[152] - مصنف عبد الرزاق (5/ 480). أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، دويم چاپ، کال: 1403هـ ق، تحقيق : حبيب الرحمن الأعظمي.

[153] - تاريخ المدينة لابن شبة (3/ 936). عمر بن شبة (واسمه زيد) بن عبيدة بن ريطة النميري البصري، أبو زيد (المتوفى: 262هـ) تحقيق: فهيم محمد شلتوت، د سيد حبيب محمود احمد په مصرف نشر ته سپارل شوی، د چاپ کال: ۱۳۹۹هـ ق، جدة.

[154] - مسند دارمي مشهور په سنن الدارمي (1/ 501) أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد الدارمي، التميمي السمرقندي (المتوفى: 255هـ)، تحقيق: حسين سليم أسد الداراني، چاپوونکي اداره: دار المغني للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، لومړی چاپ، کال: 1412 هـ - 2000 م، همدا راز وګورئ: حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (3/ 235). أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: 430هـ) چاپوونکی اداره: السعادة - بجوار محافظة مصر، 1394هـ - 1974م، بيا يې نورو ادارو لکه دار الكتاب العربي – بيروت او دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، کاپي کړی او چاپ کړی دی.

که د هغه څه احساس وکړې چې هغوی به څه ویلي وي او څه به ورته ویل شوي وي (د اخرت د سوال او ځواب احساس وکړئ) د سلیمان بن عبد الملک له درباریانو څخه یو تن وویل: بد دې وویل، ابو حازم ورته وویل: ته دروغ او بده خبره کوې، الله پاک له علماوو څخه دا تعهد اخیستی چې حق به خلکو ته بیانوي او پټوی به یې نه.

له دې ټولو څخه دا په ځرگند ډول ثابتېږي چې د مسلمانانو قیادت باید په هر هېواد او په هره سیمه کې د هغه سیمې د خلکو په مشوره او هغوی د گډون په پایله کې وټاکل شي. همدا په اسلامي هېوادونو کې د دې محلي حکومتونو د رامنځته کېدو یوازینۍ وسیله ده چې د خلافت حکم نه لري.

**څلورم: د خلکو دا گډون په دوه ډوله دی**

لومړی د پوهانو خلکو گډون چې دوی ته «أهل الحل والعقد» ویل کېږي، د دوی کار د هغه کاندیدانو تشخیصول دي چې د حکومت

وړتیا لري، که دا په ټول هېواد کې یو تن وي هماغه به د حکومت لپاره ټاکل کېږي، خو که وړتیا لرونکي زیات وي، نو بیا دوه صورتونه ممکن دي:

لومړی: دا چې همدا «أهل الحل والعقد» که د ملت له لورې تفویض ولري همدوی دې په شرایطو د برابرو کسانو څخه یو تن د حاکم په توگه وټاکي.

دویم: دا چې دوی دا ټول وړتیا لرونکي کاندیدان خلکو ته وړاندې کړي او هر څوک چې د ډېرو خلکو له نظره غوره وي هماغه به حاکم منل کېږي.

دا چې د یو شمېر خلکو سره څو ډوله شبهات شتون لري، دا شبهات باید په ډېر لنډ ډول دلته مناقشه کړو:

1. اکثریت او اقلیت ته شریعت اعتبار نه دی ورکړی.
2. د حکومت په منصب باندې په خپلو کې مسابقه کول ناروا دي.
3. په دې کې د عالم او جاهل فرق نه کېږي، همدا راز پرهیزگار او بد عمله برابر شمېرل کېږي او دا سم کار نه دی.

په دې اړه به په ډېرو لنډو ټکو کې ووایم چې د اقلیت او اکثریت خبره یو څه خلکو را اوچته کړې ده، خو په قرآن کریم کې چې څومره نصوص په دې اړه راغلي دي په ټولو کې دا خبره مطرح ده چې که پاک «طیب» لږ وي او که ډېر هغه د ناپاک «خبیث» په مقابل کې غوره دی[155] او دا یو شرعي دریځ دی، همدا راز بې دینه او کافران که هر څومره زیات شي هغوی د مسلمانانو په مقابل کې کوم حیثیت نه لري، خو که قضیه د مسلمانانو او د پاکو خلکو ترمنځ وي، نو بیا کثرت د ترجیح د وجوهو څخه یوه بنسټیزه وجه ده، ځکه کله چې د مسلمانانو ترمنځ مشوره وي، که اکثریت د ترجیح بنسټ نشي، نو بیا به څه شی د ترجیح لپاره بنسټ گرځي، د اکثریت او اقلیت دا خبره د المغرب یو مشهور اصولي عالم دکتور أحمد الریسوني په یوه رساله کې د «قضیة الأغلبیة من الوجهة الشرعیة»[156] تر عنوان لاندې په ډېر ښه شکل واضحه کړې ده. کله چې مشوره او انتخاب د مسلمانانو ترمنځ وي هلته بیا اکثریت اعتبار لري.

د دویمې قضیې په اړه باید په لنډ ډول ووایم چې مسلمانو فقهاوو په منصب باندې مسابقه ناروا نه ده گڼلې او ویلي یې دي چې دا کار د دې لامل نه گرځي چې څوک دې له دې امله له دې منصب څخه محروم کړی شي، په دې اړه امام ماوردي

[155] - خو په دې شرط چې هغه پاک «طیب» او ناپاک «خبیث» به په شرعي نص ټاکل شوی وي، که اجتهاد ته خبره ولاړه بیا کثرت د ترجیح یوه مهمه وجه ده.

[156] - دا وړوکی رساله په لومړي ځل په کال ۲۰۱۲م کې د الشبکة العربیة للأبحاث والنشر، بیروت ـ لبنان څخه چاپ شوه.

وايي: "فَإِنْ وَقَفَ الِاخْتِيَارُ عَلَى وَاحِدٍ مِنِ اثْنَيْنِ فَتَنَازَعَاهَا، فَقَدْ قَالَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ: إِنَّ التَّنَازُعَ فِيهَا لَا يَكُونُ قَدْحًا مَانِعًا. وَلَيْسَ طَلَبُ الْإِمَامَةِ مَكْرُوهًا، فَقَدْ تَنَازَعَ فِيهَا أَهْلُ الشُّورَى، فَمَا رُدَّ عَنْهَا طَالِبٌ، وَلَا مُنِعَ مِنْهَا رَاغِبٌ، وَاخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِيمَا يُقْطَعُ بِهِ تَنَازُعُهُمَا مَعَ تَكَافُؤِ أَحْوَالِهِمَا، فَقَالَتْ طَائِفَةٌ: يُقْرَعُ بَيْنَهُمَا وَيُقَدَّمُ مَنْ قَرَعَ مِنْهُمَا. وَقَالَ آخَرُونَ: بَلْ يَكُونُ أَهْلُ الِاخْتِيَارِ بِالْخِيَارِ فِي بَيْعَةِ أَيِّهِمَا شَاءُوا"[157].

که اهل الحل والعقد دې نتيجې ته ورسېدل چې دوه تنه (يا له دوو څخه زيات خلک) د خلافت اهليت لري او هغوی هم په خپلو کې د امامت په منصب باندې مسابقه درلوده، نو يو شمېر فقهاء وايي: چې په دې منصب باندې منازعه کول د ممانعت کوونکي عيب نه دی او نه د امامت غوښتنه، کوم مکروه کار دی، ځکه د شورا (د حضرت عمر له لورې د خليفه د ټاکنې کميسيون) غړو منازعه وکړه، نو نه د امامت غوښتونکی ترې رد کړی شو او نه په کې رغبت لرونکی ترې منع کړی شو، خو کله چې د امامت غوښتونکي د اهليت له پلوه سره يو شانته وي، نو د دوی ترمنځ تنازع به څرنگه له منځه وړل کېږي؟ يوې ډلې ويلي دي: د دوی ترمنځ به پچه (قرعه) اچول کېږي او د هر چا پچه چې وختله هماغه به امامت ته وړاندې کېږي، نور بيا وايي: غوره کوونکي اختيار لري چې د هر يو سره يې بيعت وکړ سم دی. د پچې خبره ډېرو فقهاوو مسترد کړې ده، ځکه هغوی دې ته د عقد په سترگه گوري او په عقودو کې پچې نه اچول کېږي، همدا دويمه خبره درسته ده، خو اهل اختيار څوک دي؟ په يو لړ حالاتو کې کېدلی شي چې همدا د اهل حل و عقد غړي اهل اختيار وي (که ملت دوی ته دا اختيار ورکړی وي) او کېدلی شي چې د هغه هېواد ټول وگړي وه اوسېږي.

د دربهمې قضيې په اړه بايد ووايو چې لومړی بايد د حاکم سره د بيعت او يا د حاکم د ټاکنې فقهي تکييف (څرنگوالی) معلوم کړو بيا د دې قضيې په اړه سم دريځ نيولی شو، په دې اړه دوه احتمالات وجود لري، يو احتمال دا دی چې دا عقد او تړون دی، په دې باندې ډېرو علماوو تصريح کړې ده او کله چې دا عقد شو، نو بيا عقد بايد هر څوک پخپله خوښه سرته ورسوي هغه که عالم وي او که جاهل او پرهېزگار وي او که بد عمله او يا يې د هغه وکيل بايد سرته ورسوي، يو څوک که هر څومره لوی عالم وي او هر څومره عابد او زاهد وي تر څو يې چې څوک د وکيل په حيث ونه نيسي هغه فضولي شمېرل کېږي، دويم احتمال دا دی چې دا په يو لړ حالاتو کې د توکيل تړون دی، چې ملت په يو لړ حالاتو کې حاکم ته د دې حق ورکوي چې د دوی په نماينده گۍ څه تصرفات وکړي او د توکيل د تړون لپاره هم د يو چا عالم او زاهد کېدل اړين نه دي.

هو يوازې د دې لپاره د پوهانو اړتيا ده چې دا مشخص کړی شي چې څوک د امامت او د ملت د قيادت وړتيا لري، دا خبره هر څوک نه شي مشخص کولی، نو له همدې امله په شريعت کې لومړی پوهان او اهل حل وعقد را ټولېږي او د قيادت د وړتياوو لرونکي شخصيتونه ټاکي (مشخصوي) او کله چې د وړتيا درلودونکي اشخاص کانديدان شول، نو بيا د دوی په منځ کې چې عام خلک د هر چا سره تړون کوي هغوی د دې حق لري.

### پنځم: په فقهي لحاظ دا حکومتونه د «عقد» او تړون حيثيت لري

د فقهې له نظره دا حکومتونه د «عقد» او «تړون» حيثيت لري، چې د دوه اړخونو څخه بايد تشکيل شوي وي، لومړی اړخ يې حاکم او دويم اړخ يې رعيت، همدا د فقهاوو د څرگندونو لنډيز هم دی، لکه مخکې مو چې ورته اشاره درلوده، خو رعيت د دې تړون د بندونو د رعايت او د بنسټيز تړون پر بنسټ د نوو تړونونو د رامنځته کولو لپاره د خپلو نماينده گانو او وکيلانو له

[157] - الأحكام السلطانية للماوردي ص 26، مخکې ذکر شوی دی. همدا خبره بعينه ابو يعلی حنبلي هم کوي، وگورئ: الأحكام السلطانية ص ۲۴ – ۲۵.

لارې خپل فعال حضور ساتي، تر څو د هغه بنسټيز تړون بندونه او مادې په سمه توګه عملي او پلي شي، همدا راز د حاکم لورې څخه داسې څه په عامو خلکو تحميل نه کړی شي چې د هغوی په ګټه نه وي.

**شپږم: د حاکم او رعيت ترمنځ د عقد بندونه بايد ټاکلي وي**

اسلامي شريعت د هر هغه عقد او تړون سره اړخ نه لګوي چې محتوا يې نا معلومه وي، په پخوا وختونو کې او په ځانګړې توګه د خلفای راشدينو په زمانه کې دا محتوا مختصره وه، ځکه خلک د سليقوي تعامل څخه نه ويرېدل، خو وروسته خلک تفصيلي عقدونه غوره ګڼي تر څو د نزاع او اختلاف احتمالات تر ډېره بريده له منځه يوړل شي او دواړه اړخونه خپل مسؤوليتونه په دقيقه توګه درک کړی شي، او همدا د شريعت د مقاصدو سره اړخ هم لګوي، له همدې امله دلته هم بايد د تړون او عقد محتوا په تفصيلي ډول وليکل شي چې دې ته په اوسنۍ اصطلاح کې «اساسي قانون» ويل کېږي، تر څو دواړه اړخونه خپل مسؤوليتونه او حقوق په مشخصه توګه وپېژني.

**اووم: په دې عقد کې د ماليې (ټېکس) اجمالي يادونه**

دا عقد (اساسي قانون) بايد په اجمالي ډول په دې هم مشتمل وي چې ملت به د خپلو عوايدو يوه برخه د هېواد د اقتصاد د غښتلتيا او د ټولنې د اړتياوو د رفع کولو لپاره ورکوي، کله چې دا عقد وشو، نو خلک په اجمالي توګه د ماليې په ورکولو ملزم ګرځي ځکه چې د عقد په پايله کې د عقد او تړون محتوا نافذه ګرځي لکه مخکې مو چې ورته اشاره درلوده.

په دې «عقد» کې بايد د دې يادونه هم وي چې زموږ په سيمه کې څوک د ډېرو خلکو له لورې د وکيل په توګه وټاکل شو، هغه به زما نماينده او وکيل هم وي او دا يادونه بايد هم په کې وي چې دا وکيل زما په نماينده ګۍ عقد او تړون کولی شي او دا حق ورته ورکوم.

**اتم: د ماليې د اندازې لپاره کلنی تړون**

د دې لپاره چې هر کال کومه اندازه ماليه له چا څخه واخيستل شي دا په بشپړ ډول څرګند او واضح وي، دې ته اړتيا ده چې د هر کال د بوديجې د ټاکنې په وخت کې بايد دا وټاکل شي او د حکومت او د خلکو د وکيلانو او نماينده ګانو ترمنځ په دې اړه تفصيلي تړون لاسليک شي، تر څو د چا په مال کې د هغه له خوښې پرته تصرف او د چا په مال باندې تېری چې د ماليې د ټاکلو په مخ کې بنسټيز شرعي خنډ دی له منځه ولاړ شي. نو دا دې ته هم مستلزم دی چې د خلکو د نماينده ګانو يو مجلس بايد شتون ولري، د دې مجلس ځای د علماوو او پوهانو څخه جوړ انتصابي مجلس نه شي نيولی، ځکه دوی د خلکو وکيلان او نماينده ګان نه دي، ځکه توکيل او څوک نماينده جوړول هم يو عقد دی چې د خلکو په رضا او خوښې بايد رامنځته شي.

کله چې دا ډول يو نظام رامنځته شي او په دې توګه يو حکومت د خلکو څخه د دې عقدونو او تړونونو پر بنسټ ماليه واخلي، نو هغه بنسټيز مانع له منځه ځي چې د خلکو په مال کې د هغوی له خوښې پرته تصرف کول دي.

**دې ته کوم ډول عقد ويل کېدی شي؟**

اوس پوښتنه دا را ولاړېږي چې د ماليې په اړه رامنځته شوی عقد به په شرعي لحاظ د کوم ډول عقودو څخه وي؟ د دې فقهي تکييف (څرنګوالی) بنسټ به څه وي؟ نو په دې اړه بېلابېل احتمالات شتون لري چې په لاندې کرښو کې ورته اشاره کول غواړم:

**لومړی: دا عقد به د تبرع عقد وي**

کله چې د ماليې د قانوني بنسټ په اړه بحث وشو هلته ويلی شوي دي چې عقد د ماليې (ټېکس) لپاره بنسټ نه شي کېدلی، ځکه هغه عوض مجهول دی چې د دې عقد په پايله کې لازمېږي، ځکه هغوی دا عقد د معاوضاتو د عقودو څخه ګاڼه او هلته چې عوض په پوره ډول مجهول وي عقد درست نه دی، خو که دا عقد د تبرعاتو له عقودو څخه وګڼل شي، په دې حالت کې د تبرع کوونکي لپاره کوم مشخص عوض نه لازمېږي او عقد لازم دی، په دې حالت کې چې دا د تبرعاتو له عقودو څخه وشمېرل شي په فقهي تکييف (څرنګوالی) بنسټ کې يې دوه احتمالات شتون لري:

لومړی: دا د هبې عقد وګڼل شي او داسې هبه چې واهب د يو ډول عوض د اخيستلو شرط کېږدي، سره له دې چې دا ډول هبه د جمهورو په نظر درسته ده، خو يوازې يوه ستونزه لري چې د عوض د جهالت له امله د ډېرو فقهاوو له نظره ستونزه لري[158].

دويم: دا د وقف عقد وي

دويم فقهي تکييف (څرنګوالی) بنسټ يې دا کېدلی شي چې دا د وقف عقد وي او په هغه مذهب عمل وشي چې هر ډول متقوم مال هغه که منقول وي او که غير منقول وي وقف کېدلی شي، همدا راز د واقف شرطونه هم د عملي کېدلو وړ دي او د موقوف عليه وضاحت هم ممکن دی، په هغه کې هم جهالت نه شته، خو يوه ستونزه لري چې د وقف مال بايد اصل بايد وساتل شي يوازې د هغه ګټه وقف کېږي، خو په ټېکس کې خو اصل مال په مصرف رسېږي[159].

**دويم: دا د عقود غير مسماة له جملې څخه وي**

راجحه خبره دا ښکاري چې دا د هغه مستحدثو تړونونو څخه وشمېرل شي چې په شرعي نصوصو کې يې يادونه نه ده شوې او نه يې تفصيلي احکام په فقهي کتابونو کې ذکر شوي دي، خو په عامه توګه د شريعت د اصولو سره په ټکر کې نه وي، نه کوم حرام حلال ګرځوي او نه حلال حراموي او نه کوم داسې بل شرعي محظور ورسره تړلی وي، دې ډول عقودو او تړونونو ته د علماوو په اصطلاح کې عقود غير مسماة ويل کېږي، په دې اړه د شام مشهور معاصر حنفي فقيه شيخ مصطفی الزرقا وايي: "والشرع الإسلامي لم يحصر التعاقد في موضوعات معينة يمنع تجاوزها إلى موضوعات أخرى، وليس في نصوص الشريعة ما يوجب تحديد أنواع العقود أو تقييد موضوعاتها إلا بأن تكون غير منافية لما قرره الشرع من القواعد والشرائط العامة في التعاقد، والمبدأ العام في هذا الشأن قوله سبحانه وتعالى: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ} [المائدة: 1]"[160].

اسلامي شريعت تړون په ځانګړو موضوعاتو کې نه دې را خلاصه کړی، چې نورو موضوعاتو ته شامل نه شي او د شريعت په نصوصو کې هم داسې څه نشته چې د تړونونو اقسام محدود کړي او يا يې موضوعات مقيد او محصور کړي، يوازينی شرط چې شتون لري هغه دا دی چې دا تړون بايد د هغه اصولو او د تړونونو د هغه عامو شرطونو سره په مخالفت کې قرار ونه لري چې شريعت اينبي دي او په دې اړه د اسلامي شريعت عام قانون د الله متعال دا فرمان دی چې فرمايي: ای د ايمان څښتنانو په خپلو تړونونو وفا وکړئ. زرقا صاحب دې ته اشاره کوي چې د «العقود» کلمه د عموم د کلماتو څخه ده او دا هر

158 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۴۲ د هبة لفظ ص ۱۲۰-۱۵۵.

159 - الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۴۴ ص ۱۰۸ او له هغې وروسته.

160 - المدخل الفقهي العام ص 634 (مخکې په تفصيل سره ذکر شوی).

ډول تړونونو ته شامله ده، له همدې امله که داسې تړون رامنځته کېږي چې مخکې يې شتون نه درلود او په شرعي لحاظ کوم مانع په کې شتون ونه لري هغه معتبر تړون او عقد شمېرل کېږي.

**د دې ډول ټېکس په اړه شرعي نصائح او شرطونه**

مخکې مو د اضطراري ماليې په ضمن کې د يو لړ شرطونو يادونه وکړه، د هغوی شرطونو څخه هم يو لړ شرطونه دلته هم مطلوب دي، خو يو څه نور ځانګړي شرطونه دي چې بايد دلته يې يادونه وشي، چې د هغوی له جملې څخه دا لاندې شرطونه د يادولو وړ دي.

**لومړی: دا بايد د تړون په پايله کې واخيستل شي**

دا بايد د ملت د نماينده ګانو او د ملت د وکيلانو سره د عقد او تړون پر بنسټ واخيستل شي، که پر دې بنسټ وا نه اخيستل شي هغه ناروا او حرام دی، ځکه شرعي مانع چې «بطيبة من نفسه» دی شتون لري او کله چې د تړون په پايله کې واخيستل شي نو دا د خلکو په خوښه اخيستل کېږي او روا ګرځي.

**دويم: ماليه بايد له شتمنو خلکو څخه واخيستل شي**

د دې ماليې د ټاکلو لپاره شريعت حکم کوي چې دا بايد د داسې خلکو څخه واخيستل شي چې عوايد يې له مصارفو څخه زيات وي، د فقيرانو او غريبانو څخه بايد وانخيستل شي، دا په ډېرو نصوصو کې او آثارو کې راغلي دي، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه زخمي شو د خپل شهادت څخه د مخه يې د يو اوږد حديث په ترڅ کې وويل: "أُوصِي الخَلِيفَةَ مِنْ بَعْدِي، بِالْمُهَاجِرِينَ الأَوَّلِينَ، أَنْ يَعْرِفَ لَهُمْ حَقَّهُمْ، وَيَحْفَظَ لَهُمْ حُرْمَتَهُمْ، وَأُوصِيهِ بِالأَنْصَارِ خَيْرًا، {الَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ}، أَنْ يُقْبَلَ مِنْ مُحْسِنِهِمْ، وَأَنْ يُعْفَى عَنْ مُسِيئِهِمْ، وَأُوصِيهِ بِأَهْلِ الأَمْصَارِ خَيْرًا، فَإِنَّهُمْ رِدْءُ الإِسْلاَمِ، وَجُبَاةُ المَالِ، وَغَيْظُ العَدُوِّ، وَأَنْ لاَ يُؤْخَذَ مِنْهُمْ إِلَّا فَضْلُهُمْ عَنْ رِضَاهُمْ. وَأُوصِيهِ بِالأَعْرَابِ خَيْرًا، فَإِنَّهُمْ أَصْلُ العَرَبِ، وَمَادَّةُ الإِسْلاَمِ، أَنْ يُؤْخَذَ مِنْ حَوَاشِي أَمْوَالِهِمْ، وَيُرَدَّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، وَأُوصِيهِ بِذِمَّةِ اللَّهِ، وَذِمَّةِ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُوفَى لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ، وَأَنْ يُقَاتَلَ مِنْ وَرَائِهِمْ، وَلاَ يُكَلَّفُوا إِلَّا طَاقَتَهُمْ"[161].

د خپل ځان څخه وروسته خليفه ته د لومړيو مهاجرينو په اړه سپارښتنه کوم چې د هغوی حق بايد وپېژني، د هغوی احترام وساتي، د انصارو په اړه ورته د خير سپارښتنه کوم (الذين تبوءوا الدار والإيمان من قبلهم) او دا چې د هغوی د صالح انسان څخه دې (هر څه) ومني او د هغوی ګناهکار ته دې بخښنه وکړي، په ښارونو کې د اوسېدونکو په اړه ورته د خېر سپارښتنه کوم، دوی د اسلام څخه د دفاع وسيله، د مال راټولوونکي او د دښمن د مغلوبولو وسيله دي، سپارښتنه کوم چې له دوی څخه يوازې د دوی اضافي مال واخيستل شي او هغه هم د دوی په خوښه. په کليوالو سيمو کې د اوسېدونکو په اړه ورته سپارښتنه کوم، همدوی د عربو اصول او ريښې دي، د اسلام تومنه ده، دا سپارښتنه کوم چې له دوی څخه دې د دوی اضافي او غير اصلي مالونو څخه واخيستل شي او بېرته دې د دوی په فقيرانو تقسيم شي، د ځان څخه وروسته خليفه ته د الله تعالی او د هغه د پيغمبر د عهد په پوره کولو توصيه کوم او د دې سپارښتنه کوم چې د دوی سره کړی عهد بايد پوره کړي او د دوی د موخو تر شا وجنګېږي او پر دوی د توان څخه پورته مکلفيتونه وضع نه کړي[162].

[161] - صحيح البخاري- طوق النجاة (18/5)

[162] - سره له دې چې د فعل زياتې صيغې د مجهول په صيغه ضبط شوي دي خو په ترجمه کې د فعل معروف په توګه انګېرل شوي دي.

د حضرت عمر رضي الله عنه په دې سپارښتنو کې دوه ځایه د مال اړوند سپارښتنې راغلي دي او په دواړو ځایونو کې یې دا سپارښتنه ده چې د خلکو د اړتیاوو څخه اضافي مال د خلکو څخه واخلئ او د خلکو اصلي مالونه مه اخلئ بلکې د خلکو حاشیوی او غیر اصلي مالونه له خلکو څخه د خراج او ټېکس په توګه واخلئ، له دې امله دا روا نه دي چې د خلکو اصلي مالونه د ټېکس په توګه واخیستل شي او یا د خلکو څخه د هغوی د غربت او فقر په حالت کې ټېکس واخیستل شي او له دې امله چې دا یو ډول د خیر په کار کې مرسته ده چې په اصل کې یو مباح کار دی، خو د تعهد له امله پر انسان لازم ګرځېدلی دی او د صدقې په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده چې فرمایي: "خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَأَبْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ"[163].

تر ټولو ښه صدقه هغه ده چې د شتمنۍ په حالت کې ورکړل شي او پیل له هغه چا وکړه چې د هغه نفقه پر تا واجب ده.

له داسې خلکو څخه د مالیې (ټېکس) په نوم د هغوی مالونه اخیستل چې هغوی پخپله د خپلو کورنیو د خوراک څښاک لپاره محتاج وي، ناروا او نا سم کار دی، له همدې امله اړتیا لیدل کېږي چې د مالیې (ټېکس) لګول باید د دې میدان د متخصصینو په مشوره او د ملت د نماینده ګانو په توافق سرته ورسېږي.

### درېم: د مالیې په ټاکلو کې د اعتدال څخه کار اخیستل

یو شرط دا دی چې د مالیې په ټاکلو کې د اعتدال څخه کار واخیستل شي، داسې ونشي چې مالیات (ټېکسونه) دومره ظالمانه وي چې شتمن خلک یې هم د ادا کولو توان ونلري او یا مالیات (ټېکسونه) په داسې توګه وټاکل شي چې د یو تن څخه بېلابېل ډوله ټېکسونه او مالیات د هغه د یو ډول عاید څخه واخیستل شي، څه مباشر مالیات وي او څه غیر مباشر مالیات وي او دا ځکه چې زموږ دین د دې حکم کوي چې تعدي او ظلم ناروا دی او د خلکو څخه د دومره ټېکسونو (مالیاتو) مطالبه کول او ترلاسه کول چې د هغوی له توان څخه بهر وي ظلم او تعدي بلل کېږي.

### درېم: د مالیې په راټولولو کې باید انساني تعامل رعایت شي

د دې معنی دا ده چې کله په چا باندې د هغه د وعدې او یا د تعهد او تړون په پایله کې مالیه لازم وګرځېده او هغه یې په اداء کولو ملزم هم و، خو هغه د ستونزو سره مخ شو، داسې خلکو ته شدیدې جزاګانې ورکول، هغوی په زندان کې اچول، د هغوی مالونه تلف کول او داسې نور کارونه ناروا دي، دوی سره باید په هر حال انساني تعامل وشي، امام ابو یوسف رحمه الله پخپل کتاب الخراج کې په خپل سند سره دا واقعه نقل کوي، چې د بنو ثقیف څخه یو تن وایي: "اسْتَعْمَلَنِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ عَلَى عُكْبُرَاءَ فَقَالَ لِي: -وَأَهْلُ الأَرْضِ معي يسمعُونَ- انْظُرْ أَنْ تَسْتَوْفِيَ مَا عَلَيْهِمْ مِنَ الْخَرَاجِ. وَإِيَّاكَ أَنْ تُرَخِّصَ لَهُمْ فِي شَيْءٍ وَإِيَّاكَ أَنْ يَرَوْا مِنْكَ ضَعْفًا، ثُمَّ قَالَ: رُحْ إِلَيَّ عِنْدَ الظُّهْرِ، فَرُحْتُ إِلَيْهِ عِنْدَ الظُّهْرِ فَقَالَ لِي: إِنَّمَا أَوْصَيْتُكَ بِالَّذِي أَوْصَيْتُكَ بِهِ قُدَّامَ أَهْلِ عَمَلِكَ لأَنَّهُمْ قَوْمُ خِدَعٍ، انْظُرْ إِذَا قَدِمْتَ عَلَيْهِمْ فَلا تَبِيعَنَّ لَهُمْ كِسْوَةَ شِتَاءٍ وَلا صيفا، وَلا رِزْقًا يَأْكُلُونَهُ، وَلا دَابَّةً يَعْمَلُونَ عَلَيْهَا، وَلا تَضْرِبَنَّ أَحَدًا مِنْهُمْ سَوْطًا وَاحِدًا فِي دِرْهَمٍ، وَلا تُقِمْهُ عَلَى رِجْلِهِ فِي طَلَبِ دِرْهَمٍ، وَلا تَبِعْ لأَحَدٍ مِنْهُمْ عَرَضًا فِي شَيْءٍ مِنَ الْخَرَاجِ؛ فَإِنَّا إِنَّمَا أُمِرْنَا أَنْ نَأْخُذَ مِنْهُمُ الْعَفْوَ. فَإِنْ أَنْتَ خَالَفْتَ مَا أَمَرْتُكَ بِهِ يَأْخُذُكَ اللَّهُ بِهِ دُونِي

[163] - دا حدیث متفق علیه دی وګوره صحیح البخاري- طوق النجاة (2/ 112) (مخکې په تفصیل سره ذکر شوی).

وَإِنْ بَلَغَنِي عَنْكَ خِلافَ ذَلِكَ عَزَلْتُكَ. قَالَ قُلْتُ إِذَنْ أَرْجِعُ إِلَيْكَ كَمَا خَرَجْتُ مِنْ عِنْدِكَ. قَالَ: وَإِنْ رَجَعْتَ كَمَا خَرَجْتَ. قَالَ فَانْطَلَقْتُ فَعَمِلْتُ بِالَّذِي أَمَرَنِي بِهِ، فَرَجَعْتُ وَلم أنتقص من الْخراج شَيْئا"[164].

حضرت علي رضي الله عنه زه د عکبراء په سيمه وټاکلم او په داسې حال کې چې د هغه سيمې خلکو يې خبرې اورېدلی ما ته يې وويل: گوره! په دوی چې کوم خراج دی هغه بايد پوره ترې ترلاسه کړې، په هيڅ شي کې ورسره د رخصت څخه کار وانخلې او گوره چې په کار کې در څخه ضعف او ناتواني ونه ويني! بيا يې راته وويل: ماسپښين ماته بيا راشه، ماسپښين چې ورته ورغلم، را ته يې وويل: کومې سپارښتنې مې چې د هغه خلکو مخکې درته وکړې هغه له دې امله وې چې هغوی فريب کاره خلک دي، چې هغوی ته ورغلې، د هغوی د ژمي جامې به نه خرڅوې او نه به يې د اوړي (دوبي) جامې خرڅوې او نه به يې د خوراک هغه توکي خرڅوې چې هغوی يې خوري او نه به يې د خراج د ترلاسه کولو لپاره هغه حيوان خرڅوې چې هغوی پرې مزدوري کوي، د هيڅ يو درهم لپاره به هغوی په دره نه وهې او نه به يې د يو درهم د ترلاسه کولو لپاره د جزا په توگه په يوه پښه دروې او د خراج د لاسته راوړلو لپاره به د هغوی هيڅ ډول سامان نه خرڅوې ځکه موږ ته د دې حکم راکړل شوی دی چې د هغوی څخه د هغوی د اړتياوو څخه اضافي مال واخلو، که د هغه سپارښتنو مخالفت دې وکړ چې ما درته وکړی، نو الله تعالی به يوازې تا سره حساب کوي او که ماته د دې خلاف خبر را ورسېده، نو زه دې فوراً عزل کوم، هغه ثقفي وايي: ما ورته وويل: چې داسې ده، نو زه به بېرته ستاسې خوا ته همداسې راشم لکه څرنگه چې تللی وم (يعنې هيڅ څه به د ځان سره را نه وړم) حضرت علي کرم الله وجهه ورته وويل: سره له دې چې همداسې هم راشې لکه څنگه چې وتلی وې (يعنې هيڅ هم د ځان سره را نه وړی، بيا هم بايد هغه اوامر او سپارښتنې په نظر کې ونيسې) هغه ثقفي وايي: زه ولاړم او هغه سپارښتنې مې عملي کړې چې د څه يې راته حکم کړی و او بېرته راغلم او خراج هم بشپړ و او کم شوی نه و.

که په دې توگه ماليات (ټېکسونه) ولگول شي او د ملت څخه ترلاسه شي، نو ان شاء الله چې هيڅ ډول شرعي خنډ په کې شتون نه لري، په دې توگه به د اسلامي حکومت اړتياوې هم پوره شوی وي او د شرعي محظور څخه به هم خلاص يو.

**پايلې**

د دې لنډ بحث او څېړنې وروسته په پايله کې هغه لنډې نتايج د درنو لوستونکو سره شريکوم چې د دې څېړنې په پايله کې ورته رسېدلی يم، دا نتايج او پايلې په لاندې ډول دي:

لومړی: هر هېواد خپله اقتصادي پاليسي لري، چې په دې لړ کې يو اسلامي نظام هم بايد خپله اقتصادي پاليسي ولري.

دويم: همدا راز هر هېواد او هر نظام د همدې اقتصادي پاليسۍ پر بنسټ ولاړ مالياتي سياست يا مالياتي پاليسي (Fiscal Policy) لري، چې په بنسټيز ډول په درې برخو مشتمله وي؛ لومړی: اهداف او موخې، دويم: د دولت عايدات او د عايداتو مصادر، درېيم: د دولت عمومي مصارف.

درېيم: د مالياتي سياست تر ټولو مهمه برخه چې زموږ د بحث سره تړاو لري، د عايداتو سرچينې دي او د عايداتو په سرچينو کې تر ټولو مهمه منبع ماليه (ټېکس) دی، چې زموږ د بحث موضوع ده.

---

[164] - الخراج ص 25، تأليف: امام أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري (المتوفى: 182هـ) خپرونکې اداره: المكتبة الأزهرية للتراث، تحقيق: طه عبد الرءوف سعد ، سعد حسن محمد.

دریم: یو اسلامي نظام او یو مسلمان هېواد هم باید خپله اقتصادي پالیسي ولري او د هغه پر بنسټ ولاړه خپله مالیاتي پالیسي جوړه کړي، چې د دې مالیاتي پالیسۍ تر ټولو مهم عنصر چې زموږ د بحث سره تړاو لري هغه د اسلامي هېواد لپاره د عایداتو سرچینې دي.

څلورم: په اسلام کې د دولت د عایداتو لپاره یو لړ سرچینې په ګوته شوي دي چې له دې جملې څخه یو لړ هغه دي چې ټولنیز ملکیتونه دي او حکومت او دولت له هغوی څخه خپله بودیجه تمویلوي او اسلام داسې ټولنیز ملکیتونه درست ګڼي، همدا راز دولت د خپلو اقتصادي پروژو او ثمن عام څخه هم د خپلې بودیجې د تمویل لپاره کار اخلي.

پنځم: اسلام څه نورې سرچینې هم په ګوته کړي دي، چې څه یې عادي او څه یې غیر عادي سرچینې ګڼل کېږي، د بېلګې په توګه؛ زکات، جزیه، خراج، د مستأمنینو او ذمي سوداګرو څخه اخیستل شوي عشور او داسې نور، چې له دې جملې څخه له ډېرو سرچینو څخه اوس هېوادونه استفاده نه کوي او د هغه لپاره یې سیستمونه نه دي جوړ کړي.

شپږم: د یو اسلامي هېواد د بیت المال سرچینې (د بودیجې د تمویل مصادر) په همدې کې نه خلاصه کېږي، بلکې په دې کې کمی او زیاتی راتلای شي، ځکه دا د معاملاتو له جملې څخه دي چې هغه د انساني اجتهاد میدان دی، د دې ترڅنګ د خلفای راشدینو په وخت کې په دې مواردو کې په عملي توګه زیاتوالی هم راغلی لکه د ځمکې خراج او د مستأمنو سوداګرو څخه د عشر اخیستل چې د حضرت عمر رضي الله عنه په وخت کې د اسلامي خلافت په مالي او د عایداتو په سرچینو کې ور اضافه شول، چې دا د دې دلیل دی چې دا سرچینې اجتهادي دي او کمې او زیاتی قبلوي او په دې کې نورې سرچینې ور اضافه کېدلی شي، خو په دې کې شرط دا دی چې دا اضافه شوي عایداتي سرچینې به د مال په اړه د اسلام د ورکړو اصولو سره متصادمې نه وي.

اووم: په اسلام کې د مال په اړه تر ټولو بنسټیزه قاعده چې د شریعت د بې شمېره نصوصو څخه ثابته ده هغه د بل چا په مال کې د هغه له خوښې پرته تصرف او د چا په فردي ملکیت باندې د تېري او تجاوز کولو حرمت دی، له همدې امله د مال ساتنه د شریعت له ضروریاتو څخه شمېرل کېږي، که کومه سرچینه په دې سرچینو کې ور اضافه کېږي باید چې د دې قاعدې سره په ټکر کې نه وي.

اتم: د مال په اړه د اسلام د اصولو او قواعدو څخه یوه قاعده هم د تکافل قاعده ده، چې الله تعالی په شتمنو انسان باندې په مجموع کې تکافل لازمي کړی دی، خو دا د اوسنۍ زمانې د مالیې (ټېکس) لپاره بنسټ نه شي ګرځېدلی ځکه د مالیې مصارف د ټولنیز تکافل او صدقې او خیرات د مصارفو سره تفاوت لري، همدا راز په فردي الزامیت کې هم سره په بشپړ ډول توپیر لري، ځکه خیراتونه او صدقات الزامي نه بلکې تطوعي دي.

نهم: دې ته په کتنې چې د یو اسلامي هېواد عایداتي سرچینې په هغه څه کې منحصرې نه دي چې په شریعت کې یې یادونه شوې ځکه په دې اړه د خلفای راشدینو اجتهادات شتون لري، د اوسني اقتصادي فکر سره سمه ټاکل کېدونکې مالیه هم د یو اسلامي هېواد د بودیجې لپاره د عاید سرچینه کېدلی شي او کېدلی شي چې هیڅ یو هېواد له دې پرته خپل مصارف هم پوره نه کړی شي او نه شاید هغه نور مقاصد ترلاسه کړی شي چې د مالیې له لارې ترلاسه کېدلی شي، خو د دې په مخکې یوازینی خنډ د چا په مال کې د هغه له خوښې پرته تصرف او د هغه په فردي ملکیت تجاوز دی، چې اسلامي شریعت هیڅکله هم د دې اجازه نه ورکوي.

لسم: مالیه یوازې په هغه صورت کې د یو مسلمان هېواد د مالیاتي سیاست او د بودیجوي سرچینو برخه کېدلی شي چې دا پورته مانع او خنډ له منځه ولاړ شي او دا په لاندې دوو صورتونو کې له منځه تللی شي:

۱- د اضطرار په حالت کې؛ کله چې یو مسلمان هېواد د اضطرار د حالت سره مخ شي او یا داسې حاجت وي چې د اضطرار قایمقام وي، په دې حالت کې د حرامو سره د مباحو په توګه تعامل کېږي، ځکه شرعي قاعده چې د ډېرو شرعي نصوصو څخه ثابته ده وايي: «الضرورات تبيح المحظورات»، نو یو مسلمان حاکم د هغه شرطونو په رعایت کولو چې فقهاوو یې یادونه کړې ده د اړتیا په اندازه د هغه سیمې د خلکو د مالونو څخه د مالیې په توګه اخیستلی شي.

۲- کله چې د یوې سیمې خلک وعده وکړي او یا هم عقد وکړي چې د مشخصو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره به د خپلو عوایدو څخه یوه برخه په کلني ډول دولت او حکومت ته ورکوي، نو دا وعده او عقد ملزم ګرځي او دوی د دې مالیې په ورکولو ملزم شمېرل کېږي، خو د دې لپاره شرط دا دې چې باید حکومت هم د عقد په پایله کې رامنځته شي، عقد په لیکلی بڼه د اساسي قانون په شکل کې شتون ولري، همدا راز د مالیې د ورکړې خبره هم باید د همدې اساسي قانون برخه وي او بیا د مالیې (ټېکس) کلنی عقد د خلکو د نماینده ګانو سره په تفصیلي توګه د هر کال په سر کې سرته ورسېږي، چې دا ټوله پروسه د یو مشروع حکومت غوښتنه کوي، چې خپل اساسي قانون ولري او د خلکو د نماینده ګانو یو مجلس هم ولري چې هغوی د خلکو په وکالت او نیابت د عقد او تړون د لاسلیک کولو حق ولري.

**وړاندیزونه او سپارښتنې**

د څېړنې د پایلو په نظر کې نیولو سره د افغانستان د اسلامي امارت اړوندو چارواکو خدمت ته لاندې وړاندیزونه او سپارښتنې وړاندې کوم:

لومړی: په دې کې شک نشته چې هېوادونه د خپلو بودیجوي اړتیاو د پوره کولو لپاره د مالیې بېلابېلو ډولونو ټاکلو ته اړ دي، او له دې قاعدې څخه د افغانستان اسلامي امارت هم مستثنی نه دی، خو دا کار باید د اعتدال سره په داسې توګه سرته ورسېږي چې د ټولنې په وګړو فشار وارد نه کړی شي، او یوازې د شتمنو خلکو څخه واخیستل شي، او په دومره اندازه واخیستل شي چې هغوی یې توان ولري، د داسې وګړو څخه یې غوښتنه ونه کړی شي چې پخپله په ډېرو ستونزو د خپل ځان او اولادونو لپاره نفقه پیدا کوي، اوس دا سوال چې دا کار څنګه سرته ورسېږي چې د هېواد اړتیاوې هم پوره شي او په خلکو فشار هم ډېر زیات نه وي، نو په دې لړ کې د دې څانګې اړوندو پوهانو سره مشوره کول اړین دي.

دویم: د مالیې د راټولو او وضع کولو هدف یوازې د بودیجې برابرول نه وي بلکې د هغو ټولو اهدافو د لاسته راوړلو او هغوی ته د رسېدلو لپاره ترې هم باید کار واخیستل شي چې پوهانو او علماو د مالیې لپاره ټاکلي دي.

دریم: د مالیې د راټولولو ترڅنګ د زکات نظام باید فعال کړی شي، او په هغه فقهي مذهب باید عمل وشي چې د ظاهري مالونو د زکات تر څنګ د باطني مالونو زکات را ټولول د حکومت حق ګڼي، خو د دې سره دا په نظر کې ونیول شي چې څومره زکات ترې دولت واخلي د هغه په اندازه د مالیې پیسې ورته معاف کړي، دا به له یوې لورې د زکات د فریضې ادا کولو ته خلک تشویق کړي، او له بل پلوه به په ټولنه کې د تکافل نظام تقویه شي، ځکه د زکات پیسې په نورو عامو پراختیایي کارونو کې نه شي لګېدلی، ځکه په شریعت کې د زکات مصارف مشخص دي.

څلورم: د اضطرار مالیه خو په عادي حالاتو کې د تطبیق وړ نه ده، ځکه هغه شرطونه پوره کول ګران دي چې فقهاوو د دې ډول مالیې لپاره وضع کړي دي، او له بل پلوه هغه یوه موقته مالیه ده.

پنځم: د عادي ماليې د را ټولولو لپاره باید هغه فقهي څرنګوالی برابر کړی شي چې په دې څېړنه کې پرېې په تفصيل سره خبره شوی، او لنډيز يې دا دې چې د مسلمانانو د ټولو قطري حکومتونو حکم د خلافت د حکم سره توپير لري، خو دا حکومتونه هم اړين دي، خو د رامنځته کېدو طريقه يې د خلکو ترمنځ مشوره او د خلکو موافقه ده، ځکه د حاکم ټاکل په يو لړ مواردو کې د عقد حيثيت لري (د حاکم او رعيت ترمنځ يو عقد شمېرل کېږي) او په يو لړ نورو مواردو کې د توکيل حيثيت لري، او د دې دواړو لپاره د خلکو موافقه شرط ده، د عقد لپاره د متعاقدينو رضا او موافقه بنسټيز شرط دی، او د توکيل لپاره د موکل موافقه اړينه ده، او د دې عقد د بندونو څخه يو بند بايد دا وي چې خلک به د خپلو عوايدو څخه يو مقدار ماليه دولت ته ورکوي چې د هېواد د نظام د مخته وړلو او پراختيايي کارونو لپاره ترې کار واخيستل شي، او دا عقد بايد په ليکلی بڼه وجود ولري چې دې ته اساسي قانون او يا هم بل نوم ورکولی شو، تر څو چې دا فقهي څرنګوالی برابر نه شي دا ډول ماليه اخيستل چې اوس اخيستل کېږي ناروا او د شريعت سره متصادم کار دی.

شپږم: د داسې ماليو د ټاکلو څخه بايد اسلامي امارت ځان وساتي چې په يو ډول عايد باندې څو ډوله ماليه ايښودل کېږي، ځکه دا د تجارت او صنعت پرمختګ ته زيان رسوي، په دې اړه بايد د معاصرو اقتصاد پوهانو نظر واخيستل شي.

وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

**د مصادرو نوم لړ**

دا د هغه مصادرو او مراجعو نوم لړ دی چې په دې بحث کې ترې اقتباس شوی دی، او يا ترې استفاده شوی ده، د قرآن کريم څخه پرته دا د کتابونو د نومونو په ترتيب سره مرتب شوی دی، په دې لړ کې د تعريف «ال» په نظر کې نه دي نيول شوي، او نه کتابونه د علومو پر بنسټ مرتب شوي دي، دا يو عمومي نوم لړ دی.


1. القرآن الكريم.
2. أجوبة التسولي عن مسائل الأمير عبد القادر في الجهاد، تأليف: علي بن عبد السلام بن علي، أبو الحسن التُّسُولي المالكي (المتوفى: 1258هـ)، تحقيق: عبد اللطيف أحمد الشيخ محمد صالح، خپرونکې اداره: دار الغرب الإسلامي، لومړی چاپ، کال: 1996م.
3. الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان، تاليف: محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: 354هـ)، ترتيب: الأمير علاء الدين علي بن بلبان الفارسي (المتوفى: 739 هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، خپرونکې اداره: مؤسسة الرسالة، بيروت، لومړی چاپ، کال: 1408 هـ - 1988 م.
4. الأحكام السلطانية، تأليف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (ت ٤٥٠هـ) چاپوونکې اداره: دار الحديث، القاهرة، مصر.
5. الأحكام السلطانية، تأليف: القاضي أبو يعلى ، محمد بن الحسين بن محمد بن خلف ابن الفراء (المتوفى : 458هـ) تصحيح او تعليق: محمد حامد الفقي، چاپوونکی اداره: دار الكتب العلمية - بيروت ، لبنان، دويم چاپ: کال 1421 هـ - 2000 م.
6. أحكام القرآن . أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: 370هـ)، تحقيق: عبد السلام محمد علي شاهين، خپرونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال 1415هـ/1994م.

7. الاختيار لتعليل المختار ، تأليف: عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: 683هـ)، تعليق: الشيخ محمود أبو دقيقة، چاپوونکی اداره: مطبعة الحلبي – القاهرة، د چاپ کال: 1356 هـ - 1937 م.

8. الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ، تاليف: الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْمِ بْنِ نُجَيْمٍ (926-970هـ)، خپرونکي اداره: دار الكتب العلمية،بيروت،لبنان، د چاپ کال 1400هـ -1980م.

9. أصول الدين ، تأليف: عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: 429 هـ)، چاپوونکې اداره: مدرسة الإلهيات بدار الفنون التركية-تركيا اسطنبول، لومړی چاپ، د چاپ کال: 1346 هـ ق 1928م.

10. الاعتصام، تأليف: إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير بالشاطبي (ت ٧٩٠هـ)، تحقيق: سليم بن عيد الهلالي، خپرونکې اداره: دار ابن عفان، السعودية، لومړی چاپ، کال: ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م.

11. اقتصادنا، د سيد محمد باقر الصدر ليکنه، دار التعارف للمطبوعات، بيروت لبنان، څوارلسم چاپ، کال ۱۹۸۱م ۱۴۰۱هـ ق.

12. الأموال، تأليف: أبو أحمد حميد بن مخلد بن قتيبة بن عبد الله الخراساني المعروف بابن زنجويه (المتوفى: 251هـ)، تحقيق الدكتور: شاكر ذيب فياض الأستاذ المساعد - بجامعة الملك سعود، چاپوونکې اداره : مركز الملك فيصل للبحوث والدراسات الإسلامية، السعودية، لومړی چاپ، کال: 1406 هـ - 1986 م.

**13.** البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري ، د البحر الرائق مؤلف: زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: 970هـ) د منحة الخالق مؤلف: ابن عابدين شامي، او د تکملې مؤلف: محمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري (ت بعد 1138 هـ)، خپرونکې اداره: دار الكتاب الإسلامي، دويم چاپ، ب.ت.

14. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، تاليف: زين الدين ابن نجيم الحنفي (٩٢٦هـ ٩٧٠هـ)، خپرونکې اداره: دار المعرفة، بيروت، لبنان، ب – ت.

15. بداية المجتهد و نهاية المقتصد، ليکوال: أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد (المتوفى : 595هـ)، خپرونکی اداره: مطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، مصر، څلورم چاپ، کال: 1395هـ/1975م.

16. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، تاليف: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هـ)، خپرووونکې اداره: دار الكتب العلمية، دويم چاپ، کال 1406هـ - 1986م.

17. بغية الوعاة في طبقات اللغويين والنحاة، تاليف: جلال الدين عبد الرحمن السيوطي (سنة الولادة 849هـ/ سنة الوفاة 911هـ) تحقيق محمد أبو الفضل إبراهيم، دار الفكر، دويم چاپ، کال ۱۳۹۹هـ ۱۹۷۹م.

18. تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي، تحقيق: د. عمر عبد السلام تدمري، خپرونکې اداره: دار الكتاب العربي، بيروت، لبنان، لومړى چاپ، کال: 1407هـ - 1987م

19. تاريخ المدينة لابن شبة، عمر بن شبة (واسمه زيد) بن عبيدة بن ريطة النميري البصري، أبو زيد (المتوفى: 262هـ) تحقيق: فهيم محمد شلتوت، د سيد حبيب محمود احمد په مصرف نشر ته سپارل شوى، د چاپ کال: ۱۳۹۹هـ ق، جدة.

20. التحرير والتنوير، المؤلف : الشيخ محمد الطاهر بن عاشور، دار النشر : دار سحنون للنشر والتوزيع - تونس - 1997 م.

21. تفسير أبي السعود المسمى بإرشاد العقل السليم إلى مزايا القرآن الكريم(2/ 170)، تأليف: محمد بن محمد العمادي أبو السعود، چاپوونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

22. التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد، تأليف: أبو عمر بن عبد البر النمري القرطبي (٣٦٨ - ٤٦٣ هـ)، تحقيق: بشار عواد معروف، وآخرون، خپرونکي مؤسسة الفرقان للتراث الإسلامي – لندن، لومړى چاپ، کال: ١٤٣٩ هـ - ٢٠١٧ م.

23. الجامع الصغير وشرحه النافع الكبير لمن يطالع الجامع الصغير، جامع الصغير د امام أبو عبد الله محمد بن الحسن الشيباني (المتوفى: 189هـ) ليكنه ده، او شرحه يې د مولانا محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي، أبو الحسنات (المتوفى: 1304هـ) ده، خپرونکې اداره: عالم الكتب – بيروت، لومړى چاپ، کال: 1406هـ.

24. الجامع لأحكام القرآن، تاليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : 671 هـ)، تحقيق: هشام سمير البخاري، خپرونکې اداره: دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودية، د کال 1423 هـ/ 2003 م چاپ.

25. الجواهر المضية في طبقات الحنفية، تاليف: عبد القادر بن أبي الوفاء محمد بن أبي الوفاء القرشي أبو محمد (٦٩٦هـ – ٧٧٥هـ) مير محمد كتب خانه، كراچى، پاكستان.

26. حسن المحاضرة في تاريخ مصر والقاهرة، تأليف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى : 911هـ)، تحقيق: محمد أبو الفضل إبراهيم، خپرونکې اداره: دار إحياء الكتب العربية - عيسى البابي الحلبي وشركاه – مصر، لومړى چاپ، کال: 1387 هـ - 1967م.

27. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: 430هـ) چاپوونکی اداره: السعادة - بجوار محافظة مصر، 1394هـ - 1974م، بیا یې نورو ادارو لکه دار الكتاب العربي – بيروت او دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، کاپی کړی او چاپ کړی دی.

28. الخراج، تأليف: أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري (المتوفى : 182هـ) خپروونکې اداره: المكتبة الأزهرية للتراث، تحقيق: طه عبد الرءوف سعد او سعد حسن محمد.

29. الديباج المذهب في معرفة أعيان علماء المذهب، المؤلف: إبراهيم بن علي بن محمد، ابن فرحون، برهان الدين اليعمري (المتوفى: 799هـ)، تحقيق اوتعليق: الدكتور محمد الأحمدي أبو النور، خپرونكې اداره: دار التراث للطبع والنشر، القاهرة، مصر.

30. الذخيرة ، تأليف: أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي (ت ٦٨٤هـ)، تحقيق: د محققينو يوې مجموعې، چاپوونكې اداره: دار الغرب الإسلامي- بيروت، لومړی چاپ، كال: ١٩٩٤م.

31. رد المحتار على الدر المختار، تأليف: ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ)، خپروونكې اداره: دار الفكر-بيروت، دويم چاپ: 1412هـ - 1992م.

32. السنة لأبي بكر بن الخلال (1/ 143). أبو بكر أحمد بن محمد بن هارون بن يزيد الخَلَّال البغدادي الحنبلي (المتوفى: 311هـ)، تحقيق: د. عطية الزهراني، خپرونكې اداره: دار الراية – الرياض، لومړی چاپ، كال 1410هـ - 1989م.

33. سنن ابن ماجه، تأليف: أبو عبد الله محمد بن يزيد بن ماجة القزويني (٢٠٩ - ٢٧٣ هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط او نورو، خپرونكې اداره: دار الرسالة العالمية، لندن، لومړی چاپ، كال: ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م

34. سنن ابى داود، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)، تحقيق: شعَيب الأرنؤوط او محَمَّد كامِل قره بللي، خپرووونكې اداره: دار الرسالة العالمية، لومړی چاپ، كال 1430 هـ - 2009 م

35. سنن الترمذي، تاليف: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ)، تحقيق: بشار عواد معروف، خپرونكې اداره: دار الغرب الإسلامي – بيروت، د خپرېدو كال 1998 م

36. سنن الدارقطني، تأليف: أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي الدارقطني (المتوفى: 385هـ)، تحقيق: شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، خپرونكې اداره: مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان، لومړی چاپ، كال 1424 هـ - 2004 م.

37. السنن الصغرى للبيهقي مع شرحه المنة الكبرى شرح وتخريج السنن الصغرى، محمد ضياء الرحمن الأعظمي، الناشر: مكتبة الرشد، د نشر كال: 1422هـ - 2001م، رياض، السعودية.

38. السنن الكبرى، تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، خپروونكې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات، دربم چاپ، كال 1424 هـ - 2003 م.

39. السنن الكبير، تأليف: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي (٣٨٤ - ٤٥٨ هـ) تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپرونكې اداره: مركز هجر للبحوث والدراسات العربية والإسلامية – القاهرة، لومړی چاپ، كال: ١٤٣٢ هـ - ٢٠١١ م.

40. السياسات الاقتصادية، عبد المطلب عبد المجيد، مجموعة النيل العربية، مصر، لومړی چاپ كال ٢٠٠٣م.

41. السياسات المالية، حامد عبد الحميد دراز، الدار الجامعية، الاسكندرية ـ مصر، ٢٠٠٢م.

42. السياسة المالية في ظل الاقتصاد الاسلامي، عوف محمود الكفراوي، مركز الاسكندرية للكتاب، الاسكندرية مصر، دويم چاپ، کال ٢٠٠٦م.

43. شرح الطيبي على مشكاة المصابيح المسمى بـ (الكاشف عن حقائق السنن)، تأليف: شرف الدين الحسين بن عبد الله الطيبي (743هـ)، تحقيق: د. عبد الحميد هنداوي، خپرونکې اداره: مكتبة نزار مصطفى الباز (مكة المكرمة - الرياض)، لومړی چاپ، کال: 1417 هـ - 1997م

44. شرح النووي على مسلم، خپروونکی اداره: دار احياء التراث العربي بيروت، دويم چاپ، کال: ١٣٩٢هـ ق. همدا راز القبس شرح الموطا د ابن عربي مالكي، د بدر الدين عيني د سنن أبي داود شرحه او نور.

45. شرح سنن أبي داود، تأليف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ) تحقيق: أبو المنذر خالد بن إبراهيم المصري، خپروونکې اداره: مكتبة الرشد – الرياض، لومړی چاپ، کال: 1420 هـ -1999 م.

46. شرح صحيح البخاري، تأليف: ابن بطال أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك (ت ٤٤٩ هـ) تحقيق: أبو تميم ياسر بن إبراهيم، چاپوونکي اداره: مكتبة الرشد - السعودية، الرياض، دويم چاپ، کال: ١٤٢٣ هـ - ٢٠٠٣ م.

47. شرح فتح القدير، تاليف: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي (ت 681هـ) خپرونکې اداره: دار الفكر، بيروت، لبنان.

48. شرح معاني الآثار، تأليف: بو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (ت ٣٢١هـ)، تحقيق او تقديم: محمد زهري النجار او محمد سيد جاد الحق، خپرونکې اداره: عالم الكتب، لومړی چاپ، کال ١٤١٤ هـ، ١٩٩٤ م.

49. شفاء الغليل في بيان الشبه والمخيل ومسالك التعليل، تأليف: أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (المتوفى: 505 هـ)، تحقيق: د. حمد الكبيسي، خپرونکي اداره: مطبعة الإرشاد – بغداد، لومړی چاپ، کال: 1390 هـ - 1971 م.

50. صحيح البخاري (الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه) تأليف: محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله، تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر، خپروونکې اداره: دار طوق النجاة، لومړی چاپ، کال ١٤٢٢هـ.

51. صحيح مسلم (المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم) تأليف: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ)، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، خپروونکې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

52. العالمگيرية يا الفتاوى الهندية، نشرونکی اداره: دار الفكر، د نشرېدو کال: 1411هـ - 1991م.

53. غياث الأمم في التياث الظلم، تأليف: عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (۴۱۹ هـ - 478هـ)، تحقيق: الدكتور عبد العظيم الديب، دويم چاپ، كال 1401هـ.

54. فضائح الباطنية، تاليف: محمد بن محمد بن محمد الغزالي أبو حامد، تحقيق: عبد الرحمن بدوي، خپرونکې اداره: مؤسسة دار الكتب الثقافية – الكويت.

55. الفقه الإسلامي وأدلته ، تاليف: الدكتور وهبة الزحيلي، طبع دار الفكر ـ دمشق، سوريه، څلورم چاپ.

56. فقه المعاملات المالية (المال، الملكية، العقد)، ليکوال: أ. د. محمد عثمان شبير (كلية الشريعة – جامعة قطر) چاپوونکی اداره: دار النفائس للنشر والتوزيع، اردن، دريم چاپ، كال ۲۰۱۰م ۱۴۳۰هـ.

57. القبس في شرح موطأ مالك بن أنس، تأليف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت ٥٤٣هـ) تحقيق: الدكتور محمد عبد الله ولد كريم، خپروونکې اداره: دار الغرب الإسلامي، لومړی چاپ، كال: ۱۹۹۲ م.

58. قضية الأغلبية من وجهة الشرعية، دا وړوکی رساله په لومړي ځل په كال ۲۰۱۲م کې د الشبكة العربية للأبحاث والنشر، بيروت ـ لبنان څخه چاپ شوه.

59. القواعد الصغرى (الفوائد في اختصار المقاصد) ص92، تاليف: عبد العزيز بن عبد السلام السلمي، تحقيق: اياد خالد الطباع، خپرونکې اداره: دار الفكر المعاصر , دار الفكر – دمشق، لومړی چاپ، كال ۱۴۱۶هـ ق.

60. كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون، المؤلف: مصطفى بن عبد الله كاتب جلبي القسطنطيني المشهور باسم حاجي خليفة أو الحاج خليفة (المتوفى: 1067هـ) الناشر: مكتبة المثنى - بغداد (وصورتها عدة دور لبنانية، بنفس ترقيم صفحاتها، مثل: دار إحياء التراث العربي، ودار العلوم الحديثة، ودار الكتب العلمية)، تاريخ النشر: 1941م.

61. كفاية النبيه في شرح التنبيه، تأليف: أحمد بن محمد بن علي الأنصاري، أبو العباس، نجم الدين، المعروف بابن الرفعة (ت ۷۱۰هـ) تحقيق: مجدي محمد سرور باسلوم، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ، كال: ۲۰۰۹م.

62. ما رواه الأساطين في عدم المجيء الى السلاطين (ذم القضاء وتقلد الأحكام، ذم المكس)، د امام جلال الدين السيوطي كتاب، تحقيق: مجدي فتحي السبت، خپرونکې اداره: دار الصحابة للنشر والتوزيع، طنطا- مصر، لومړی چاپ، كال: ۱۴۱۱هـ ق ۱۹۹۱م.

63. المالية العامة (۱) الايردات والنفقات، محمد خير العكام، د الجامعة الافتراضية السورية د خپرونو څخه د الكترونيكي خپرېدو كال ۲۰۱۸م.

64. المالية العامة (النظم الضريبية)، خپروونکی اداره: منشورات الحلبي، الجزائر، كال ۲۰۰۳م.

65. المالية العامة والتشريع الضريبي، د دكتور أعاد حمود القيسي ليكنه، د دار الثقافة للنشر والتوزيع د خپرونو څخه، نهم چاپ كال ۲۰۱۵م.

66. المالية العامة، فليح حسن خلف، د عالم الكتاب الحديث او جدار للكتاب العلمي، اردن د خپرونو څخه، لومړی چاپ کال ۲۰۰۸م.

67. مبادئ المالية العامة ، په ليبيا کې د «الجامعة المفتوحة» درسي كتاب، طرابلس، الجماهيرية العظمى.

68. المبسوط، تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، خپروونکی اداره: دار المعرفة – بيروت، ب. ط. کال 1414هـ - 1993م.

69. مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، تاليف: د عثماني خلافت د علماو او فقهاو د يو كميسيون له لورې تاليف شوى كتاب، نشرونكې اداره: نور محمد كتابخانه تجارت كتب، آرام باغ كراچي.

70. مختصر خليل، تاليف: خليل بن إسحاق بن موسى، ضياء الدين الجندي المالكي المصري (المتوفى: 776هـ)، تحقيق: أحمد جاد، خپروونکې اداره: دار الحديث/القاهرة، لومړی چاپ، کال 1426هـ/2005مـ.

71. مدارك التنزيل وحقائق التأويل د أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (المتوفى: 710هـ) ليکنه، تحقيق او تخريج: يوسف علي بديوي، چاپوونکي اداره: دار الكلم الطيب، بيروت، لومړی چاپ، کال 1419 هـ - 1998 م.

72. المدخل الفقهي العام، د شيخ مصطفى أحمد الزرقا ليکنه، د دار القلم دمشق چاپ، د چاپ کال: ۱۹۹۸م ۱۴۱۸هـ ق.

73. المستصفى من علم الأصول، د امام ابو حامد محمد بن محمد الغزالي (۴۵۰هـ ۵۰۵هـ)، تحقيق: حمزة بن زهير حافظ، د چاپ د تفصيلاتو نه بغير.

74. مسند أبي يعلى الموصلي، تأليف: الإمام الحافظ أحمد بن على بن المثنى التميمي (۲۱۰ - ۳۰۷ هـ) او ورسره «رحمات الملأ الأعلى بتخريج مسند أبي يعلى» هم دی، تخريج اوتعليق: سعيد بن محمد السناري، خپروونکي اداره: دار الحديث – القاهرة، لومړی چاپ، کال: ١٤٣٤ هـ - ٢٠١٣ م.

75. مسند أحمد، تأليف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط او عادل مرشد او نور ملګري يې، د دکتور عبد الله بن عبد المحسن التركي د څار لاندې، چاپوونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال: 1421 هـ - 2001 م.

76. مسند أحمد، د امام أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ) تأليف، تحقيق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، او نور، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپروونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال: 1421 هـ - 2001 م.

77. مسند دارمي مشهور په سنن الدارمي، أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد الدارمي، التميمي السمرقندي (المتوفى: 255هـ)، تحقيق: حسين سليم أسد الداراني، چاپوونکي اداره: دار المغني للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، لومړی چاپ، کال: 1412 هـ - 2000 م.

78. مصنف عبد الرزاق، أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، دويم چاپ، كال: 1403هـ ق، تحقيق : حبيب الرحمن الأعظمي.

79. المصنف، تأليف: أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة العبسي الكوفي (ت ٢٣٥ هـ)، تحقيق: سعد بن ناصر بن عبد العزيز أبو حبيب الشثري، خپرونكي اداره: دار كنوز إشبيليا للنشر والتوزيع، الرياض – السعودية، لومړی چاپ، كال: ١٤٣٦ هـ - ٢٠١٥ م.

80. معجم المصطلحات الاقتصادية، احمد زكي بدوي، دار الكتاب المصري، كال ١٩٨٥م.

81. معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية، د مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية او مجمع الفقه الدولى (منظمة المؤتمر الاسلامى) د خپرونو څخه، لومړی چاپ، كال ٢٠١٣م ١٤٣٤هـ

82. المعيار المعرب والجامع المغرب عن فتاوى أهل إفريقيا/ والأندلس والمغرب، تأليف: أبو العباس أحمد بن يحيى الونشريسي (ت 914هـ) چاپوونكې اداره: د المغرب د اوقافو او شؤون اسلامي وزارت، كال ١٤٠١هـ ١٩٨١م. دا كتاب بيا نشر او علمي تحقيق ته اړتيا لري، بې شمېره طباعتي غلطۍ په كې دي، تر څو يې نص تصحيح نه شي د درستې استفادې وړ نه دی، ځكه چا بې له اهتمام څخه چاپ كړی دی.

83. المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني، تأليف: عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، خپرونكى اداره: دار الفكر – بيروت، لومړی چاپ، كال 1405هـ ق.

84. مفاتيح الغيب أو التفسير الكبير، تاليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: 606هـ)، خپرونكې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دريم چاپ، كال ١٤٢٠هـ.

85. المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، تأليف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت ٦٧٦هـ) چاپوونكې اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ، كال: ١٣٩٢هـ ق.

86. الموسوعة الفقهية الكويتية، (د علماو د يوې لوی مجموعې له لورې ليكل شوی ده)، د كويت د وزارت اوقاف له نشراتو څخه، دويم چاپ، كال ١٤٠٤هـ ١٩٨٣م.

87. النظام الضريبي بين الفكر المالي المعاصر والفكر المالي الاسلامي، قسنطينة پوهنتون، الجزاير كې د ماسترۍ رساله، ليكواله: رحمة نابتي، تعليمي كال: ٢٠١٣-٢٠١٤م.

88. النظرية الاقتصادية، تاليف: دكتور احمد جامع، خپروونكې اداره: دار النهضة، څلورم چاپ، كال ١٩٨٤م.

89. النظم المالية في الاسلام، ليكوال: قطب ابراهيم محمد، الهيئة المصرية العامة للكتاب، څلورم چاپ، كال ١٩٩٦م.

90. وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان، أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر بن خلكان (608هـ 681هـ) تحقيق: إحسان عباس، چاپوونكې اداره: دار صادر بيروت، ب. ت.

91. الهداية في شرح بداية المبتدي، تاليف: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (ت ٥٩٣هـ) تحقيق: طلال يوسف، خپروونكې اداره: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان.

92. الهداية مع شرح العلامة عبد الحي اللكنوي د ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، كراچی چاپ.